# انګلستان د افغانستان پرضد

## د تاریخ پاڼې

Download from:aghalibrary

ACKU

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00032336 9

نفتوله خالفین

# انگلستان د افغانستان پر ضد

## د تاریخ پاڼی

PROPERTY OF ACKU 32336

د نووستی د مطبوعاتی آژانس نشراتی اداره
مسکو، ۱۹۸۰

Ketabton.com

له روسي ژبې څخه ترجمه: شاه محمود نیک

0800000000
IIIOI

© د نوونسټي د مطبوعاتي آژانس نشراتي اداره

ACKU

Ketabton.com

# د مندرجاتو فهرست

مخ


| | |
|---|---|
| مقدمه | ٤ |
| د برملا تیری په لارو | ۱۰ |
| د افغانستان پر ضد لومړنۍ جګړه | ۳٦ |
| د لومړۍ برید څخه دوهم برید ته لار | ۸۲ |
| د افغانستان پر ضد د انګلیس دوهمه جګړه | ۱۰۷ |
| د دوهمې او دریمې جګړې ترمنځ | ۱٦۲ |
| افغانستان خپلواکي ترلاسه کوي | ۱۹۷ |



ACKU

کتابخانه محبوب سراج رفیق

Ketabton.com

# سریزه

د نړیو ملي او اخبارونه، راډیوګۍ او تلویزیونی پروګرامونه ټول د افغانستان د واقعاتو د انعکاس څخه ډک دي. د ټولو هیوادو مترقي او دیموکراتیکي ټولنې د افغانستان د انقلابي قوتونو بریالیتوب په هغه سخته مبارزه کي غواړي چې د نوی ټولنې د جوړولو دپاره ئې پیل کړې ده. نړیواله ارتجاع په خپل ټول وس زیار باسي څو د دې کوښښونو مخه ونیسي.

آیا په اوسني حساس وضعیت کي د یو داسي کتاب رامنځ ته کیدل چې د افغانستان د تیری شوی زماني په باره کي هغه هم نه د ډیر پخوا څخه برحق نه وی؟ داسي فکر کیږی چې دا یوه برحقه خبره ده ځکه چې هغه پیښلي چې په دې کتاب کي څیړل کیږی له اوسنیو حقایقو سره په ټینګه تاو شوی دي. غیرتکذیبي تاریخي حقایق د دې په باره کي شاهدی وائی چې څه دپاسه یوی نیمی پیړی راهیسي د لویدیزو استعمارچیانو (او د ټولو نه مخکي د



ACKU

Ketabton.com

انګریزی استعمارچیانو) له خوا افغان دولت ته د تجزیې او اسارت خطر متوجه و په داسې حال کې چې روسیې او تر هغه زیات شوروی اتحاد همیشه د افغانستان د بوالی او ټینګښت سره علاقه درلوده.

نن هم لکه شپېته کاله پخوا (۱۹۱۹م) یو وار بیا شوروی اتحاد په داسې حال کې د انقلابی افغانستان کومک ته ورودانګل چې د امریکې د امپریالیزم د چینې تفوق غوښتونکو او د پاکستان د نظامی واکمنو او نورو سره په ګډه د هغه د خاوری تمامیت تهدیدوی. د افغانستان خلک د خپل انقلاب د ارزښتونو د ساتلو او انکشاف دپاره هلې ځلې کوی. په دې کار کې د ټولو نوو او نوو کارګری، بزګری او دکسب ګرو قشرونو له خوا برخه اخستل د افغان اولس د راتلونکې سیاسی انکشاف ضمانت کوی. دا کار ضدانقلابیونو ته سخته ضربه ده، په داسې حال کې چې شوروی محدود نظامی قطعات کوم چې د افغان دوست اولس په غوښتنه د هغوی ګټې ساتی دباندنی ارتجاع پلانونه شنډوی.



Ketabton.com

د تاریخ د درسونو څخه زده‌کړه کیږي. دا بخوانۍ هوښیاري ئې په لندن کې هېره کړې ده. هلته په ښکاره نه غواړي چې زده‌کړه وکړي. طبقاتي او نظامي - سیاسي ګټې د بریطانیې واکمنو ټولنو ته د دې امکان نه ورکوي چې د منطق له مخې او د سالم عقل سره سم د واقعي حالاتو په نظر کې لرلو سره اوضاع وڅېړي.

د انګلیس محافظه‌کار حکومت او همدارنګه د هغه مشر انډیوال د امریکې د جمهور رئیس کارټر واکمنې دستګاه د انقلابي افغانستان په نسبت ډېر خاصمانه چلند غوره کړی دی.

د بریطانیې خارجه وزیر لارډ کارینګټن داسې پلان وړاندې کوي چې په هغه کې د افغانستان د «بې‌طرفي» تر عنوان لاندې یدې هیواد ساتلې د پردیو د قیمومیت برقرارول شامل دي. سره له دې چې په څنګ کې د انګریزي استعمار د تسلط زمانه پرته لدې چې بیرته راوګرځي لا بخوا ټېره شوه، خو د افغانستان د اولسونو عقیدې او غوښتنې محترم لارډ ته د توجه وړ ندي. د کارینګټن بخوانی سلف لارډ کرزون چې د ده په څوکۍ کې کار کاوه او



Ketabton.com

د امپریالیستي سیاست منحوس ایدیالوجیست و د دې مبواد د موجودیت حق ئې په رسمیت نه پېژانده. هغه داسې ویل د معاصر افغانستان په حقیقت کې د یو لړ جغرافیائي سیمو تصادفي مجموعه ده چې د تاجسبانو د توری په وسیله او یا د ځانګړو دولتي شخصیتونو په اراده د مرکزي آسیا د زړه څخه تشکیدلې ده.[1] په تېرو شوو کلونو کې د بریطانیې محافظه کاران په هیڅ څه ونه پوهېدل او هیڅ څه ئې هم زده نه کړل.

د شوروي اتحاد هغه د وروړګلوي حمایه چې د خپل ځوان ګاونډي جمهوریت څخه ئې د هغه په غوښتنه وکړه د لندن د خاصې خواشینۍ سبب ګرزیدلې ده. هغه هم داسې حمایه د ګومې ضرورت چې هغه نااعلان شوې جګړه تائیدوي چې د افغانستان پر ضد ئې ارتجاعي طاقتونه

---

[1] C. Collin Davies. The Problem of the North West Frontier 1890–1908. Cambridge, 1932, p. 153.



ACKU

Ketabton.com

برخه بیانی چې مخصوصاً په انګریزی خاصو مؤسسو باندی تکیه لری. د انګریزی واکمنو ټولنو ضد انقلابی شورماشور د افغانستان پر شاوخوا ډېری زوری تاریخی ریښې لری. په (۱۹) پېړۍ او د (۲۰) پېړۍ په شروع کی افغان اولس ته دری حمله داسی وروپېښې شوه چې وسله په لاس د خپلی آزادۍ او خپلواکۍ ځنه د بریطانوی امپراطورۍ په مقابل کی دفاع وکړی. د بریطانوی امپراطورۍ لښکرو د افغانستان په ضد تېری کوونکی جګړې وکړلې. دا له خپلو ټولو مشخصو خصوصیتونو سره ټیپیک استعماری سیاست و لکه: دیپلوماتیکی دسیسې، ناشولته شانتاژ او د نیمه مسلح او آماده شوی اردو چپاو چې د افغان اولس پر ضد ئې سر ته ورسول. د هغې سختې مبارزې په جریان کی چې دې وطن ته په ډېرو زیاتو انسانی تلفاتو او د بې شمېره مادی وسایلو په قیمت تمامه شوه امپریالیستانو وکولای شول چې دا مملکت په نیمه استعماری حالت د څه مودې لپاره بخپله قبضه کی وساتی او د هغه اقتصادی، سیاسی او کلتوری پرمختګ وځنډوی. ولی د افغانستان اولسونو د شوروی



ACKU

Ketabton.com

روسیې د زیارایستونکو په انټرناسیونالیستي ملاتړ سره په ختیځ کې تر ټولو نه لومړی د پردیو د اسارت جغ ایسته وغورځاوه.

د دې قهرمانانه پاڅون په باره کې زموږ لنډه قصه.

ACKU



Ketabton.com

# د برملا تېرۍ په لارو

د ۱۹ پېړۍ په شروع کې افغانستان څرنګه
يو هېوادو او څه شي بريطانوي پراختياغوښتونکي هغه
ته علاقه‌مند کړی وو؟ د افغانستان د نفوسو
ټول تعداد هغه وخت د ٤-٥ مليونو په حدودو
کې و. جنوبي برخه ئې چې د غرونو د تېر په
وسيله برې شوې وه عمدتا" د افغاني قومونو
او د هغو متعدده قومونو استوګنځای تشکيلاوه
چې په هغو کې لاندې قومي ټولنو لکه دوراني
(حاکمي کورنۍ هم په هغه پورې اړه درلوده)،
غلجائي او مومند خاص ځای درلود. دورانيو د
کندهار په شاوخوا په پراخه سيمو کې استوګنه
درلوده. د هغه شمالي او شمال ختيځ لور ته د
غلات غلجائي څخه تر کابل او جلال‌آباده پورې شرقي
او غربي غلجائي مېشتنه وو. مومندو د سليمان
په غرورغو کې استوګنه درلوده چې دا سيمه د
ټولو افغانانو پلارنی ټاټوبی ګڼل کېږي. د دې
عمده هستې پر شاوخوا کې نور لا کوچني قومونه



ACKU

Ketabton.com

لکه: شینواری، تره کی، وردک، ځاځي، ځدران، منګل، کاکړ او نور اوسیږي. د افغانانو په منځ کې د قوم رهبرانو، خانانو، د قوم بانیانو او مشرانو ډېر زیات رول درلود.

د هیواد په جنوبي پېڅکو کې د بلوڅو قوم اوسېده (اوس هم هلته اوسېږي)، په مرکزي برخو کې هزاره ګان او د «چار - ایماق» د اولسونو ګروپ او په شمالي برخو کې تاجیکانو، ازبکانو او ترکمنانو استوګنه درلوده. د اوسېدونکو عمده مشغولیت بزګري او د څارویو ساتنه وه. ځینو افغاني قومونو په کارواني ترانزیت تجارت کې تخصص تر لاس کړی و او د تجارتي اموالو سره ئې اوږدې لارې د شمالي هند څخه د منځني آسیا تر سرحدونو پورې طی کولې. ښاري کسبګري او داخلي تجارت د پاملرنې وړ پراختیا موندلې وه.

افغانستان په ډېر مهم جغرافیائي موقعیت کې پروت دی. د دې هېواد له قلمرو څخه ډېره لنډه لار له هندوستان نه منځنۍ آسیا، ختیز ایران، سیین ځیان او لویدیځ چین ته غځېدلې ده. د پېړې



Ketabton.com

د شروع څخه لا پخوا دې وضعیت د بریطانوي استعمارچیانو توجه چې د هند د نیمې وچې یوه برخه ئې نیولې وه ځان ته راواړولې وه. هغوی بې له شکه د دې زرښت ډېر علاقه‌مند وو تر څو چې د خپل پرمختلونکی صنعت لپاره نوي بازارونه پیدا کړي او خپل نظامي ـ سیاسي تاثیر ته پراختیا ورکړي. پدې ترتیب افغانستان د هغوی د تېرۍ موضوع وګرځېد.

*

* *



ACKU

Ketabton.com

«د ۱۸٤۲ کال د جنورۍ د میاشتې په ۱۳ نېټه د جلال آباد د ښار د دېوالونو ترڅنګ ... یو سړی ولید چې ښکېلدلی انګریزي عسکري جامه ئې په ځان کې وه. هغه پر ډنګر آس سپور و ... او دا ډاکټر برایډن و. دی د هغو پنځلسو زرو تنو یوازنی پاتې شونی و کوم چې درې اونۍ پخوا له کابل څخه راروان شوی و. دی د لوږې څخه مړ کېده».[1]

د ک. مارکس دغه کلمات د افغان پر ضد د انګلیس د لومړۍ جګړې یوه وروستۍ پېښه څرګندوي. په لومړي سر کې جګړه داسې شروع شوه چې د ختیځ د ډېرو هېوادو انګریزي استیلاګرانو ته پوره د ډاډ وړ او اغېزمنه ښکارېده؛ ولې دوی هیڅ کله داسې تصور نه کاوه چې دوی ته شرمناکه خاتمه انتظار لري. په فیروزپور کې چې د ژورور سیند د معاون سټلیج په کینه غاړه پروت دی د بریطانیې «د اینډ لښکر» چې تعداد ئې ډېر زیات وو ځای

---

[1] К. Маркс. Хронологические выписки по истории Индии. (Л.), 1947, с. 141. (روسي چاپ) بخپله ک. مارکس خط کښلی دی.



Ketabton.com

په ځای شو. د ۱۸۴۸م کال په پای کی دا لښکر د کندهار او کابل و خوا ته وخوځېد. د دې لښکر د ملاتړ لپاره د بمبئي څخه د کراچۍ له لارې نور فوځ ورولېږل شو. دا لښکری په ډېره ښه توګه تجهیز او تربیه شوی وې؛ هغوی د برې د مارش په شکل روان وو او د "تقریباً" تښتېدلاسو افغانانو له خوا چې ښه تیاری ئې هم نه درلوده د کوم جدی مقاومت سره نه مخامخ کېدل...

له هغې زماني څخه څه کم یوه نیمه پېړۍ تېره شوه ولې تاریخپوهان، ژورنالیستان، نظامیان، روحیاتپېژندونکي د هغه ناڅاپي او اغېزمن شکست د علتونو او کیفیت سره لا هم غښتلی علاقه‌مند دی کوم چې د بریطانیې مقتدرې امپراطورۍ د افغانستان د غرونو په تنګیو کې وخوړ. دا موضوع تل په تاریخي تحقیقاتو کې شامله وی[1]. ج. آ. نارېس لږ څه پخوا په خپله جسیمه مونوګرافۍ کې دا موضوع

---

[1] Arthur Swinson. North-West Frontier. L. 1967; Pierce G. Fredericks. The Sepoy and the Cossack. N.Y.=Cleveland, 1971, etc.



Ketabton.com

روښانه کړه او همدارنګه پاتریک ماکروری هغه ته خیل کتاب وقف کړ چې په لندن او نیویارک کې په مختلفو خو برابرو مهمو عنوانونو «ښندیوه فاجعه» او «بې رحمه پلی»[1] خپور شوی؛ په دې موضوع رڼا اچولې بالاخره تر ټولو پوره د ج. کای دری توکیز اساسي اثر چې لومړی ځل په ۱۸۵۱ م کال کې خپور شو لا همدا اوس بیا او بیا چاپیږي[2]

...طبیعي ده چې د ۱۸۳۸ م کال وقایعو خپله سابقه درلوده. د انګریزانو ناوړه بې جهته تیری چې د ډېرې مودې څخه لا د هغه نقشه تیاره شوې وه عملي شو، افغانستان لا د نولسمې پیړۍ د لومړیو لسیزو څخه د انګلیسي د واکمنو ټولنو توجه د آسیا په زړه کې د لوی پای ګاه په حیث ګڼل ته

---

[1] J. A. Norris. The First Afghan War 1838-1842. Cambridge, 1967; Patrick Macrory. Signal Catastrophe (L. 1966), Te Fierce Pawns (N.Y. 1966).

[2] J. W. Kaye. History of the War in Af=ghanistan. Vol. 1-3, L. 1851, 1878, etc.



ACKU
Ketabton.com

راپورولې وه. د کوم څخه چې کولای شي د ایران، چین او هیوادونو د منځنۍ آسیا لیرې سیمو ته نفوذ وکړي. لا په ۱۸۰۹م کال کې په پېښور کې د برېطانیې استازي ماونسټیوارت الفینسټون د افغاني پادشاه شجاع الملک سره (د درانو د قوم د سدوزي څخه) نیمګړی دادلانه تړون لاسلیک کړي او چې افغانستان ئې په دې پابند کاوه چې د اوست - هند کمپنۍ پر مقبوضاتو د ایران او فرانسې د یرغل په صورت کې د انګریزانو سره مرسته وکړي. که چیرې دوه څېرې نه وای نو داسې موګملی شوای چې دا تړون حتی په هغه کاغذ چې پرې خرڅ شوی وو هم نه ارزیده. څکه چې نوموړی پادشاه د هغه تړون تر لاسلیک وروسته ډیر ژر له تخت څخه راوپرزول شو. لومړی خبره دا چې د الفینسټون سفر انګریزانو ته ددې امکانات برابر کړل څو د افغانستان باندنۍ او دننه لارې، د هیواد د سیاسي او اجتماعي قواو تناسب، د پردیو په مقابل



Ketabton.com

کې د هغه د تاب راوړلو امکانات په غور سره وڅیړي[1]. ضمناً د دې امکاناتو درسته ارزیابي هیڅکله د بریطانیې د نظامي او سیاسي ستراتیژیستانو له لاسه پوره نه شوه.

دوهم دا چې (او دا کم اهمیته خبره هم نه وه) بې پرنسیپه او لنډفکره شجاع الملک په بیړه له کابل نه لودیانې ته چې د انګریزانو هندي متصرفه وه وتښتېد. ده د دېرشو کلونو په موده کې د انګریزانو د پرېبازي د رنګ بڼه په هغه «لوبه لوبه» کې درلوده چې د افغانستان په ضد ئې تنظیملولې وه او لاس پښې ئې وهلې څو چې هغه تقاعدي پیسې

---

[1] بشپړه د هیئت مشر د «کابل د پاچاهۍ» توضیحات ورکړي چې تر ننه پورې کلاسیک شمېرل کېږي.
Mounstuart Elphinstone. An Account of the Kingdom of Caubul and its dependencies in Persia. Tartary and India, L., 1815; Karachi – L – N.Y., 1972, vol. 1–2.



Ketabton.com

هم تر لاسه کړی کومې چې د وطن دښمنانو ورته تماکلی وې. د مختلفو ډلو د مبارزې په لړ کې د افغانی فیودالی رهبرانو څخه دوست محمد خان چې د وسیع فکر خاوند او بالنرږی حاکم و وتماکل شو. دی د بارکزو له کورنۍ څخه و چې په اصل کې د درانو په قوم ورگډېږی. په ۱۸۲۶م کال کې ده په کابل کې په ټینګه د چارو واګې په لاس کې واخیستې او د مرکزی موقعیت څخه په استفادې په ورو ورو د ټول ملت د عمومی ګټو ښکارندوی او په خاصه توګه «د افغانی ځمکو غونډوونکی» وګرزېد.

د دوست محمد خان په وړاندی ډېری مهمی مسئلی موجودی وې. کندهار د ده ناسکه ورونو کندل خان، شیردل خان، رحمدل خان او پردل خان اداره کاوه. د پېښور سیمه چې د خیبر د درې له لاری د کابل سره نښلی د ده د بل ناسکه ورور سلطان محمد خان په لاس کې وه. د شجاع الملک وراره سدوزی کامران میرزا چې د



Ketabton.com

بارکزو نه بخلا کېدونکې دښمن و د هرات د چارو واګې یې لاس کې درلودې. د اوسني افغانستان په مرکزي برخه کې د هزاره ګانو ځمکې پرتې وې چې په حقیقت کې دوی په چا پورې تړلي نه وو. د آمو د سیند کیڼه غاړه د نیمه خپلواکه ازبکي، ترکمني فیودالي واکمنو تر تصرف لاندې وه په کومو چې د بخارا خاني د حاکمیت دعوا کوله.

د پښتنو سیمه چې د موسندو او نښینوارو قومونه یې اوسېدل د دوست محمد خان د خاصې اندېښنې سبب وه. د دې سیمې خوا ته د پنجاب سکانو چې په هغه وخت کې د شمالي هند مهم ځښتنلی دولت و برخمتنګ ګاوه. د دوی واکمن رنجیت سنګه چې د میړانې او شجاعت په خاطر ئې ورته «د پنجاب زمري» وایه د اوست - هندي کمپنۍ سره په خپلو اړیکو کې د دانائۍ او احتیاط څخه کار واخیست ځکه چې په هغه کې ئې وخیمه او خطرناکه قوه احساسوله. نو ځکه ده غوښتل چې خپل قلمرو د لر څخه



Ketabton.com

کمزوری مخالف یعنی افغانستان په حساب پراخ کړي او کوښښ ئې کاوه چې له هغه ځنه پېښور او کشمیر هم جلا کړي چې ښوا د افغانستان تر کنترول لاندې و.

په همین زمان کی دوست محمد خان نه شوای کولای چې د بریطانوی هند د ساحې ځنه د انګریزانو د لاس کوڅې شجاع الملک ضربه نادیده ونیسي. د ده وهم تحقق وموند. په ۱۸۳٤ کال کی ښوائی شاه چې د خپلو بادارانو په وسیله تمویلېده د اجیرانو یو باند راغونډ او مسلح کړ. تر هغه وروسته هغوی کندهار محاصره کړ او داسی ئې پښیلې وه چې د کندهار تر نیولو وروسته د کابل پر لور په مخ ولاړ شي. د کندهار والمنو په دا حمله نه وه تنبولې که چیری دوست محمد خان د دوی کمک ته نه وای رسېدلی. دې تکی د مبارزې مسیر تغیر کړ. د شجاع الملک اجیر جنګیالان وتکول شول او ده بیا په لودیانی کی خپلو بادارانو ته پناه یووړه.

له یوه پلوه وضعیت ګرکیچن شو ځکه



Ketabton.com

چې افغانانو خپله توجه کندهار ته اړولې وه او په عین وخت کې رنجیت سنګه پېښور ونیو. د دوست محمد خان لښکرې چې "عمدتاً" قومي فوځ و ښار ته نږدې د دښمن د منظم فوځ سره مخامخ شوې، ولې د دوی تر منځ جګړه ونه نښته. هکار مهاراجا د خبرو اترو په جمله خپل یو آمر د امریکائي ماجراچي جوزی هارلان سره یو ځای چې د پنجاب په قطعاتو کې ئې کار کاوه، د دوست محمد خان دربار ته واستاوه. د ج. هارلان د یو لړ دسیسو او تطمیع کولو په نتیجه کې په افغاني لښکر کې لکه چې ک. مارکس لیکلي و «د نارضایتي شروع شوه، نیمائي لښکر وتښتېد او نور په مختلفو لارو خپلو ځایونو ته بېرته ستانه شول. دوست محمد خان کابل ته راستون شو»[1].

د دې ناکامې سره سره چې په پېښور کې د سکانو د ټینګښت سبب شوه، د

---

[1] К. Маркс. Хронологические выписки по истории Индии, с. 134 (روسي چاپ)



Ketabton.com

کندهار او پېښور د پښتنو په ارتباط د
دوست محمد خان د جدي عملیاتو له برکته دی
د افغانستان عمومي سیاسي صحنې ته داخل
شو او په ۱۸۳۶م کال کې ده د افغانستان د امیر
لقب ومانه. دا په هېواد کې د ده رهبری د رول
په رسمیت پېژندنه وه. دوست محمد خان د
لاسه وتلو سیمو د تر لاسه کولو لپاره خپل
کوښښ ته دوام ورکړ او د بین المللي ملاتړ
په غرض ئې په هندوستان کې د بریطانیې
حکومت ته او همدارنګه روسیې او ایران ته
مختار استاځي واستول. د ایران واکمنې ټولنې
چې په خپلو داخلي مشکلاتو اخته وې د پېښور
لانجې ته ئې کمه توجه درلوده؟ ولی نورو هېوادو
ته مراجعې نتیجې ورکړلې. د افغانستان پایتخت
کابل ته ډېر دلچسپ خلک له ډیپلوماتیکي
وظیفو سره لاړل. د هغوی د ډلې څخه یوه
انګریز ا. برنس ته د کابل لار نوې نه وه.
... لا په ۱۸۳۰م کال کې په لاهور کې د
رنجیت سنګه دربار ته په کاچه کې بریطانوی
سیاسي نماینده پنځه‌ویشت کلنی مرستیال



1/2 15

ACKU

Ketabton.com

بریدمن الکساندر برنس د ډیپلوماتیکی وظیفې سره استول شوی وه. د ده هدف دا و چې د اباسیند ګښتنی جریان وڅیړی کوم چې په شمالی هند کی د انګلستان سیاسی او اقتصادی نفوذ آسانا وه. د دې سفر د بریالیتوب هغه پلان راضح ته کړ چې د سند او پنجاب له لاری د مسلمانو سوداګرو په څېره د آسیا په دننه کی نفوذ وکړ. په ۱۸۳۱ - ۱۸۳۳ م کال کی ا. برنس افغانستان، د بخارا خانی او ترکمنستان چې په هغه وخت کی اروپا ته ښه نه وو معلوم ولیدل، وروسته د ایران د لاری هند ته راستون شو او وروسته انګلستان ته واستول شو. په انګلستان کی ده د سفر دری ټوکیزه شرح خپره کړه چې ډېر ژر ئی د ده نوم مشهور کړ. «بخارائی برنس» د شاه ، جغرافیائی ټولنی له خوا په طلائی مدال مفتخر کړ شو، د ټولو اعیانو کورونو ته به بلل کېده او پخپله پاچا څلورم ویلیام ده ته د یو نیم ساعت مجلس افتخار ورو بانبه.

د ا. برنس نوی وظیفې ته ئې د سوداګری رنګ ورکړه شو د دوست محمد خان سره به



Ketabton.com

افغانستان کې د انگلیسي صالونو د خرڅلاو د اجازې په هکله خبرې وکړي. ولې وضع داسې وه چې ده نشوای کولای څو سیاسي مسئلې چې امیر ئې انډیښمن کړی و د هغه سره ونه خبرې. ممکنه ده چې په ۱۸۳۶م کال کې په کابل کې د ا. برنس وظیفه صرف «د تجارتي - سیاسي» وظیفه و بولو؟ البته نه، د هغه دپاره به ډېر مناسب نوم (چې ګران لوستونکي هم په هغه باور کولای شي) د سیسه ناله او لمسوونکي وظیفه وي.

په هغه زمانه کې د ۱۸۳۶م کال د مې په میاشت کې د بخارا له لارې اورینبورگ ته افغاني استازی حسین علي رسیدلی و. دی د یان ویکتوروویچ ویتکیویچ په همراهی پېټربورگ ته لاړ. سره له دې چې د لومړي برید من. ویتکیویچ عمر نژدې ۲۷ کاله و بیا هم ډېرې سرې تودې ئې ولیدلې. په څوارلس کلنۍ کې ویتکیویچ د ویلنو د ښار د لیسې له نورو پنځو تنو شاګردانو سره د تزاری استبداد په ضد د شبنامو د لیکلو په جرم عسکرۍ ته استول شوی و. تقریباً ۹ کاله ئې د اورینسک په ښار کې تېر کړل. د عسکرۍ



1/215-921
ACKU
Ketabton.com

ژوند د مشکلاتو سره سره ئې يو څو شرقي ژبې زده کړې. د اوړینبورګ اعلی حاکم و. ا. پیروفسکي وکړای شوای ده ته د صاحبمنصبۍ درجه واخلي او خپل باور ئې مقرر کړ.

د روسيې ديپلوماتيکي اداري ويتکيويچ ته وظيفه ورکړه چې د حسين علي سره افغانستان ته لاړ شي او د لومړي نيکلاي پيغام د کابل واکدار ته ورسوي. د ۱۸۳۷ کال د مې د ۱٤مې نيټې د هدايت نامې سره سم ده ته داسې هدايت ورکړ شو و چې «افغاني واکمن (په کابل کې دوست محمد خان او د کندهار کندل خان) سره پخلا کړي او ورته څرګنده کړي چې څومره به پخپله د دوی او د هغوی د ملک د امنيت په ګټه وي که چيرې دوی روغه او ټينګې اړيکې پخپلو کې سره وساتي څو چې خپل ځان د خارجي دښمنانو او د داخلي شورش څخه وساتي». تر دې وروسته د پيټربورګ استاځي بايد «دوی ته د فارسيانو د خيرغوښتنې او حمايې څخه د ګټې اخيستلو ضرورت تشريح کړي وای ځکه چې په يوازيتوب دوی د دې توان



Ketabton.com

نه لري چې د خپلو ټولو عمومي دښمنانو په مخ کې ودرېږي». همدارنګه ويتکيوېچ بايد افغاني واکمنو ته دا خبره توضيح کړي وای چې «روسيه د فاصلې د زياتوالي له کبله نه شي کولای چې د دوی سره واقعي کومک وکړي. ليکن د دې سره سره د زړه له کومې د دوی سره خواخوږي لري او تل به د فارس په واسطه د دوی څخه دوستانه دفاع وکړي». سربېره پر دې به دستورالعمل کې د روسي - افغاني سوداګرۍ له پراختيا سره مرسته هم په نظر کې نيول شوې وه.

هغه وخت چې لومړی بريدمن ويتکيوېچ به ډېره سختۍ اوږده لاره د تفليس - تهران - هرات - سيستان او کندهار له لارې تنها ووهله (څکه چې حسين علي ناروغه او به روسيه کې وځنډېد) او آخر کابل ته ورسېد ا. برنس د امير دوست محمد خان سره په آسانۍ موافقه وکړه.

د هغې وعدې په بدل کې چې انګرېزان به د پېښور په نسبت د ده د ادعا طرفداري وکړي امير دې نه يوازې و چې د انګليس سره د يوې اتحادي تړون لاسليک کړي او



Ketabton.com

افغانستان ته د انګریزی مالونو د واردلو لپاره د دوی سره مرسته وکړی. پرنس خوشحالخه ګولې. ده خیلی رهبری ته خوشبینانه راپوروونه استول او د مربوطی موافقې د لانسلیک کولو اجازې ته ئې انتظار درلود.

لکه چې معلومه شوه باتجربه او خوش چانسه اجنټ تر وخت دمخه خوشحالی ګوله. دی په خپله وظیفه کې څه ناڅه په ټګی پوهیدلی و، پداسی حال کې چې د هند انګریزی کم صلاحیته او بې ارادې ګورنر جنرال لارد اوکلاند چې د مشاورانو خاصتاً" د مخفی او سیاسی څانګی د آمر ویلیام های مکناټن تر تاثیر لاندی و هغی وظیفې ته چې پرنس ته ئې سپارلی وه بل مفهوم ورکړی و. عزت پسنده ویلیام مکناټن چې ګې شمیر ماجراغوښتونکی نقشې ئې په نظر کې درلودلې د ګورنر جنرال د ماموریتو په مرسته له امیر سره د کومې موافقې آرزو نه درلوده او د افغانستان پر ضد ئې د جګړې دپاره زمینه برابروله. او دې خبری د لندن د و. میلبورن د حکومت د پلانونو سره پوره مطابقت درلود او



Ketabton.com

ته هغه زیات د انګلیس د خارجه چارو د وزیر ګ. د. ت. پالمېرستون د خلافي وه او چې د هغو ته ګلک ملاتړ کاوه.

د ا. برنس ټول داډونه چې دوست محمد خان به هغه وخت چې د ده د برې لري خوښېښتنې به نظر کې ونیول شي د انګرېزانو وفادار متحد شي بدون لدې چې توجه ورته وشي عبث لاړل. د ۱۸۳۸ کال د جنورۍ د میاشتې په شلمه نېټه ده ته د مکناټن لیک ورسېد چې هغه د ده د خبرو اترو د نه بریالیتوب موجب وګرځېد. هغه لیکلي وو چې لارډ اوکلانډ د ا. برنس هغه وعدې چې « د افغاني واکمنو » ته ئې ورکړې وې ردوي، ځکه چې د هغه دستورالعمل سره چې ده ته ورکړل شوی و او همدا رنګه د اوست - هندي کمپنۍ د عمومي سیاست سره مطابقت نه لري[1].

هغه ښکاره درواغ وو. د بریطانیې استازي زیاتره د تر لاسه شوو لارښوونو په اساس فعالیت

---

1) Papers. East India (Kabul and Afghanistan) L., 1859, p. 111-115.



Ketabton.com

کاوه. سره لدې ئې اعلان وکړ چې ا. برنس له خپلو اختیاراتو څخه تجاوز وکړ او راتې وخوښت. مګر دوست محمد خان تر آخرې لحظې ده ته وفادار و. د خدای په امانې په لیک کې امیر ده ته داسې لیکلي وو: «زه متاسف یم چې تاسې داوړدې لارې تکلیفونه زغملي دي. ما ستاسې د حکومت څخه د بر څه هیله درلوده. د افغانستان د نیکمرغۍ لپاره ستاسې مرستې او دفاع ته امیدوار وم. بدمرغه سرنوشت زه نهیلی کړلم».

بیائې څرګنده کړه چې دوست محمد خان بوازې له منوبې ګاونډي سره موافقې ته د رسیدلو د کوششونو په پوره ناکامۍ باندې تر متیقن کېدلو وروسته له ا. و. ویتکیوېچ سره خبرې اترې شروع کړلې چې پخوا د ده پایتخت ته رسیدلی و. ده د ګوروداني په ویلو سره د لومړي بریدمن پیشنهاد د روسیې د مرستې په هکله ومانه او د ده سره ئې خپل روی محمد عظیم خان کندهار ته واستاوه څو چې د ملي واکمن سره خپلې اړیکې ټینګې کړي. په راتلونکې کې د تهران د همکارۍ د جلبولو طرح هم موجوده وه او دا روسي ډیپلوماتانو ته



Ketabton.com

د پيټربورګ څخه د ويتګلبوويچ د تګ په وخت کي همداسي ښکاربده.

نو ولي د بريطانيي حکومت دې ته د امير پوره تيارى رد کړ چي له پنجاب سره په لانجه کي د ده په موفق باندى د ټادى پوهبدلو او طرفدارى په صورت کي به د انګلستان هر ډول پيشنهاد ومني؟ خبره خو دا ده چي هغوى خپل ځان په هند کي ډېر ټينګ احساساوه. د اوست -هندى کمپنى په واسطه ئي د هند منابع په غارتګرانه توګه استثمارولى او پدې توګه کال په کال په هغه کي د ټولى انګريزى بورژوازى ګټه ون زياتېده. دې خبرى د نويو او نويو سيمو د لاندى کولو او همدارنګه ئي د استثمار او د مالونو د خرڅلاو بازار ته د اضافي ښتيرى پرګټو د جلبولو ښونښتنه کوله. هغه هم پداسي حال کي چي د ۱۸۲۵م کال څخه د انګلستان اقتصاد په منظمه توګه اضافي توليد لړزاوه د کوم چي شدت، دوام او اندازه زياتېده. د هماغه پېړى د ۳۰مو کلونو نيمائي (۱۸۳۶م کال) د ډېر لوى بحران له کبله شهرت لرى. پدې شرايطو کي د انګريزى واکمنو



Ketabton.com

ټولنو د پراختیا غوښتنې تنده نه ماتېده. د سیاست له نظره لیری هدف نه تنها د هند بلکه د هغه شاوخوا ملکونو، له هغې جملې څخه د افغانستان لاندې کول وو چې په هغه یا دغه شکل به ئې تر مطلق تأثیر لاندې وی یا په بل عبارت د انګلیس د حکومت مستعمره وی. لوی کبله لازمه وه چې د اختلافاتو د حل په ځای چې د آسیایی حکومتو ترمنځ (د افغان - پنجاب اختلاف د پېښور په مسئله) موجود وو باید برعکس هغه په هره ممکنه وسیله لا پسې نور پراخ کړی.

پدې صورت کې د بریطانیې حکمرانانو پتیلی وه چې په ورو ورو خپله ځان په پنجاب کې مضبوط کړی، تو پدې سبب مایل نه وو چې پېښور افغانستان ته ورکړل شي. سربېره پر دې د دوی د دوست محمد خان هغه فعالیت چې د افغانستان د متمرکز کولو لپاره ئې کاوه نه خوښېده، کوم چې افغانستان د اقتصادی او نظامی-سیاسی نظره پیاوړی کاوه ځکه چې هغوی افغانستان د خپلو مقبوضاتو په جمله کې تصور کاوه. هغوی ته پېره ښکاره پېچلې نقشه سنجولې وه. یو ځل بیا ئې سیاسی



Ketabton.com

«کړی» شجاع الملک صحنې ته راوست. او د ۱۸۳۸ م کال په اوړی کې «د مهاراجا رنجیت سنګه او شاه شجاع الملک تر منځ د اتحاد او دوستۍ تړون چې د بریطانیې د حکومت په خوښه او موافقه لاسلیک شوی و» رامنځ ته شو، د دې سند په اساس چې د «دریې اړخیز تړون» په نامه مشهور دی (لکه چې انګلیس تر زر په پوره توګه پکې ورشامل شول)، پنځوانی شاه چې هیڅوک او هیڅ شی نه و، تعهد کړی و چې د بریطانیې له اجازې پرته به د کوم بل دولت سره اړیکې نه برقراروي او سکانو ته د یو لړ افغانی ځمکو څخه تیر شو. د دې په بدل کې انګلستان او پنجاب وعده ورکړه چې شجاع الملک به د «نیکونو په تخت» کښېنوي.

خبره پدې کې وه چې په حیاتي ډول ناپیلی مستقل واکمن طرد کړی او د هغه په ځای ګوډاګی «شاه» چې د بریطانیې په امپراطورۍ پوره تړلی و قدرت ته ورسوي. د رټ استعماری غارت په هغه زمانه کې کاپیټالیستي دایره ماړانو د خپلو تیری کوونکو عملیاتو په نسبت د اجتماعی ټولنو د عکس العمل هیڅ پروا نه کوله. په هغه وخت



Ketabton.com

کې یوازې څینو خانګړو مترقي اخبارلیکونکو د دوی ننګونه کوله. فرانسوی سوسیالیست لوئي بلان د لندن د پلاټونو په هکله په ملنډو سره لیکلي و: «دکه چیرې واقعاً" دوست محمد خان د روسیې تنبیه ته غوږ ونیسي نو لازمه ده چې حتی یوه دقیقه د لاسه ورنه کړي شي، باید ډیر ژر د ده ملګونه ونیول شي، دی د تخت څخه راوپرزي، اسیر شي او د ده پر ځای شاه شجاع الملک په تخت کښېنول شي، کوم چې البته د خپل رعیت له خوا د تخته وغورځول شو خو د ده پیاوړی مزیت پدې کې و چې په لودیانې کې ئې د هغه مستمري معاش له برکته ژوند تېراوه چې د بریطانوی هند د حکومت څخه ئې تر لاسه کاوه، هغه داسې شخصیت و چې د هغه د اطاعت هیله کېدای شوای».

د بریطانیې واکمنو چې روحي عوامل ئې لږ څه هم په نظر کې نه نیول پیا ئې هم نه شوای کولای چې سیاسي عوامل له نظره وغورځوي. مخ کې لدې چې په افغانستان تیری وکړي دوی کوښښ وکړ چې روسیه خنثی او بې طرفه کړي. د دې هدف



Ketabton.com

لپاره د ویتکیویچ د سفر او هغه اوضاع ته چې د تزار نظامي او ډیپلوماتیکو تولنو د هرات د حکمران کامران میرزا په ضد د ایران د شاه د لښکرکشي طرفداري وکړه گټه واخیستل شوه. د انگلستان په مطبوعاتو او پارلمان کې شور ماشور جوړ شوی و چې گواکې په تهران کې د روسي سفیر ای. و. سیمونیچ ایران د هرات نیولو ته لمسوي، لکه چې بخپله سیمونیچ لیکلي دي «د زما هیواد له انگلستان سره جگړې ته جلب کړي» او د ویتکیویچ فعالیت په نتیجه کې د بریطانیې گټو ته ضرر رسوي. د هغه سیمونیچ په خبرو سره «د لارد گلان ریکارد د ۱۸۳۸ کال د مي د ٤ مې نیټې غضبناک یادداشت» د خارجي چارو وزیر و. ک. نیسلرودي ته تقدیم شو.

د تزار لومړي نیکلای حکومت و نه غوښتل چې د قوي رقیب سره مناسبات چې بخوا هم دومره دوستانه نه وو خراب کړي او گذشت ئې وکړ. ځکه چې د نژدې نتیجې په مسئله دېرې بیچلي خبرې اترې به وړاندې وې. د سیمونیچ په ځای په تهران کې دېر معتدل سړی آ. او.



Ketabton.com

دیوګامبل مقرر شو، ویتکیویچ ئې هم پیټربورګ ته راوغوښت، د ده د وظیفې د نتائیجو څخه ئې په دومره خونسردۍ انکار وکړ لکه چې اوکلاند او د ده همکارو مامورینو د ا. برنس په واسطه د حاصلو شوؤ موافقو څخه انکار وکړ. بالاخره د خارګ په جزیره کې د بریطانیې د پلوه د لښکرو کښته کیدو د ایران شاه مجبور کړ چې د هرات له محاصرې څخه لاس واخلي.

PROPERTY OF ACKU 32336

ACKU



Ketabton.com

# د افغانستان پر ضد لومړۍ جګړه

لندن چې په قاطع ډول روسیه د افغانستان په چارو کې له برخې اخستنې څخه ګوښه کړې وه د «اوست-هندي» کمپنۍ له آمرانو څخه ئې د کابل خوا ته لښکرکشي غوښتنې وه. د ۱۸۳۸م کال د سپتمبر په ۱۳ نیټه په هند کې د بریطانیې د لښکرو اعلی قوماندان دستور صادر کړ څو په شمالي سیمو کې په پوره اندازه فوځ راغونډ کړي چې د لرې سفر لپاره تیار وي. د ۱۸۳۸م کال د اکتوبر په لومړۍ نیټه په سمله کې «د محترم نائب له خوا اعلامیه» نشر شوه چې په هغې کې د افغان او انګلیس د مناسباتو تقریباً ټول تاریخ تحریف شوی و: په کابل کې د ا. برنس خبرې اترې «بې ثمره» بلل شوې وې او د دوست محمد خان پلانونه د حرمت خوښیونې په نامه کوم چې د انګلستان د منصرفاتو امنیت تهدیدوی یکي ذکر شوي وو. امیر یدې بانوی



Ketabton.com

متهم و چې گواکې په «د ډاګه» ئې گواښ کړی و چې د ډېرو اضافو د تر سره کولو لپاره به د هر چا مرسته وغني او د انګرېزي حکومت د پيشنهادونو څخه ئې په تحقيرآميزه توګه صرف نظر کړی و.

لارډ اوکلانډ په رياکارۍ سره وويل چې تر هغه وخته پورې چې کابل د دوست محمد خان تر تسلط لاندې وي په ګاونډيو ځمکو کې د آرامۍ او په هند کې د انګرېزانو د مقبوضاتو د امنيت هيڅ اميد نشته. ده اعلان وکړ چې پدې شرائطو کې انګرېزي حکومت پتيلې ده څو شجاع الملک په سرنوشت کې ګوتې ووهي، کوم چې همېشه د دوی رښتنی ملګری و. تر دې خنده آور اعلان وروسته چې ګواکې تر ټولو ښه مشاوران شاهدي ورکوي چې شجاع الملک د افغانستان په ټولو خاوندانو کې محبوبيت لري ګورنر جنرال خبر ورکړ چې «اعلیحضرت شجاع الملک» به افغانستان ته له خپلو قوځونو سره داخل شي او د خارجي مداخلې او شورش په مقابل کې به د ده څخه د برېطانيې د امپراطورۍ


Ketabton.com

لښکرې دفاع وکړي. لارډ اوکلانډ اطمینان ښکاره کړ چې رعیت او ملګرې په زور شجاع الملک پر تخت کښینوي.

د «سملې اعلامیه» د حقایقو د غلط تعبیر او په زوره سپین سترګې د بې اساسه نتیجه‌ګیرۍ له کبله یوه ګمیابه پدیده وه چې تاریخ پوهانو هم د هغې داسې ارزیابي کړې ده. «دګه چیرې هغه د جعلي سندونو مجموعه نه وای بلل شوای نو د حقایقو د زور لوده انحراف په شکل مشخص شوای وای». دا منصفانه نظریه د انګریزي مورخ ج. کای نظریه ده چا چې د ۱۸۳۸ ـ ۱۸۴۲ کلونو جګړه په ټولو زور او مفصل ډول څیړلې ده. ختیځ پیژندونکي و. و. ګریګوریف د ده سره کاملاً همنوا شوی او داسې خپل نظر ښکاره‌وي چې «د اوکلانډ اعلامیه افغانستان ته د لښکرکښۍ د عللو په هکله یو داسې سند دی کوم چې د ډیپلوماسۍ په تاریخ کې له دې اصله شهرت پیدا کړ چې د سرتر پایه د دروغو او چغلیو څخه ډک دی...». نن ورځ هم د هغې په هکله همداسې ارزیابي کیږي. پاکستاني مؤلف


Ketabton.com
۱۴۰

منور خان تائیدوي چې «په هغه وخت کې دا سند د سفسطه بازۍ او جعل حد کمال کېدای شي. د سند لومړۍ جمله هغه د شروع وړ دروغ دي ځکه چې په هغې کې ویل کېږي چې گورنر جنرال «د عالي شورا په موافقه د بریطانیې د فوځ رانولولو حکم ورکړ څو د ابا سیند ځنډه دباندې فعالیت کې برخه واخلي» په حقیقت کې عالي شورا د شوو اقداماتو په خلاف د کومو په باره کې چې ئې هغه د ده نظر هم نه وغوښتلی انگلستان ته په احترام سره اعتراض لیږلی و»[1].

«دریږ ارخیز تړون» د انگریز په متحد یعني شجاع الملک باندې د پنجاب د مهاراجا باور نښتنگ نه شوای کړای. د ژوندانه او سیاست ډېرو تجاربو رنجیت سنگه دې ته مجبوراوه چې د اوست - هندی کمپنۍ د لښکرو لپاره د پنجاب سیمه په واک کې ورنه کړي. ده په کلکه اعلان وکړ چې

---

[1] Munawwar Khan. Anglo-Afghan relations 1798-1878. Peshawar, 1964, p. 46.

ACKU



Ketabton.com

په ځانګړې توګه به د خپلې خاورې څخه د خیبر د درې او جلال آباد له لارې د افغانستان په ضد تهاجمي عملیات سر ته ورسوي. له دې موقف څخه «د پنجاب د زمري» د راګرځولو ټول کوښښونه بې نتیجې شول. د بریطانیې نظامي مشاوران مجبور وو چې تېرې په نورو لارو طرح او نقشه کاندي. د سټلیج د سیند څخه غاړې له فیروزپور څخه چیرې چې فوځونه راغونډ شوي وو، مسیر د بهاولپور، شکارپور، د بولان له غاښي او کویټې له لارې کندهار ته ټاکل شوي و.

د شجاع الملک حامیانو دې یعني د «اتحاد د ټړون» دریم ګډونګي ته وهبو کړې. ده ته ئې څلور کنډکه پیاده او دوه کنډکه سواره ورکړل چې د هغوی سره ئې د توپخانې یو بلوک هم ملګرې کړ. یوه انګریز د فورهست د دې عسکرو ماهیت چې «عمدتاً د یله ګرو او داړه مارانو (په ضمني توګه لکه د انګلستان د ټولو اجیرو فوځونو څخه برخه!) څخه عبارت وو» ډیر ښه څرګند کړی دی. ده لیکلي چې د شاه قطعات



Ketabton.com

لګه چې د بریطانیې حکومت پدې مناسبه لهجه د هغه ځخه نوم اخیستی، د انګریزی افسرانو تر قوماندانۍ لاندی و او عسکری تجهیزات ئې د بریطانوی ټولګانو څخه او پیسې ئې د هند له مستوفیت څخه اخیستې[1].

د ۱۸۳۸ کال د نومبر په ۱۵مه نېټه د «شاه لښکر» د لودیانې څخه وخوځېد او د دسمبر په دوهمه نېټه په هند کې د انګلستان د متصرفاتو له سرحد څخه تېر شو. د ۱۸۳۸ کال د دسمبر په ۱۰مه په هغه پسې عمده ضربتي قوا یعنی د بریطانوی لښکرو د بریدجنرال ویلوبی کاټون په قوماندانۍ د بنګال فرقې حرکت وکړ. د دې فرقې سره یو ځای د افغانستان راتلونکی «د ټولواک» شجاع الملک او د ټولو عملیاتو رهبری کوونکی ویلیام های مکناټن ملګری و چې د کابل په دربار کی د سفیر او مختار وزیر په توګه مقرر شوی و. د سند

---

1) G. W. Forrest. Life of Field-Marshall Sir Neville Chamberlain. Edinburgh-L. 1909, p. 20, 21.



Ketabton.com

په خپلواکه خانانو کې له بحري څخه د کراچۍ پر بندر باندې تر بمبارۍ وروسته له انګریزي بېړیو څخه په هغه ځای کې د بمبئي فرقه راکوزه شوه. دا فرقه بېرته زر د «هند د لښکر» د اساسي برخې سره یو ځای شوه. د سند او د کلات د خانانو د قلمرو د تمامیت تر ګستاخانه رنګولو وروسته پیاده او سواره قطعات د افغانستان په لور وخوځېدل...

داسې ښکاریږي چې د دې دارېدونکې تېرې انګریزي برابرونکو په ټولو امکاناتو سره هڅه کوله چې ځانونه په بوره بیه څرګند کړي. ولې دا واضح شوه چې په دې برخه کې دوی لا کافي وسایل لري. په ۱۸۳۹ کال کې د بریطانیې حکومت د دې په خوښې چې په افغانستان کې مداخله ګوندې «سپېڅلې» څرګنده کړي او اضافي «حقوقي اساس» هم ورکړي د «ښته کتاب» په نامه اثر چاپ کړ او پارلمان ته ئې هغه وړاندې کړ. په دې کتاب کې تر ډېرې مداخلې ټولې ځګیني پېښې تحریف شوي وې. یا په بل عبارت د لندن حکومت لا په لوړه سویه هغه شرموونکې عمل تکرار کړ، د کوم په وسیله چې د هند ګورنر جنرال خان ته «دښمن نوم وموند». کارل



Ketabton.com

مارکس لیکلي وو چې «د په افغانستان تېرې د پال‌میرستون له خوا یدې دول تېرېده شوې و چې گویا سر ا. برنس مشوره ورکړې وه چې د هغه ځه په منځنۍ آسیا کې د روسیې د دسیسو په ضد د بوې وسیلې په توگه کار اخیستل شي. لیکن لکه څرنگه چې معلومېږي ا. برنس برعکس فعالیت کړی او په همدې سبب د دوست محمد خان سره مرستې کولو ته د ده تولي بلنې د پال‌میرستون په «دښمنه کتاب» کې ببغې نه دي یادې شوې. بر سبېره پر دې مکاتبې ته د تحریف او جعل‌کارۍ په وسیله داسې مفهوم ورکړ شوی و چې د لومړي مفهوم سره ئې پوره ضدیت درلود»[1] په بل ځای کې ک. مارکس ثابتوي چې: «د پال‌میرستون لومړی جگړه د افغانستان سره جگړه وه چې د پارلمان د تصمیم نه پرته شروع شوې وه او د هغې د تېرېده کولو لپاره د جعلي اسنادو څخه کار اخیستل

[1] К. Маркс. Новая китайская война. К. Маркс и Ф. Энгельс. Соч. т. 13, с. 539. (روسي چاپ)



Ketabton.com

نشوی وه".[1]

د هغه په هکله لوئی بلان شاهدی ورکوی چی «... لارد اوکلاند پتیلی وه چی افغانانو ته داسی حکم ورکړی چی انګریزانو ته پوره مسئولیت ولري او د دوی غلام حلقه به گوش وی... او د دې لپاره د بریطانیې حکومت د کامې په تحت‌اللفظی مفهوم په تقلب او جعل کاریځ لاس پوري کړ. په ۱۸۳۹م کال کی «د افغانستان په باره مکاتبه» له داسی انحرافاتو سره د دولت له خوا د پارلمان دپاره چاپ شوه هغه مستقیما" داسی سنجول شوی وو چی پارلمان په هغه باور وکړی: لومړی دا چی گوندی دوست محمد خان د انګریزانو په ضد د روسیې په گټه دسیسه‌کاری کوی او' دوهم دا چی دا خبره د الکساندر برنس د فوری لیکونو

---

[1] К. Маркс. Лондонская газета «Times» и лорд Пальмерстон. (روسی چاپ)
К. Маркс и Ф. Энгельс. Соч., т. 15, с. 382
(روسی چاپ) ک. مارکس بچیله خط کښلی دی.



Ketabton.com

په اساس تائيدېږي».[1]

هغه ناوړه مضحک او مسخره نمایش چې په لندن کې ئې تمثیل کړ له هغې تراژیدۍ سره متصادف شو چې د مضحکې ختیځ د ډرامې له فعالو څېرو څخه یو تن په پیټربورګ کې په هغې کې په بلا اخته شو. د ۱۸۳۹م د مې د میاشتې په نهمه نېټه د «پاریس» په نامه په محلي هوټل کې د یا. و. ویتکیویچ مړی پیدا شو، او هغه مواد چې د دوامدار مسافرت څخه ئې له ځانه سره راوړي وو له منځه وړل شوي وو. او یا غلا شوي وو؟ د روښانه تصور لپاره باوري اطمینان چې د «پاریس» د هوټل د کړلي اطاق دننه څه پېښې شول، زموږ سره نشته. آیا نوموړی

[1] لوئي بلان. «د انګلستان په هکله لیکونه». ۵۲-۵۳ مخونه. د دې لیکونو د تحریفولو او جعلي کولو په شاوخوا کې جنجال او د ا. برنس د خپلوانو اعتراضونو د بریطانیې حکومت په ۱۸۵۹ کال کې مجبور کړ چې «دشنین کتاب» د سره نشر کړي او اساسا" د خبرو شوو سندونو اصلي متن تجدید کړي.



Ketabton.com

مایوسه نشوی وی چې حکومت ونه توانیدل چې د
ده د دومره مشکلی خوکامیابانه وظیفي له تمرو
څخه استفاده وکړی او د دې مایوسۍ له لاسه
ئې ځان وژلی وی؟ دا ممکنه ده. د ځان وژنې
د تعبیر په گټه د لومړی بریدمن لیک چې تر
مرگ دمخه ئې لیکلی یادولی شو.

لیکن د بله پلوه دا لیک تر موږ پوری د
کاپۍ په شکل رارسیدلی چې د اعتبار وړ سند
نه شی گڼل کیدای. برسیره پر دې مشهور
حتیځ پېژندونکی ن. و. خانیکوف چې یا و. ویتکوویچ
ئې له نږدې پېژانده او «حقیقی و چې بخپله د
ده په مرگ کې د ده د پلان نه بریالیتوب چې
مستقیماً» د دې څخه سرچینه اخلی چې د
خارجی چارو وزارت د ده څخه بیزاره شو سنز
رول لوباوه»، سمدستی ئې بیمی مخالف د
توجه وړ حقیقت راوړی و. دا د توجه وړ ده
چې د ځان وژلی شخص د شیانو په لیست
کې چې د محلی کوتوال له خوا ترتیب شوی وو
او په آسیائی دیپارتمنت (دفتر) کې ساتل شوی
دی تفنگچې معلومی نه شوی!!» د لومړی بریدمن



Ketabton.com

د اجباری مرگ احتمال له امکان څخه لری ندی ځکه
چی د ده دیپلوماتیکی باروبونه خورا ډیره مهمه وه...
د آسیاتی څانگی آمر ل. گ. سینیاوین د داوړل
شوو سندونو د منځه تلو په خاصه توگه ناآرامه
ګړی وو. «د د دومره لایق منصبدار د لاسه ورکول
تر هر څه زیات لویه ضایعه چی ده خپل هغه
یادداشتونه او سندونه چی د ده سره وو له
منځه یوړل. کوم چی کابل او کندهار ته د ده
په سفر پوری اړه درلوده». دا د سینیاوین
دیوگاصپل ته لیکلی وی.

... په هغه زمانه کی په کابل او کندهار
ئی د بریطانیې تعرض خپلی پراختیا ته ادامه ورکوله
تورن جنرال جان کین چی د بمبئی له فرقی سره
د کراچی څخه راغلی و او د بمبئی د فرقې قوماندانی
ئی په غاړه درلوده د بریدجنرال ویلوبی کاتون څخه
عمومی قوماندانی پر خپله غاړه واخیستله. هغه
لښکر چی د افغانستان په لار روان وو د سند
او کلات ځمکی ئی بربادی او ویجاړی کړلې. هغه
منصبداران او حتی افراد (خاصتاً انگریز) چی د
اوست - هندی کمپنئ په اردو کی ئی خدمت کاوه



Ketabton.com

د نوکرو بوی لوئی سورلیو بدرګه کول چې د نوکرو تعداد د بادار په رتبه پورې مربوط و، او که چېرې د هغه لښکر د جنګیالیو ټولګی چې د دوست محمد خان د ځینو ایښتلو لپاره لېږل شوی وو د لښو څخه ترپنځلسو زرو تنو په شاوخوا کې و نو په هغه صورت کې ئې عمومی تعداد د لوی څخه تر سلو زرو تنو پورې رسېده. سربېره پر دې د دوی تر شا ګڼ شمېر کوچنی تجاران، هټکرین، سودخواره، لوبې ماران، جلابان او داسې نور روان وو. دا ټوله ګڼه ګوڼه چې په حرکت کې وه، ځوک پلی، ځوک په اسونو، اوښانو، خرو، غاتړو او حتی په فیلانو سپاره وو. دوی ته لازمه وه چې څه خو وخوری، چېری خو بیده شی، او د حیوانانو لپاره شوجه پیدا کړی. ځکه دې ډلی لکه د بی‌شمېره ملخو د سیلۍ په شان سیمه تالا کړه.

امیر به د اوسټ - هندی کمپنۍ د مسلکی فوځ په مقابل کې د کومو قواوو څخه کار اخستلای شوای؟ ا برنس او د ده سره ملګرو بریدمنانو لیچ او ووډ، دوکتور لارډ، د «تجارتی هیئت» سکرتر موهن لال په افغانی ځمکو کې پوازې په ډیپلوماتیکو څېړو اتو بوخت نه و. دوی په هېواد کې ډېر ورګډ بدل څېړو اتو د معلوماتو د



ACKU

Ketabton.com

راغونډولو په نسبت ډېر لږ وخت نيوه. په هر حال حتی د هغوی له هغو راپورو څخه چې د بريطانيې دولت ورکړای شوای هغه نشر کړی ، لوی جلد جوړ شو[1]. هغه د افغانستان اقتصادي او سياسي کمزوری ډېره ښه سنجولی وه. سربېره پر هغه انګرېزانو د امير دوست محمد خان د قوځ په هکله دقيق معلومات درلودل. ا. برنس لا پخوا د ۱۸۳۷م کال د دسمبر په دريمه نېټه له کابل څخه تحريری راپور مکناټن ته ليکلی وو چې د همدغه کال د نومبر په ۲۶ نېټه پوری ئې اړه درلوده، د کوم څخه چې څرګنده وه چې امير ۲۵۰۰ تنه پلی عسکر، ۱۲-۱۳ زره سپاره او

---

[1] Reports and Papers, political, geographical and commercial submitted by sir A. Burnes, B.N.J., Lieutenant Leech, Bo. E; doctor Lord, Bo. M.S.; and Lieutenant Wood, J.N.; employed on Missions in the years 1835-1837 in Scinde, Afghanistan, and adjacent countries. Calcutta, 1839.



Ketabton.com

۴۵ توپونه لري[1]. او تر یو نیم کال وروسته ا. برنس د ۱۸۳۸م کال د جون په ۱۹ یا ۲۰مه نېټه خپل آمر ته معلومات ورکړل چې دا فوځ به لکه څول افغان اولس د شجاع الملک پر خوا راواوړي. سره له دې چې انګرېزي سیاسي او نظامي رهبرانو د افغانستان له خوا د کوم جدي مقاومت هیله نه درلوده بیا ئې هم افغانستان ته خپل پټ اجتماع واستول ترڅو چې معتبر او متردد رهبران تطمیع کړي او دوست محمد خان د دوی د ملاتړ څخه محروم کاندي.

ویلای شو چې د زړو او آسانه برې د تر لاسه کولو لپاره د هیڅ شي څخه هم نه وو اړول شوي او کېدای شواي چې څوانې ملکې ویکتوریا چې څه موده پخوا ملکه شوې وه زړو د نوي تابع شوي دولت په مناسبت مبارکي ورکړې شي. کاروونه څول په ښه توګه پرمخ تلل، د فرصت څخه په استفادې سره د برېطانیې حکومت په

---

[1] Papers, East India (Cabul and Afgha-nistan) L., 1859, p. 66-72.



ACKU

Ketabton.com

«ضمنی» توګه د سند اسیران مجبور کړل چې هغه اسارت امیزه تړون قبول کړي کوم چې دوی په انګلستان پورې تړل، په عملي توګه ئې د کلات خانی تسخیر کړه او د هغې واکمن محراب خان ته ئې وظیفه ورکړه چې مداخله کوونکو لښکرو ته خوراکي مواد او د حمل و نقل وسایل برابر، او ارتباطات ئې تأمین کړي. ځکه چې ا. برنس چې د هر لوبښې مچ وو، د دې کاروانو د خبرو اترو په ترڅ کې د کلات د خان سره ده نه خبر ورکړ چې انګریزی - هندي قوځ لا دمخه په افغانستان تیری کړی، محراب خان چې بخپل عمر کې ئې ډېر څه لیدلي وو، په حیرانتیا سره وریځې پورته وغورځولې. ده ناری کړی «تاسی دې هیواد ته داخل شوی؟ - دا ډېر ښه ده. مګر تاسی به د هغه ځنځه ځنګه بېرته راوځئ؟!»

پرغلګرو د ۱۸۳۹ م کال د اپریل په پنځه وېشتمه بې لدې چې د کوم مقاومت سره مخامخ شي د افغانستان پخوانی پایتخت کندهار ونیو د کوم ښځه چې د هغه واکمن تښتېدلي وو. د انشغالګرو فعالیت همغسې د دوانخو سره



Ketabton.com

ملګري وو. مکناټن اوګلاند ته او هغه په خپل وار لندن ته د افغانانو له خوا د شجاع الملک د ناوړه هرکلي خبر ورکړ، که څه هم د يوې تطميع شوې ډلې ميوه الانو څخه پرته، هيڅ د وطن فروش سره سروکار نه درلود. انګريزي منصبداران په سرو دريشو کې چې په طلا سره ښکلې شوي وي د ده وکيلي خوا او ښۍ خوا ته ګې څو تنه د ده افغاني پيروان چې ځيرې جټلې او خرابې جامې ئې اغوستې وي ولاړ وو. د کندهار څخه څو افغانان چې تعداد ئې تر سلو تنو زياد نه وو راغلي وو تر څو چې د دې نمايش ننداره وکړي. ولې د دوی په ضمن د بې دسته مداخله ګرو په ضد چې د دوی وطن ئې نيولی وو يو خبر اوريدل شوي وو. په دې ډول د. فورپست ښار ته د شجاع الملک ننګ تمثيل کړی دی. دلته د بريطانيې د لاس ګټوی د تاج ايښودنې مراسم تر سره شول او تر هغه وروسته ئې د مکناټن سره هغه موافقه لاسليک کړه چې په هغې کې په افغانستان کې د ده د بادارانو د قوځ دائمي پاته کيدل او د دې دولت په خارجي روابطو د انګريزانو کنترول شامل



Ketabton.com

وو. د ۱۸۳۹ کال د جون په میاشت کې تجاوزګران د کابل په لور وخوځېدل، غلزائي کلات ئې ونيو او د جولای په میاشت کې د غزني د ټينګې کلا دېوالونو ته ورورسېدل. د يوه شاهد د شاهدۍ سره سم تر دې مخکې دوی په آرامۍ سره مخ په وړاندې خپل مارش ته دوام ورکاوه او ځان ته ئې د طلا د زړه وړونکې دلربائۍ په واسطه لاره خلاصوله.

ولې امیر دوست محمد خان څه شو؟ د تګماړو، سیاسي چالاکو غچ‌چیانو څخه تښتښتېدلی صادق سړی دوست محمد خان تر اخرې لحظې پورې په افغانستان د بې‌موجبه تېرې مخه نه شوای کولای. ده هیڅکله جګړه نه غوښتله او هغې ته تیار هم نه وو، او ده ونه شوای کولای چې یو ښښتلی منظم لښکر جوړ کړي. امیر هغه وخت په خپله خطا وپوهېده چې ډېره ناوخته وه. ضمناً که ده دمخه هم د تهدید جدیت څېړلی وای نو وضع به ډېره آسانه شوې نه وای.

د کندهار او غلزائي کلات تر سقوط وروسته دوست محمد خان تصمیم ونیو څو خپل لښکر چې



ACKU
Ketabton.com

تعداد ئې دومره ډېر نه وو، په ټلورو برخو وویشل. د یوې برخې سره ئې خپل مشر زوی اکبر خان هڅېږو نحزنیو درو ته واستاوه تر څو د پېښېنور له خوا دښمن ته بندېزونه پیدا کړي. د بلې ډلې سره دی په پایتخت کې پاته شو. دوه نور ټولګي د ده د زامنو حیدر خان او افضل خان په مشرۍ د غزنۍ خوا ته واستول شول. د حیدر خان وظیفه دا وه چې دا له تسخیرېدونکې کلا وساتي. که چېرې انګرېزان هغه ونکړي چې هغه احاطه کړي نو حیدر خان باید دوی ته د ښا د لوری ګذار وکړي او هغه وخت افضل خان وظیفه درلوده چې دوی ته شاه ګذار ورکړي.

د دوست محمد خان پلان د ستراتیژیکي زورتیا څخه لیری و مګر هغه پدې سبب نه بلکه یوازې د وطن پلورني له کبله ناشهړ شو. د ده ورارو عبدالرشید د شجاع الملک پر خوا شو او انګرېزانو ته ئې د غزنۍ د مدافعي سیستم افشاء کړ. برسېره پر دې حیدر خان او افضل خان په خپلو کې سره شخړه وکړه او و ئې نه شوای کړای چې متفقانه مقاومت تنظیم کړي. کله چې انګرېزانو د مقابل



Ketabton.com

لوري د استحکاماتو نامحفوظ ځایونه وچول نو ښار ته ئې حمله وکړه او د توپونو د اور په وسیله ئې د هغه د مدافعینو حملې وتکولې. د غزني سقوط د دوست محمد خان روحیه ښځې ضعیفه کړه. ده د ښار د دفاع د برابرولو لپاره هیڅ همنه ونه کړه او تیری کوونکو ته ئې خبر ورکړ چې دې ته چمتو دی چې حکومت شجاع الملک ته خوشې کړي او بخیله د هغه د وزیر په توګه ورسره کار وکړي. په ځواب کې ورته وویل شول چې دی باید د بندي په توګه تسلیم او وروسته هند ته واستول شي. هغه وخت امیر د خپلې کورنۍ او یوه ډله اطرافیانو سره کابل ترک کړ او د شمال خوا ته وخوځید. د ۱۸۳۹ کال د اګست په میاشت کې اشغالګرو د خپل لاس ګتوی سره یو ځای ښار ونیو. د انګریزانو د ځمو سره سره چې څونښتل ئې دي پیښنې ته د خوشحالۍ، شان او شوکت رنګ ورکړي، هغه ډېره د جنازې د مشتولو مراسمو ته ورته وه، نه هغه پیښنې ته لکه چې یو پادشاه د خپلو ببرته تر لاسه شوو ځمکو پایتخت ته ستنیږي. د پنجاب نظامي ټولګی د خیبر او جلال آباد له لارې کابل ته راورسید.



Ketabton.com

اوس نو «دخاص استاځي او مختار وزير»

و. هـ. مکناټن شجاع الملک مجبور کړ څو هغه نوې موافقه لاسلیک کړي چې د هغې په اساس د شاه تر څنګه باید د دولتي کارونو په هکله یو انګریزي دائمي مشاور موجود وای. په دې ډول اشغالګرو حتی د افغانستان په داخلي ژوند خپل کنترول قایم کړی و. ا. برنس د کابل والي مقرر شو او د بریطانیې فوځ د کابل په ګارنیزون کې ځای په ځای شو. لیکن د امیرکه په دربار کې د شجاع الملک بې رنګه او بې پرنسیپه شخصیت له دې ټولو پیښو سره لره علاقه درلوده. د ده حامیان امیدواره وو څو د« بین المللي ټولنو د په رسمیت پېژندولو » په وسیله خپل تیری کوونکي عمل تبرئه کړي او د کابل پر تخت د خپل لاس ګوځي حیثیت اوچت کړي. لارد اوکلاند لندن ته داډ ورکاوه چې د دوی له لاس ګتوی سره به د بخارا امیر او د کندوز خان دوستانه اړیکې قایمې کړي.

بریطانوي حکمروایانو هغه ګوله چې د برچې او طلا په زور د خپل نفوذ لاره د افغانستان



Ketabton.com

نورو برخو او صحرارنګه د آمو د سیند غاړو او د منځنۍ آسیا لیری برخو ته وغځوی. د ۱۸۳۹ م کال د جولای د میاشتې څخه رایدې خوا په هرات کې کپتان الیوت د ارسی تود ځای په ځای شو. نوموړی په ګاونډیو ملکونو کې د تخریبی فعالیتو په تنظیمولو مشغول وو، ده د کامران میرزا سره داسی تړون لاسلیک کړ چې کامران میرزا د پنځه ویشتو زرو روپو په بدل کې د هرات خارجی سیاست د انګریزانو په واک کې ورکړ. په بخارا، خیوا او کوکند د افغانستان د تسلط د پراخنیا لپاره افسران د. آبوت، ر. شکسپیر، ج. ستودارت او آ. کونولی دغو ځایونو ته استول شوی وو.

اشغالګرو وکولای شوای چې د پوره بری جشن ونیسی. دوی د افغانستان د قانونی امیر په ځای چې د دوی خوښی نه و خپل لاس کتوی رامنځ ته کړ او د هیواد ټمره ښاررونه، کلی او لاری ئې ساتلی او د راتلونکی پراخنیا لپاره ئې جدی مقدمات برابر کړل. لیکن ډیر ژر څرګنده شوه چې ټول حالات څوڅو ځله پیچلی دی او



Ketabton.com

دومره خوشحالونکی نه ښکاري لکه چې د بریطانیې نظامي ـ سیاسي ستراتیژیستانو تصور کاوه. افغاني تاریخپوه احمد علي کهزاد په پوره اساس ثابتوي چې د شجاع الملک حکومت په حقیقت کې باید د انګریزانو له خوا د افغانی ځمکو نیول ویولو او دا تولو ته څرګنده وه چې منفور پاچا هیواد د پردي فوځ په کومک اداره کوي، پداسې حال کې چې خلک د زړه له کومې غوښتل چې د خپل تحریک لاري چاري پیدا کړي [1].

حقیقتاً په ټولو ځایو کې د نیول شوو ښارونو او کلیو اوسېدونکو په هغه وار خطائیز باندي غلبه کوله چې د ناڅاپي حملې په اثر ورته پیدا شوې وه. بمبیله تیري کوونکو هم د دې سره مرسته کوله «د جګړې خوب جګړه وه». د تیري کوونکو فوځونو قوماندانانو خوراکي مواد، د حمل و نقل وسایل، استوګنځي ضبطول، او همیشه ئې د ضبط شوو

---

1) Ahmad Ali Kohzad. In the High Light of Modern Afghanistan. «Afghanistan», 1957, №4, p. 46.



Ketabton.com

شیانو پیسې هم نه ورکولې، هو کی هلته یه پیسې چا څه کړې وای چې د هغو په وسیله هیڅ شی هم تر لاسه نه شی کړی؟! هغو خپلسرو عسکرو چې دسپلین ئې ډېر سست و په «درسمي» غارت قناعت نه کاوه او بې حده داړه ماریو او لوټماریو ته ئې لاس اچاوه. په نیول شوو سیمو کی لوږه او ناروغۍ خپرې شولې.

آزادی غوښتونکو افغانانو او د هېواد نورو اولسونو وسلې ته لاس واچاوه. او په افغانستان کی چیری چې هر سړی د کوچنیوالی څخه د آس د سورلی او د ټوپک استعمال زده کوی، دې وضع انشغالګر له جدی خطر سره مخامخ کړی وو کوم چې دوی تر پایه لا نه و درک کړی. پدې توګه کی حقیقی جګړه فقط شروع شوې وه... د انشغالګرو له سپین سترګو او بې حیائی څخه ضعیفه کرکه ورو په ورو زیاتېده چې نتیجه ئې په دوی باندی مېنکاره شبخونونه وو. په لوړی سر کی د دې شبخونو هدف انګرېزی د اراپو قافلې وې. همدا رنګه په ځانګړی توګه په منصبدارانو او انګرېزی عسکرو چې یا وروسته پاته شوی وو او یا د خپلو قطعاتو څخه جلا شوی



Ketabton.com

وو داسې بریدونه کېدل. وروسته ځانګړې ، ټله تا ټله خوځېدو دی، بریدونه چې د مختلفو تصادفي او اتفاقي عواملو په اساس په تېرې کوونکو کېدل په پراخو، تېبو آماده شوو او منظمو بریدونو بدل شول. لا د ۱۸۳۹م کال په اوړي کې د غلزائي کلات په شاوخوا کې د پراخ قیام اوربل شوی و. دا قیام په دغه ځای کې د انګرېزي کوټ د جوړولو په ضد شوی وو. ل. جمبرلین چې د اشغالګرو له ډلې څخه و په بې حیائۍ سره د سیمه ایزو عملیو د کړکي علت تشریح کړی ، دا چې دوی د دې څخه ډارېږي و چې د برېطانوي استحکاماتو د جوړېدو په صورت کې به دوی خپله آزادي له لاسه ورکړي.

سره له دې چې دا برید ونکول شو، بیا هم غلزائي کلات د افغاني وطن پالونکو د آزادي پسنونکې مبارزې ډېره مهمه منبع وګرځېده. د ۱۸۳۹م کال د سپټمبر په میاشت کې د کلات د شمال خوا ته، د کابل او غزني په منځ کې وطن پالونکو د انګرېزانو د بدرګې لوی ټولګی ته ماتي ورکړه او د هغوی قوماندان ډګروال هېرینګ ئې ووازه. د خلکو د شورش شدت ورځ په ورځ خیل اوج ته



Ketabton.com

رسېدو، په هېواد کې پارتیزاني جنبش پراختیا موندله. د تېرو کوونکو مواصلاتي لارو ته دائمي تهدید لاندې وې. د ۱۸۴۰ م کال په پسرلي کې پله‌جاربانو د کابل - کندهار ډېره مهمه شاهراه خوندي کړه د کومې د لارې چې د پایتخت د ګارنیزون ضروريات تأمینېدل. د لارې په اوردو کې ډېرې سختې نښتې وشولې. انګرېزان مجبور وو د نښتو ځای ته نوي او نوي کومکي قواوې واستوي، مګر دوی وکړای شوای پر اوضاع حاکمیت وموسي او هغه هم د ډېر لنډ وخت لپاره چې د نوبونو ځمنه ئې کار واخیست. مکناټن هڅه وکړه څو د غلجیو مېوډالي مشران د پیسو په وسیله تطمیع کاندي، ولې پداسې وضع کې چې اولس تحریک شوی و د ده دا کوښښ ناکام شو. د پیسو بوربو باید هغه څه سر ته رسولي وای چې برچو شروع کړي وو. دا د یادو شوو وقایعو په باره کې تبصره د د. کې وه. خو نه برچو او نه د پیسو بوربو وکولای شوای چې دا توریالی قوم آرام کړي.

د بریطانیې پر ضد د جنبش لمبه په ډېرو مختلفو سیمو کې پراخه شوه. د کلات په خانیه کې د بلوڅو پارتیزانانو د دوهم بریدمن کیلي قولګې له



Ketabton.com

صنځه یووړ، په عمومي توګه د کلات ښار ونیو او هغه اشغالګر ئې چې هلته پراته وو پوپناه کړل. کاکړو کوټې ته چې د لارو ډېر مهم مرکز و خطر متوجه کړ. د هغې محاصره فقط هغه وخت خلاصه شوه چې هلته ئې اضافي قواوې ورواستولې.

ولې عمده تهدید شجاع الملک او د ده بادارانو ته د هېواد د شمال له لوري متوجه و، هلته امیر دوست محمد خان قواوې راغونډې کړې وې. د ۱۸۴۰م کال د سپتمبر په میاشت کې ده د پښتنو، تاجکو، ازبکو، هزاره وو درلود او تر هغه وروسته بامیان ته ورخوځېد، هلته ئې د تېري کوونکو ځکیني ټلي مجبوري کړلې چې د سیغان خوا ته مخه کړي. د امیر د جنګیالو راتږدې کېدل د ده شاه په قطعاتو کې» د پښتنو عسکرو د قیام امکانات برابر کړل چې د خپل قوماندان صالح محمد خان سره یو ځای د ده لور ته ورغلل. او بیا په ډېره چټکۍ سره د جنګ میدان ته د توپونو سره یوه لوا واستوله شوه چې انګرېزانو ته ئې د دې امکان ورکړ چې د څو مودې لپاره وضعیت ټینګ کړي. لیکن امیر د دې مانورې تر اجرا کولو وروسته



Ketabton.com

د خپل تولګی سره چې ورځ په ورځ زیاتېده کوهستان
ته راغی چې مستقیماً د پایتخت سره نښتی دی
و دې سیمو ته د ده راتګ د لندن د هغې فیصلې
سره متصادف وه چې په افغانستان کې لې د
اشغالګرو د تقاضاؤ د لګښتو نور کمښت تصویب
کړی و. دې فیصلې په «مالی مرستو» تاثیر واچوه
د کومو په وسیله چې مکناټن، پرنس او نورو
«سیاسی اجنټانو» هغه کوله چې د غاصبانو
خوا ته خانان او د قومونو مشران جلب کړی. د
شجاع الملک د طرفدارو فیودالانو او یا هغو کسانو
چې بې طرفه پاته وو شمېر بې حده لږ شو.
د ۱۸٤۰م کال د نومبر په دوهمه نېټه د پروان
په ناوه کې، چاریکارو ته نژدې چې د کابل څخه د ۲۵
کیلومترو په شاوخوا کې لېرې پروت دی، د دوست
محمد خان قومی قوځونو په یوه سخته جګړه کې د
جنرال سېل لوا ته ماتې ورکړه. د لوا سیاسی
افسر پېرسیوال لارډ د نښتې دمخه اعلان وکړ
چې هر څوک چې امیر مړ او یا ژوندی ونیسی،
هغه ته به سل زره روپۍ انعام ورکړی. ب. لارډ
په جګړه کې ووژل شو. د لوا پاته کسان چاریکار



Ketabton.com

ته په ښا راغلل. او وروسته ... وروسته داسې څه واقع شوه چې هیڅ څوک پرې نه پوهیږي. کله چې ځکناڅي بر آس سپور د خپلو ساتونکو سره د پایتخت په ښاوخوا کې هواخوري ته راوتې وو، ناببره چیغې وشوې: «امیرا امیرا» انګریزان وارخطا شول او د سوارو د برید انتظار ئې درلود. واقعاً ډېر ژر امیر یوازې د څو تنو بدرګه کوونکو ملګرو سره راښکاره شو او اعلان ئې وکړ چې ځان په اسارت تسلیموي. دې عمل د څه شي څخه سرچینه واخیسته؟ ممکنه ده امیر فکر کاوه چې ژر ځلانده برې وروسته به دښمن د ده قدرت او په هیواد کې حیثیت په بل ډول ارزیابي کړي او بیا به ترتیب به د چارو واګې په لاس ورکړي. دا هم له امکان نه بهر نده چې ده خپل بریالیتوبونه تصادفي د لږ مودې لپاره وګڼل او نامردي ئې وکړه. د دې څخه فقط ګولای شو مدس وکړو ... په هر حال د بریطانیې حکومت دا قصد نه درلود چې خپل پلانونه تغیر کړي. اسیر شوی امیر د خپلې کورنۍ سره لودهیانې ته تبعید شو چیرې چې پخوا شجاع الملک اوسېده.



Ketabton.com

اما جګړه څنګه شوه؟ ایا دا کېدای شي چي
هغه توره ختمه شوې وګڼو؟! لکه چي معلومه شوه
په ډېره لږه اندازه هم نه شوی کړای داسې فکر
وکړو. د پروان د نښتې خبر د تېرې کوونکو په
ضد د نوې مبارزې د راپورته کېدو سبب شو.
دا مبارزه د امیر د مشر زوی سردار محمد اکبر
خان په مشرتوب جاري وه. د ۱۸۴۱م کال ژمی او
پسرلی د افغاني وطن پرستانو او انګریزي - هندي
لښکرو تر منځ په سختو نښتو کې تېر شول. دا
جګړې په ټولو هغو سیمو کې چي اشغالګرو نیولې
وې پېښې شولې لکه د کابل شاوخوا، کندهار
ته نژدې، غلزائي کلات، جلال آباد، غزني او داسې
نور. د جنرال سیل لوا تر ماتې وروسته ټکمیل او
د پېښور - کابل د لارې د امنیت د ساتلو لپاره
واستول شوه، ولې د یله جاریانو تر ضربو لاندې
ئې په زحمت ځان د نوې ماتې څخه وژغوره او
د جلال آباد په کلا کې ئې ځان پټ کړ. په چاریکار
او شیخ آباد کې د انګریزانو ګارنیزونونه په بوره توګه
نابود شول.

دې سوال چي څرنګه د افغانستان څخه



Ketabton.com

«ووزی»، د تیری کوونکو لپاره ئی ډیر اهمیت درلود. «تړدی دری کاله کیږی چی د هند لښکر د فیروزپور څخه د دی بدبخته هیواد د فتح کولو لپاره واستول شو- د ۱۸٤۱ کال د اګست په شلمه نیټه د کندهار څخه یوه انګریزی منصبدار خپل کور ته لیکلی وو. - شجاع الملک باید د خپلو پلرونو پر تخت کښښول شوای وای او فوځ باید تر هغه وروسته هند ته ستون شوای وای. دوه کاله وشول چی دا کار سرته رسیدلی، ولی موږ ټول لا تر اوسه دلته یو. حکومت نه شی کولای دومره لوی لګښتونه وکړی چی د افغانستان اشغال ایجابوی. لیکن آیا موږ بیرته راستنیدلی شو؟ ګرد چاپیره په ټول هیواد کی ورځ په ورځ ناآرامی زیاتیږی. د خیبر خلکو، غلجیو او دورانو وسلی ته لاس اچولی، زموږ په تانو شبخونونه کوی، زموږ عسکر زموږ د سترګو په وړاندی وژنی. آیا موږ کولی شو افغانستان پداسی حال کی پریږدو؟ او له بله پلوه، آیا دا حالات بدلیدای شی او دا هیواد آرمیدای شی؟ هیڅکله نه. په هر حال، موږ تر هغه ژوندی نه شو پاته کیدای. نه شم کولای

ACKU



Ketabton.com

ناسې ته ووایم چې څرنګه خلک زموږ څخه کرکه
کوي. په هر صورت هغه څوک چې فرنګي ووژني،
غازي شمېرل کېږي. لږ وخت پخوا څو دا رنګه
وژنې وشولې او موږ نه شو کړای او باید دلته
پاته نه شو، موږ باید حتماً راستانه شو که
چېرې زموږ د افتخاراتو او حیثیت په تاوان هم
تمام شي»[1].

مګر د امپراطورۍ د لوړو رتبو څښتنانو نه
غوښتل چې هیڅ بو خطر هم ووینې. هغوی د
۱۸۴۱م کال د اپریل په میاشت کې، ګوندي د
ملنډې په څېر، کابل ته نوی قوماندان ښیبېته
ګلن ویلیام جارج کیت الفینستون ورولېږه.
یوه لاس معیوب او ډېر زیات ټی نګوښتل (دی
به ټي به جوپان کې وړه). د نوموړي جنرال د
جګړې تجربه د پېړیو په شروع پورې اړه درلوده.
د ۱۸۱۵م کال د واټرلو تر جګړې وروسته ده به

---

1) К. Ф. Нейманн. Афганистан и англичане в 1841 и 1842 годах, с. 136–138.



Ketabton.com

جنگي عملياتو کې برخه واخیستنه. و. ج. ک. الفينستون د دې مقرری څخه انکار کاوه، مګر څرنګه چې حربي جنرالانو د څرخستنه او سماج فوق العاده سفیر او مختار وزیر مکناټن سره «د کار ونه شواې کړی» لارډ اوکلانډ د ده پر ټګ ټينګار وکړ. زيات ډېره ټیله و. د. مکناټن چې د «د شاه د استرداد» د پاره ئې ډېر ترتيبات نيولي وو له دې کارونو څخه ئې د ډېرې کولو دپاره تیاری نیوه. د خدمت په پاس ئې د بمبئی د ولایت چوکی تر لاسه کړه او ګورنیټنل ئې چې ډېر ژر د افغانستان د ناآرامه صبر څخه خپل ښښي وباسي.

د ۱۸٤۱ م کال په مني کې په افغاني څملو کې د اشغالګرو وضعیت بحراني خصوصیت درلود. د ټبري کوونکو سره ترپالی کشمکشونو او ښنستو وطن پرستو قواؤ نه د دې امکان ورکړ چې د وسلو خپلې ذخیرې تکميل، د جګړې تکتيک طرح کړي، په منظمه توګه سره یو شي او په خپلو قواوو باور ټينګ کړي. د آزادۍ د پاره د جدي او فعالو مبارزینو په کتارونو کې د سردار



Ketabton.com

محمد اکبر خان سره جنګ به ځنګ د قومونو مشران لکه عبدالله خان اڅکزی، امین الله خان لوګری او نور شامل شول چې په خلکو کې ئې ډېر نفوذ او عتبار درلود. د پایتخت د اوسېدونکو عملیاتو پرګټیز څرنګوالی پیدا کاوه. د دوی ضربه د والی ا. برنس هستوګنځی ته متوجه وه.

الکساندر برنس له خپل شهرت څخه سوء استفاده کوله. هغه له خپل وجدان څخه تېر شو او په اصل کې ئې له دوست محمد خان سره خیانت وکړ. د دې په بدل کې ده موقتاً د ګرمې رنبې ته ترفیع وکړه او د ملکانو د ټګ هیلې ئې و څو د هغه مقام تر لاسه کړي، ولې فعلاً ئې عیاشۍ ته مخه کړې وه او په عیش و نوش ئې خپل ژوند تېراوه. د خپل آمر څخه ئې فقط دومره فرق درلود چې هغه د انګرېزي ګارنیزون په ډېر مضبوط کوټ شېرپور کې اوسېده خو ا. برنس د چارسو او ممره بازار تر څنګ د ښار په مرکز کې اوسېده.

د ۱۸٤۱م کال د نومبر په میاشتې په دوهمه نیمه په پایتخت کې د پاڅون لمبې راپورته شولې.


Ketabton.com

ACKU

د ښار نوییان، کسب‌ګران، د ښاوخوا کلیو بزګران، تجاران چې د نرخونو څګوالی او د تبری کوونکو سپین‌سترګو او د دوی لوټ او ظلم راپارولي وو د والي په استوګنځي باندي برغل ورور. مکناټن چې الکساندر برنس ته خوښېده او د ده د شهرت څخه ئې حسد ور، د قوم په لېږلو کي ئې کومه پاملرنه او جدیت د ده په ګټه ونه‌ښود، د الفینستون په باره کي څو باید هیڅ څه ویل نشوی هم نه وای. د استوګنځي ساتونکي ووژل شول، پخپله الکساندر برنس، د ده کشر ورور او همکار ئې دوهم بریډمن برودفوت هم ووژل شول.

کابل د افغاني وطن پالونکو په لاس کښېوت. د پردو د لاس آله شاه شجاع الملک او د ده «تولګي» چې په ورځو نه بلکه په ساعتونو ئې خپل عمر ګاټه، د بالاحصار په زړه کلا کي چې د پایتخت په جنوب غربي برخه کي پرته ده کلابند شوی و. د بریطانیي لښکري عملا د پایتخت په شمال اوبدیزه برخه کي د شیرپور په استحکاماتو کي محاصره وې. د بي بي مهرو د غونډیو دپاره

ACKU



Ketabton.com

چې د شېرپور پر سر جګړه بدلې په سخته جګړه کې افغانان بريالي شول، دوی د تخليم د شرايطو پر ټړو باندې غلبه وموندله او هغه ئې له حاکميت لرونکو غونډيو څخه وشاړه او څو توپونه ئې ځينې ونيول. د جنرال سېل مانديني چې پخپله د جګړې کتونکې وه داسې ليکلي دي چې «د دښمن په ګڼدی توب سره وخوځېد. زموږ لښکر د دوی په مخ کې داسې منډې وهلې لکه د پسونو رمه په کومه پسې چې لېوه منډه کړې وي».[1] پرې لدې کبله د يادونې وړ دي چې د کابل د ښار معمولي اوسېدونکو لکه کسبګرو او سوداګرو پر انګرېزي منظمو ځواکونو باندې برې وموند. لکه چې دا خبره د ښپېنبو برخه‌وال کپتان د. لورنس هم په ګوته کړې وه[2].

اکبر خان پايتخت ته د کومکي ټولګيو سره راورسېده او د افغاني وطن پالونکو صفونه ئې لا

---

[1] Lady Sale. The First Afghan War. L., 1969, p. 54.

[2] G. Lawrence. Reminiscences of 43 years in India, L. 1874, p. 95-96.



Ketabton.com

پیاوړی کړل. ژمی راغی. خرنی لاری او کوتلونه واوری پټ کړل. له هند سره د انګریزی هندی لښکرو ارتباط ونښلېده. سخت یخ ځینی ښو چی اشغالګر د هغه په مقابل کی بی چاره وو. د دوی جنګیالی روحیه (که چیری هغه وای هم) په ډېر شدت سره لوېدله او معنویات ئی پر له پسی خرابېدل. د ۱۸۴۱ م کال په دسمبر کی د «دښاه»، د ټولګیو ځینه د سوارو دوه ډلو ټولګیو پاڅون وکړ او د اکبر خان او د ده د پلویانو پر خوا ورغلل. الفینسټون هم له مکناټن سره سازښ نښوای کولی. دوی یو له بل سره د برزو په لیکلو او تبادله تماس درلود. په یوه پرزه کی جنرال څرګنده کړې ده چی د هند ځینه د مرستی هیله نښته، پداسی حال کی چی د انګلیس پر ضد ټول افغانستان وسله په لاس پورته شوی دی. ده د «مختار وزیر» ځینه غوښتنه کړې وه څو بې له ځنډه د افغانستان د تخلیې په هکله موافقې ته ورسېږی.

مکناټن خپله ټوله چالاکی پکار واچوله څو وکولای شی اوضاع سمه کړی. سره له دې چی د قومونو د هغو رهبرانو چی د بریطانیې په ضد به جنبش



Ketabton.com

کې لاس درلود د تطمیع گولو دپاره ډېری زیاتې پیسې پیشنهاد شوې وې چې دا مبلغ د یو ملیون روپو څلورمه برخه وه بیا هم دا کوښښ بوره نتیجه شو. هله انګریزي بنیاځلی تصمیم ونیو چې د سیاسي وژنو له متود څخه کار واخلي. لیکن که څه هم ده وکولای شول چې د ده اجیر وطن پلوونکي او خائن خبله گولئ د عبدالله خان اڅکزي په شا وچلوي او بل خائن د وطن پالوونکو مشهور رهبر میر مسجدي خان ته زهر ورکړي، ولی دي ونه شوای کړای د اشغالگرو د فاجعه آمیزي وضعي څخه مخنیوي وکړي. د ۱۸۴۱ م کال د دسمبر په بولسمه نیټه مکناټن مجبور شو څو د افغانستان څخه د انګریزي قوځونو د وتلو او د امیر دوست محمد خان او نورو بندیانو د بیرته راستنیدو موافقه لاسلیک کړي. اکبر خان او نورو مشرانو دا وعده چې دوی ته به پیسو باندي خوراکي مواد او د حمل ونقل وسیلي برابري کړي.

لدې سره سره یې خوانې «فوق العاده سفیر» هغه گوله چې هغه قیدونه وساتي چې په افغانستان باندي به زور تحمیل شوي و. د ده د ټینګار په اساس به



Ketabton.com

تړون کې دا تګلې درج شو چې افغانان د دې حق نه لري چې د انګلیس د اجازې او منظورۍ پرته د کوم بل دولت سره په خبرو اترو کې شامل شي. سربېره پر دې حتی تر دې وروسته چې د افغانستان د خوشې کولو تړون ته لاسلیک کړی و، مکناټن داسې سنجولی ده چې مختلف قومي مشران په خپلو کې سره واچوي او د موافقه نامې د عملي کولو صحه ونیسي. ده خپل اجنټ موهن لال ته چې د استخباراتو مسئول وو په دې ډول لیکلي وو: که جیری دوی په خپلو منځو کې سره اخته شي څو چې انګریزانو ته د دې امکان پیدا شي، چې په کابل کې پاته شي دا به څو څو ځله تر هغه ښه وي چې د ژمي په واورو کې کابل خوشې کړو. مکناټن د خپل مقصد د تر لاسه کولو لپاره د هر مبلغ پیسو خرڅولو ته تیار و او موهن لال ته ئې وظیفه ورکړه چې د دې هدف د لاس ته راوړلو په لاره کې حتی د ډېرو کمو امکاناتو څخه هم ګټه واخلي[1].

---

[1] Mohan Lal. Life of the Amir Dost Mohammed Khan of Kabul. L., 1846, vol. II, p. 428.



Ketabton.com

دا پلا په دې مسئول دولتي مقام کې ماجرا غوښتونکی مامور نه تنها خپلو مادونانو ته خطرناکې وظیفې ورسپارلې بلکه پخپله هم هرکار ته تیار و. مکناټن پدې امید چې د تېرې کوونکو پرضد د مبارز افغان اولس رهبر اکبرخان ونیسي، د ده سره ئې د شیرپور کلا ته نژدې د لیدنې وعده ورکړه. د ۱۸٤۱ م کال د دسمبر په درویشتمه نیټه دی د اکبرخان سره د خبرو اترو په تکل وخوځېد او الفینسټون ته ئې پیشنهاد وکړ چې دوه کنډکه پیاده او دوه توپونه د تیارسۍ په حال کې د «دبنې ارتیا دپاره» تیار ولري[1]. خو د دوست محمد خان زوی پدې ډېر ښه پوهېدلی و چې د ده سروکار له چا سره دی. سردار چې د خپل تعلیم د مکارۍ او حیله بازۍ پوره ښوونځی په لاس کې لرل پدې هڅه کې و چې پخپله مکناټن د یرغمل په توګه ونیسي. په کوچنۍ غونډۍ کې چېرته چې خبرې اترې روانې وې، د انګریزي اردوګاه دځه د

---

[1] J. H. Stocqueler. Memorials of Af-ghanistan. Calcutta, 1843, p. CXLVIII.



Ketabton.com

آخر وخت رنځ پوره نشو لدی بیری چی د هغه ځایه به سواری ټولګی راورسیږی »« اکبر خان به خپلی تفنګچی سره مکناټن د ژوند په سر وویشت»[1]

مداخله کوونکو د دوی د عمده الهام ښوونکی په وژنی سره په قطعی توګه خپله روحیه وبایلله.

د ۱۸۴۲م کال د نومبر په لومړیو نیمه جنرال الفینسټون د کابل په سیمه کی د انګریزی قوتونو د پوره تسلیمیدو، د وسلی ورکولو او د پیښور له لاری بیرته هند ته د ستنیدو موافقه لاسلیک کړه. افغانی مشرانو دا وعده تائید کړه چی پر شاتلونکو انګریزانو به د حمل و نقل وسایل او خوراکی مواد برابر کړی او همدارنګه د وتلو په وخت کی د دوی امنیت تأمین کړی. لیکن دوی ونه شول کولی چی خپله وعده پر ځای کړی. تر ټولو سخت فلاکت، عذاب او تر ټولو وروسته افغانی اولسونو ونه شوای کولای د اشغالګرو په ضد خپل

---

1) К. Маркс. Хронологические выписки по истории Индии, с. 140 (پخپله ک. مارکس خط کښلی دی)



ACKU

Ketabton.com

قهر او کینه تحمل کړی. د کابل څخه تر جلال آباده د لاری په اوږدو کی د وطن پالوونکو ډلو یوه په بله پسی په انګریزی عسکرو او منصبدارانو حملی کولی اکبر خان وکولای شوای چی یوډا و. د. الفینستون (چی وروسته ډیر ژر مړ شو)، ښځی او ماشومان تر خپلی ساتنی لاندی ورسوی. د نورو پنځلس زرو تنو څخه چی د وطن پالونکو له ګولیو څخه ژوندی پاته شوی نه و او دلوږی، یخنی او باروغسیو له کبله پر لاری مړه شول د هغوی څخه یوازی داکتر برایدن چی دمخه هم یاد شوی و نجات وموند.

له کابل سره خوا په خوا افغانی جنګلیانو غزنی آزاد کړ، په جلال آباد ئی ډیر مضبوط هجوم وروړ او کندهار ئی محاصره کړ. د ۱۸۴۲م کال د اپریل په میاشت کی دوی د وطن خائن شجاع الملک چی ډېره موده د بالاحصار په کلا کی پټ شوی و، د خپلو اعمالو په سزا ورساوه. د ده لاش ډیره موده د لاری تر څنګ په ویاله کی پروت و څکه چی هیڅا نه غوښتل هغه سړی ته چی خپل اولس ئی په دومره دردونو سره وکړاوه،



ACKU
Ketabton.com

یعنی بخوانی شاه شبح کړی.

د جګړې د لویو ګناهګارانو څخه یو چې ګورنر جنرال لارډ اوکلاند و دا ښووده چې دی په هیڅ څه و نه پوهېده او نه ئې څه عبرت واخیست. لکه څرنګه چې جګړه ئې د تقلبی او جعلی اعلامیې په صادرولو شروع کړه، نو همدغسې ده په همدانسې دروغجن او ریاکارانه ښسد سره ئې د هغې د ختمېدلو خبر ورکړ. څو صوره د خبرو لړکه انګلیسي مؤلف جارج بریوس ته بربردو. د ۱۸۴۲ م کال د جنورۍ په دېرشمه اوکلاند ته خبر ورسېد چې انګرېزي فوځونه د کابل څخه د په شاتګ په وخت کې بوپناه شوی دی. د خبر د رسېدو سره سم ده هغه وکړه چې د مانې آوازې کمې کړې او باطمطراقه پاڼې ئې خپرې کړلې په کومو کې چې ویل شوی وو چې دی دا مانې د برېطانیې د حکومت د نوی ټمنګوالی او انوژنه او د انګرېزي لښکرو د «حیرت انګیزه روح او شجاعت» د ښکارندوی په څېر ارزیابی کوی[1].

---

[1] George Bruce. Retreat from Kabul. L., 1967, p. 200.



ACKU
Ketabton.com

لښکره ئې دا چې اګر که اوګلاند ډېر ژر بدل شو او په ځای ئې یې ګورنر جنرال لارډ الینبورو مقرر شو؛ دی د برېطانیې د وزیرانو څخه هیڅ کم نه و. دوی د یوه شي د پارلمان سره تماس څرګند وو. هغه دا چې فرنګه وګولای شي هغه معنوي تاوان چې په خفیځ کې امپراطوریه ته رسېدلی و جبران شي او فرنګه د هغې خراب شوي اعتبار بېرته ژوندی کړي شي؟ او فرنګه د «هند د مشهور اردو» پاته شوي عسکرو ته چې په افغانستان کې په جګړه بوخت و نجات ورکړی شي؟ د ۱۸۴۲م کال په منې کې ئې ډېرې قواوې په کندهار او جلال آباد کې سره را غونډې کړلې؛ انګرېزي قوځونو د دې ځایونو څخه کابل ته د لښکرکشۍ تصمیم ونیو او ښتش په نامه د «تأدیبي عملیات» ئې پر ځای کړل. دوی د پایتخت څخه رخه په کنډوالو بدله کړه او همدارنګه ئې د استالف بازار او د چاریکار ښاروته ونړول. لیکن تېرې کوونکو په افغانستان کې د پاته کېدو جسارت نه درلود. د توجه وړ دی چې د دوهمې لښکرکشۍ دمخه ئې دوست محمد خان ته چې په کلکته کې استوګن و اجازه ورکړه څو خپل وطن



Ketabton.com

ته راستون نشي خو دا شرط په منځ کې و چې لومړی به دی اکبر خان ته لیک واستوی او د هغه څخه به هیله وکړي چې کابل ته د انګریزي قوځونو د موقتي داخلیدو ... همه ونه نيسي ګوم چې د «خپل اعتبار د بیرته ژوندی کولو دپاره» ضرور دی. د بریطانیې عسکرو ته به واقعاً هم په هیواد کې د آزاد ورود اجازه ورکړل شوې وای...

د ۱۸٤۳ م کال په شروع کې دوست محمد خان بیرته وطن ته راستون شو او بیرته امیر شو د بې شماره ضعیف هیواد د اسیر کولو د کوشششونو په ترڅ کې د عسکلي دولت د ماتي علتونه د روسي انقلابي دیموکرات ن.ا. دبرولوبوف له خوا داسې توضیح شوي دي: «دپه افغاني جګړه کې خلکو د شاه شجاع د بر تخت کښېنولو پر ضد ډېر قوی مقاومت وکړ د کوم چې انګلیسانو حمایه کاوه او کوم چې د خپلو ظالمونو له کبله درې ځله خپل رعیت (خپلو اتباعو) شړلی و. اروپائي لښکرو د افغانانو پر سخت مقاومت باندې بری وموند خو څومره چې انګریزانو تر لاسه کړی وو باید بیرته ئې پرېښی وای بېږي



Ketabton.com

سبب چې هغه ئې په ځان پورې نه شواى ساتلى. شل زره نفره او شپاړس مليونه پونډه عبث پدې جګړه کې تلف شوي وو».

د مداخله‌کوونکو او د دوى د شريکانو پر ضد د اولسي پرګنو قهرمانانه او قاطع مقاومت اساسي عامل دى چې د کاپيتاليستي اشغالګرو پلانونه د افغانستان پر ضد د انګليس په لومړۍ جګړه کې شنډ کړل.



Ketabton.com

د افغانستان د لاندی کولو د پلان نشتوالی بریطانوي استعمارچیان دې ته مجبور کړل چې د څه مودې دپاره خپل تاکتیک ته تغیر ورکړي دوی د لومړیو خیالونو څخه تېر شو او فیصله ئې وکړه چې د هغو د عملی کولو لپاره باید ښه تیاری ونیسی. په ۱۸۴۳ م کال کی د سند او په ۱۸۴۸ - ۱۸۴۹ م کی د پنجاب تر نیولو وروسته دوی په مستقیمه توگه ځان افغانی سرحدو ته ورساوه او په ۱۸۵۵ م او ۱۸۵۷ م کال کی ئې د دوست محمد خان سره «دوستانه اړیکو» د ساتنی په هکله د دوه تړونونه لاسلیک کړل. په هغو زمانو کی پدې منطقه کی په ځانگړه فعاله توگه د انگلیس اقتصادی توسعه غوښتنی دوام درلود. ف. انگلس د ۱۸۵۳ م کال د مارچ په میاشت کی دا مطلب توضیح کړ چې «د تجارت د پرلپسې پراختیا سخت ضرورت کوم چې لکه توره بلا اوسنی انگلستان تعقیبوی، همغه سخت



ACKU

Ketabton.com

ضرورت دی چې د انګلستان سوداګرۍ دې ته مجبوروي چې د آسیا په دننه کې همزمان د دوو خوا څخه (د هند او توري بحیرې څخه) نفوذ وکړي».[1]

د نوو او نوو بازارونو د پراتیستلو په ترڅ کې د بریطانیې واکمنو محافلو چې د خپلې بورژوازیه د ګټو دپاره ئې فعالیت کاوه، هغه کوله چې په مربوطو سیمو کې د نظامي او سیاسي نظره هم ځان ټینګ کړي. لا د پولسمۍ پیړیه د نیمائي څخه انګلستان د تاریخي شرایطو له امله چې د سرمایداري هیوادونو په سر کې واقع و امپریالیستي تکاملي پړاو ته ورسید. به مستعمرو پسې لاس او پښې وهل د هغه د خارجي سیاست مشخصه نښه وه. او د لندن توجه داسې سیاست په پیروۍ افغانستان ته جلب نشوی و.

د دوست محمد خان تر مړینې وروسته هلته فیودالي معرکې ونښولې. دا شخړې په ۱۸۶۹ م

---

[1] К. Маркс и Ф. Энгельс. Сочинения, т. 9, с. 12–13.



Ketabton.com

کال کې کوم وخت چې امیر شیر علی خان پر تخت کښیناست، پای ته ورسیدې. د ۱۸۷۰ مو کلونو په سر کې هیواد ونه شواى کولاى چې په واقعې توګه د داخلي نفاق بقایا له منځه یوسي. مالیات پر عایداتو به ډیر ویجاړ حالت کې قرار درلود. امیر اړو چې د مختلفو قومونو او طایفو قبیلو د رهبرانو، ملکانو او مشرانو د نسبې فرمانبردارۍ ضمانت وکړي. د ده ډیر کم قوم زیاتره په زړه نشوی ورسره سمبال و. لکه د خپلو ښکو په موټکو (یعنې ملنګانو او جزایلو) او یا ئې د انګلیسي چقمقي ټوپکو په واسطه چې د هغوی ځمه ئې ولجه کړي وو.

د نولسمي پیړۍ د اویاوو کلونو تر نیمایه پورې انګلستان د اماني په یاد درلوده او د افغانستان په نسبت ئې ډیر احتیاطي موقف غوره کړی و. د هغه په ترتیبولو کې په هغه وخت کې د «انتظار ایستلو د سیاست» یا د «پرلو سرحدونو» (backward policy») «backward

یا «closed border») د طرفدارانو نظریې رونق موندلی و. دوی زیاتره د لیبرالانو په ګوند



Ketabton.com

پوري اړه درلوده او د افغانستان په چارو کې ئې مستقیمه او نیکاره مداخله معقوله نه بلله. د هند وایسرایانو (یا گورنر جنرالانو) چې بو په بل پسې بدلېدل پورتنی نظر تائیداوه کومو چې په عملی ډول په شرق کې د برطانیې پالیسي چلوله لکه لارډ لورنس (۱۸۶۴-۱۸۶۹ م)، لارډ میبو (۱۸۶۹-۱۸۷۲م) او لارډ نورسبروک (۱۸۷۲-۱۸۷۶ م). د دې نظربو مخالفینو چې د «د نعرضی سیاست» («forward policy») غوښتنه ئې کوله د محافظه کار گوند طرفداران وو او په انگلستان پورې ئې د مستعمرې او یا نیمه مستعمرې په توگه د افغانستان نیول ضروری گڼل.

پورتنی مطلب بلکل پدې مفهوم نه دی چې د «د انتظار ایستنی د سیاست» تیوریستانو پدې هڅه کې نه وو چې په کابل کې د بریطانیې نفوذ او تاثیر زیات نه کړي، بلکه په مختلفو وسیلو ئې د دې دپاره کارکاوه. د توجه وړ ده چې لا د وایسرایانو میبو او نورسبروک په زمانه کې انگریزی اجنتان هرات ته ډېر ډېر



Ketabton.com

ځله ورغلل چې د امیر شیر علي خان زوی محمد یعقوب خان اداره کاوه. دوی د هرات حکمران پدې سره ولمساوه چې پلار دی د تخت وارث و نه ټاکه او پدې ترتیب سره ئې د ۱۸۷۰م کال د مې په میانشت کې احتشاش تحریک کړ.

دا شورش بریالی نه شو. امیر خپل زوی وبانبه، ولې هغه دسیسې چې له ده سره ئې رابطه درلوده قطع نه شولې (انګلیسي تورن مارچ چې د ۱۸۷۲م کال په پای کې هرات ته ورغلی و نظر درلود چې یعقوب خان د حکومت د لاس نه راوستو په خاطر تیار دی چې د انګلستان کومک قبول کړي). ځکه په ۱۸۷٤ کال کې ئې یعقوب خان کابل ته راوغوښت او په هغه ځای کې نظربند شو. د انګلیس د دوستۍ په نامه د یعقوب خان د آزادۍ لپاره د لارډ نورسبروک هغه بې‌فایدې او هدر لاړه ... (۱)

د بریطانیې حاکمو محافلو دا خبره نه پټوله

---

۱) Argyll, Duke of The Eastern Question. L. 1879, vol. 11, p. 345.



ACKU

Ketabton.com

چې د افغانستان په شاوخوا کې په سیاست
کې د مختلفو مقصدو او تمایلاتو د طرفدارانو تر منځ
اختلاف د هغه مطلب پر سر نه بلکه صرف د
میتودونو پر سر دی. د هند د چارو سکرتر
ویکونت کرینبروک د ۱۸۷۸ کال د نومبر د میاشتې
په ۱۸مه د هند د وایسرا په نامه په خپل پیت
پیغام کې اعتراف کړی و چې په دې هکله د
نظریو تر منځ اختلافونه چې د بریطانیې حکومت
په هند کې باید کوم سرحدي سیاست وچلوی
زیاتره د عمل په طرز پورې اړه لري نه د کار په
ماهیت.

د نولسمې پیړۍ د شپېتمو کلونو په دوهمه
نیمایه کې د منځنۍ آسیا وړاندې سیمو ته د
تزار د فوځونو د تګ دوام عموماً په نتیجه کې د
انګلیسي - روسي عنعنوي رقابت لمن پراخه کړه
کوم چې د تېرې پیړۍ د بین‌المللي مناسباتو ډېر
مهم عامل و. لندن پدې هڅه کې و چې د ځان
دپاره د مانورو امکانات حفظ کړي نو ځکه ئې
پیترزبورګ ته پیشنهاد وکړ چې افغانستان د
داسې بې‌طرفه سیمې په حیث په نظر کې



Ketabton.com

ونیسي چې د دواړو دولتو متصرفان یو له بل څخه بېلوي. د هغو خبرو اترو په جریان کې چې په ۱۸۶۹ - ۱۸۷۲م کلونو کې ئې دوام درلود دا پېشنهاد ومنل شو.

د انګلستان جګړه‌مارو نظامي او سیاسي شخصیتونو چې د «بې‌طرفه سیمې» په حیث د افغانستان د پېژندلو بې‌اعتنائي ئې کوله د هغه په ضد ئې ډېرو جدي تعرضي عملیاتو ته بلنې ورکولې. د ضرور نه زیاتو محصولاتو د تولید له کبله بحرانونو کوم چې په منظم ډول له ۱۸۵۷ کال څخه د پانګوالیز په نړۍ کې پېښېدل دوی لا زیات تشویقول. د دې نړۍ ډېر برخې تللې هېواد لوېې بریطانیې - د ۱۸۶۶م او خاصتاً د ۱۸۷۳م کال د سختو بحرانونو له کبله ډېر زیږونه وګالل. او که څه هم پراختیا غوښتونکو خپلې غوښتنې د سیاسي دلیلو او د پرستیژ (حیثیت) او «د جنګ د ضرورت» په اساس استوارې کړې وې، ددې ټولو تر شا په ډېره اندازه د خرڅلاو د بازارونو د پراختیا بې‌پایانه تقاضاوې په نظر کې نیول شوې وې.



ACKU
Ketabton.com

د «تعرضي سیاست» د ایډیالوجستانو له
ډلې نه یو د هند د چارو د شورا غړی او د جغرافیا
د شاهي ټولنې رئیس هنري رولینسون و.
دی د لانکاشیر د تاجرانو او صنعتګرو له یوې
مشهورې کورنۍ نه و، د افغان او انګلیس
په لومړۍ جګړه کې ئې برخه واخیسته، ډیره
موده ئې په ختیځ کې خدمت وکړ چیرې چې ئې
پر یوه سلسله نظامي او سیاسي چوکیو باندې
کار کړی و. نوموړی د امپراطورۍ د نظامي او
سیاسي او هم د صنعتي او تجارتي ټولنو د
ګټو ترجماني کوله. د ۱۸۶۵ م کال د اکتوبر نه
را یدې خوا رولینسون د «Quarterly Review»
په جریده کې یو لړ مقالې خپرې کړلې په کومو
کې چې ئې په متحریکانه ډول هند ته د «متوجه
بهرنی تهدید» په باره کې په اوهامو باندې
ټینګار کړی و او په ۱۸۶۸ م کال د جولای په
میاشت کې ئې د حکومت لپاره د «منځنۍ
آسیا د مسئلې په باره کې یادداشت» نشر
ته وسپاره. ده انګلستان دې ته اړ ایسته
څو د افغانستان سرحدونو ته د ریل پټلۍ



ACKU
Ketabton.com

وګړوی، په کوټه کې مضبوط شي او هلته د افغانستان جنوبي سیمو ته څیرمه نظامي او سیاسي پایګاه جوړه کړي او هم په کابل کې خپل نفوذ تعمیم کړي. رولینسون د دې غوښتنه کوله چې په ټولو ممکنو لارو چارو د هند نه بهر هیوادو کې د انګلستان تجارت ته پراختیا ور کړي او په افغاني ښارونو کې انګریزي اجنټان له وسیع اختیاراتو سره ځای په ځای کړي شي. دې مفکورو ته توموړي د مقالو په څیر مجموعه کې عمومیت ورکړ چې د «انګلستان او روسیه په ختیځ کې» تر عنوان لاندې نشر او د انګلیس د پراختیا غوښتنې د طرفدارانو دائمي لازمي کتاب ګرزیدلی و[1].

د یادو شوو او د هغه په څېر نورو پلانونو او مفکورو په عملي تطبیق په جدي توګه هغه وخت لاس پورې شو کله چې په ۱۸۷۴م کال کې د بنجامین دیزرائیلي (له ۱۸۷۶م څخه ګراف بیکنسفیلد)

---

[1] H. Rawlinson. England and Russia in the East. L., 1875.



Ketabton.com

محافظه‌کار حکومت د چارو واګې په لاس کې واخیستې. په نوې کابینه کې د هند د چارو سکرتر لارډ رابرټ سالسبري چې ډېر ژر ئې د خارجي چارو د وزارت پست تر لاسه کړ، په پوره توګه د رولینسون سره بیوالی ودبود او د هغه اثر ئې د «ډزما تورات او انجیل» په نامه یاد کړ. د ۱۸۷۵م کال د جنورۍ د میاشتې په دوه‌ویشتمه سالسبري د هند وایسرا نورسبروک ته پیشنهاد وکړ څو د امیر شیر علي خان څخه په هرات او کندهار کې د بریطانیې د اطلاعاتي ادارو د پرانیستلو موافقه تر لاسه کړي. د «د انتظار ایستلو د سیاست» طرفدار نورسبروک دا ډول اقدامات بې وخته او غیر ضروري وګڼل څو په لندن کې انګریزي واکمن د خپلو خیالونو څخه نه تېرېدل. د ۱۸۷۵م کال د نومبر په نولسمه د هند د چارو سکرتر د هند وایسرا ته په نوې هدایت کې له نوموړي څخه غوښتنې وو چې ژر تر ژره کومه بهانه پیدا کړي څو کابل ته یو هیئت واستوي چې د امیر شیر علي خان سره په افغانستان کې د انګریزي



Ketabton.com

مسئولو وظیفه‌دارو د ځای پر ځای کېدو په هکله خبری اتری وکړی. سالسبری پیشنهاد وکړ چی له رټ شانتاژ ځخه مخ وانه‌ړوی او امیر ته اعلان وکړی چی دی به په پوره توګه په خطر کی ولوېږی که چیری د هغو اقداماتو په خلاف لاس واچوی چی لویه بریطانیا ئی «د ده د استقلال د ساتنی» دپاره مخ ته راوړی.

لندن د دې ځانورو واقعی هدفونه چی مطلب ئی تر ډېر تسلط او اقتدار لاندی د کابل راوستل و په منځنی آسیاکی د روسیی د پرمختګ (وړاندی تګ) د بهانو تر پردې لاندی پټول چی ګواکی د بریطانیې آسیا ئی متصرفاتو ته خطر متوجه کوی. یو ځل بیا نورسبروک د حکومت د لیری هدفونو بی‌اعتنائی وکړه او دې ته ئی اشاره وکړه چی په امیر باندی په فشار راوستل بی‌ګټی کار وی. او دا خبره چی امیر نه غواړی چی افغانستان ته انګریزی مقیم استمان پرېږدی د ده د «نه وفاداری» دلیل نه دی. همدارنګه ده دا خبره هم په ګوته کړه چی روسیه هم پردې هڅه کی نده چی په افغانی ځمکو کی



ACKU
Ketabton.com

خپل نفوذ خپور کړی.

د محافظه‌کار حکومت او د سرکښبه وایسرا مناسبات په آخره درجه حاد شوی وو. د ۱۸۲۵ م کال په نومبر کی د اختیاراتو د موديې تر ختمیدو لا دېر پخوا او بی له دې چې د رسمی استعفا توقع موجوده وی نورسبروک د خپل پست څخه انکار وکړ او په راتلونکی پسرلی کی باید گور نه تللی وای. ډیزرائیلی د گ. رولینسون د مشورې سره سم د استعماری اداری دا لوړ پست بارون ادوارد رابرت لیتون ته چی په لزبون کی سفیر و پیشنهاد کړ.

ښمائی پدې په زړه‌پوری شخص چی په تیرو شوو واقعو کی ئی د پاملرنی وړ رول درلود څه په غور سره رڼا واچوو. که څه هم دی په ډېر مهم پست پدې نسبتاً کم عمر کی (د ده لا ۴۵ کاله نه وو پوره شوی) مقرر شو بیا هم ادوارد لیتون تر دې دمخه دیپلوماتیکی خدمت په ډېرو پایتختو کی په دغه جمله کی په واشنگټن، پیټربورگ، آتن، ویانا او نورو ځایونو کی سر ته رسولی و. د خپل پلار بولویر لیتون



Ketabton.com

په نښان چې ناصتو رومان لیکونکي و ده هم د ادبیاتو سره مینه درلوده او د اوڼین میریدیت په تخلص ئې ډیر اشعار او منظومې قصیدی خپرې کړې لیکن ځوان بارون د خپل پلار په څیر د انګریزی ادبیاتو د تولسمې پیړۍ په تاریخ کې لوړی مقام تر لاسه نه کړ ولی په دوهمه درجه شاعرانو کې شمیرل کیږي.

ادوارډ لیتون د رولینګسون سره نژدې اړیکې درلودې او د ده د روسیې ضد او پراختیا غوښتونکو تئوریو ډیر جدی طرفدار و. دیزرائیلي ئې ‹‹اګترا›› لدې کبله ملامت ګاڼه چې لیتون ئې د وایسرا په حیث مقرر کړی و. نو ځکه صدراعظم د نوموړی ډیره قدردانی کوله او ویل به ئې چې لیتون د عزت پسندۍ، مخیلې، شهرت او طاقت خاوند دی. ده لیتون ته خپل پیشنهاد ورکړ او پدې دلیل ئې هغه مستند کړ چې په منځنۍ آسیا کې کړکیچن وضعیت په مسئول مقام کې د لوی دولتی شخصیت غوښتنه کوی او که لیتون دا پست قبول کړی، نو د دې امکان به پیدا کړی چې نه تنها انګلستان ته



Ketabton.com

خدمت وکړی بلکه شهرت به هم ومومي[1].

نوی وایسرا ختیځ ته د تګ په وخت کې داسې دستورالعمل تر لاسه کړ چې کوشش وکړي څو په افغانستان کې د انګلستان د دائمي نماینده ګیو د جوړولو او د هغه د نفوذ د ټینګښت لپاره لاره هواره کړي. دی په فعاله توګه د پراختیا د پروګرام په عملي کولو بوخت شو. ده په رسمي توګه د ۱۸۷۶م کال د اپریل په میاشت کې په خپله وظیفه لاس پورې کړ. لیتون د مې په میاشت کې د شیر علی خان څخه وغوښتل چې د بریطانیې سفارت قبول کړي، د هندوکش د لارو او کوتلونو اداره انګریزانو ته وسپاري او انګریزي اجنټانو ته اجازه ورکړي چې افغانستان ته راشي.

شیر علی خان فشار ته تسلیم نه شو. او په سخت پېغور سره ئې پیشنهاد وکړ چې

---

[1] Balfour, lady Betty. The History of lord Lytton's Indian administration. L., 1899, p. 2.



ACKU

Ketabton.com

خپل نماینده‌ګان د دې موضوع د روښانه کېدو دپاره هند ته ولېږل چې ګویا د «نجیبې هټۍ» د انګرېزي حکمران په نجیب زړه کې راپیدا شوې دی». ډېر ژر معلومه شوه چې دا «نجیبې هټۍ» د افغانستان نظامي او سیاسي محاصرې ته متوجه دی. په ۱۸۷۶-۱۸۷۷ م کالو کې بریطانوي امپریالیستانو د کلات په قائمولو یعنې د هغې په جنوبي برخو او د چترال په سیمه کې چې د هغه څنډه د هیواد شمال-ختیځ ته لاري تجربولی دی خپله قبضه ټینګه کړه. لندن چې په افغاني ځمکو کې د مداخلې دپاره زمینه برابروله همزمان داحمله وکړه څو کابل په روښې توګه هم تر اغېزې لاندې راولي.

داسې ټې ګڼلي شو چې د امیر شېرعلي خان سره د بریطانیې د حکومت اړیکې د «بې نظیر باشکوه دربار» په قطعي توګه وګاڼلې. دا د دېزرائیلي نیت وچې د لېټون په مرسته په ځلانده توګه عملي شوی و. د ۱۸۷۶ م کال په پای کې د ډهلي په شمالي دښتو کې د ګتمېر دروازې ته څېرمه یو افسانوي ښارګوټی پیدا شو. د هند د ټولو



ACKU
Ketabton.com

گونبو ځځه دی ځای نه راجاگان، مهاراجاگان،
نوابان، سلطانان راغلل چې د دوی سره ډېرې
زیاتې سورلۍ د سل گونو فیلانو، آسانو، ټانګو
او اوښانو باندې راغلي وې. د بې شماره کیږدیو
او ښکلو شوو نخرو په صنځ کې شیر کمپه ساته
یان جگیده چې په قیمتي ټوټو ښایسته شوې
و او بر سستې باندې ئې د «V I» توری لیکل
شوی و چې معنی ئې «امپراتریس ویکتوریا»
وه. تر سایبان لاندې باروڼ لیټون ناست و.
ده آبي رنگه قبا اغوستې وه چې د قاقم د پوستکي
استر پرې گنډل شوی و او د سرو زرو په
تارو سره د نیلوفر په پاڼو گنډل شوې وه. په
سمبول آمېزه طرز د قبا پېښېږي دوو حاضرباشو
نیولې وه. یو ئې انگلیس د لومړي ستیوارت د زمانې
په دریشي کې او بل هندی - د کشمیر د مهاراجا
زوی په دستار او ملي جامو کې چې په قیمتي
ډبرو ښکلې کړې شوې وې. په دښته کې
د کیږدیو هغه خوا په زرگونو خلک، د بریطانوي
پیاده عسکرو سره جامو او آس سوارو آبي
جامو نظر جلباوه.



ACKU

Ketabton.com

دلته وایسرا ته د هندی شهزاده گانو د معرفی کولو تر ځلولو مراسمو وروسته د ۱۸۷۷ کال د جنوری د میاشتی په لومړی نیټه لیټون په برم سره ټولواکمنی ویکتوریا ته د هند د امپراتریس خطاب ورکړ. ولی افغانستان او د هغه حکمران په دې واقعه څه اړه لری؟ خبره خو دا وه چی امیر شیر علی خان ئی هم دربار ته را دعوت کړی و. دا ډیر زرنګ حرکت و. هغه ځای ته د انگلیس د تاج تابع خلک تللی و او د افغانستان د حکمروا تلل به د هغه د متابعت په توګه تلقی شوی وای چی په خپل باقدرته همسایه پوری به ئی اړه درلوده. امیر ډیر ښه په ټولو شیانو پوهیدلی و. د ډیری کلکی بلنی سره سره د کابل د رسمی شخصیتونو څخه هیڅوا په دربار کی برخه وانه خیسته.

پدې حالاتو کی د ۱۸۷۷م د جنوری په پای کی په سرحدی ښار پیښور کی د وایسرا مختار استازی لوئیس پیلی د امیر د نژدې شخص سید نور محمد خان سره لیدنه وکړه. د «پیښور د کنفرانس» په ګډون کوونکو موقف ئې مخالف



ACKU

Ketabton.com

لوئیس پیلی چی د گ. رولینسون خپل او همفکرو په ختیځ کی د قاطع حملیاتو غوښتنه کوله. ډیوک ارگیل چی د ښیښتمو کلونو په آخر او د اویاومو کلونو په پیل کی د هند د چارو سکرتر و د ده په هکله ئی داسی څرگنده کړی وه چی « دی د هغو ټولو فعالیتو واقعی نمونه ده چی د بریطانیی نمایندگان د هند د واکدارانو لپاره تر هر څه خطرناک کوی، کومو ته چی خپله خپلواکی گرانه ده او یا غواړی اقلاً د هغی سیوری د خپل سر دپاسه وساتی»[1]. پیلی د خبرو اترو د شروع کېدو د شرط په توگه د افغانستان پایتخت او سرحدونو ته د بریطانوی افسرانو د تگ غوښتنه کوله. سید نور محمد خان چی لا د شیر علی خان د پلار دوست محمد خان سره ئی په راستی او وفادارۍ سره خدمت کړی و په خوښه توگه ئی د خپل هیواد په کورنیو چارو کی د لاس وهلو ټولی هڅی شنډی کړی. ده د امیر پیغام ورواستاوه چی

---

[1] Argill, Duke of. Op. cit., p. 409.



Ketabton.com

افغان اولس یو بااراده او آزاد اولس دی او خپل حیثیت او آبرو تر ژوندانه هم ورته گران دی.

د کابل پر استاځو د انګریزانو له پلوه پولیسي زور اچول کېده. را وروسته انګریزي څېړونکو داسې نظر څرګند کړی دی چې «د هغو ګوښېښتنو د شرح لوستل به گوم چې دېنناغلي لوئیس پیلي له پلوه وړاندې شوې وې پېله دې ډېر مشکل وي چې سړی ته د لیوه او پسه قصه وریاده نه شي».[1] بیا هم هاړولو څه نتیجې نه ورکولې او سید نور محمد خان ته د انګلیس ټولو ادعاګانو ته ځواب ورکاوه. خبرې اترې وځنډېدې او بیا وروسته ډېر ژر بندې شوې ځکه چې عمرخوړلی افغاني وطنپال په پېښور کې د زړه سکتې له کبله وفات شو. د «کنفرانس» اصلي ماهیت بڼپله لوئیس پیلي افشاء کړی دا چې که چیری شېر علي خان د انګلیس غوښتني

---

(1) E. Thompson and G. T. Garratt. Rise and Fulfilment of British Rule in India. L. 1934, p. 515.



Ketabton.com

منلی وای په کابل کې د قیام د اور د بلېدو امکان موجود وو کوم چې د ده د راپرزیدو سبب کېدای شوای.

رښتیا خو دا ده چې د انګرېزي پراختیاغوښتونکو محافلو دې ته ترجیح ورکړه خو دا مشخصه نه کړې چې د دوی غوښتنې څه دي لیکن دا کار د ۱۸۷۷م کال د جون د میاشتې په پنځه ویشتمه نېټه د کلکتې «Statesman and Friend of India» نومي اخبار تر سره کړ. «د ښاغلي لوئیس پیلي د وظیفې رښتنی تاریخ خو دا دی چې جناب دیزرائیلي په غوڅه توګه پتیلې ده چې د روسیې سره جګړه وکړي او سوبه ترلاسه کړي روسیه په یوه وخت کې په اروپا او منځنۍ آسیا کې ونګوو. ښاغلی لوئیس پیلي د دې دپاره لیږل شوی و چې امیر پدې قانع کړي چې موږ ته د دې امکان راکړي چې د افغانستان څخه د خپلې واقعي پایګاه په توګه د خپلو عملیاتو لپاره کار واخلو او خو افغاني استحکامات هم ونیسو. په سرحد کې د بر فوځ پدې اميد راغوښتل کړي شوي و چې د ښاغلي لوئیس پیلي چل ول به بریالی شي او



Ketabton.com

د جګړې تر اعلان وروسته به روسان د بریطانیې له دوو زورورو قطارونو سره مخامخ شي کوم چې د کويټې او کابل له لارې هرات ته د دې لپاره خوځېدلي وو څو د دوی پر ضد بخارا، خيوا، کوکند، کاشغر او ټوله منځنۍ آسيا راوپاروي... د افغانستان د اشغال په خلاف، د امير مقاومت د دوی دا پلان نشنړ کړ. هپه هند کې د انګرېزي واکمنو مسئول شخص د. ر. السمي چې د «تعرضي سياست» ضد وو داسې په ګوته کړې وه چې مقاله «د پيلي د وظيفي حقيقي راز» افشاء کوي[1].

لارد ليټون د دې دپاره چې د افغانستان په ضد ژر تر ژره جګړه ونښلوي د سيد نور محمد خان د مړينې په پلمه ئې خبرې اترې بندې کړې که څه هم دی پدې پوهېده چې د سيد نور محمد خان په ځای بل افغاني استازی لا پخوا پېښبور ته استول شوی څو چې په خبرو اترو کې برخه واخلي او ورته هدايت ورکړل شوی و

---

[1] W.R. Elsmil. Thirty Five Years in the Punjab 1858-1893. Lahore, 1975, p. 236.



Ketabton.com

چې گډښتونو ته ځاره کښېږدي. د برطانوي هند په شمال لوېديزه برخه کې به بېره نور فوځ ځای په ځای کړي شو. د ۱۸۷۷م کال د مارچ د میاشتې په دېرشمه د هند وايسرا د کابل څخه د هندي مسلمانانو له جملې څخه مشاور بېرته راوغوښت د چا په واسطه چې د امير سره ډيپلوماتيکې اړيکې جارې وې. په اصل کې دې د اړيکو د شلېدو مفهوم درلود. استعمارچيانو د افغان دولت د ټوټه کېدو پلانونه طرح کول. د ۱۸۷۷م کال د جولای په دوهمه ليټون د لندن مقاماتو ته کاملا" په ډاګه د دې موضوع په باره کې داسې ليکلي وو چې «... هغه وخت به راورسيږي (هغه هم په ډېره لنډه راتلونکې کې) کله چې په هند کې د بريطانيې د تسلط د ټينګښت لپاره به غوښته ټولګه باید لوېديز افغانستان د ځګړي په زور لاندې کړي شي (دا که د دې هېواد د واکدار په خوښه وي او که بېله هغه) د هرات ډېرې مهمې کلا به شمال د دې کار سرته رسول به ضروري وګڼل شي. لکه چې ښکاري د اوسني امير وضعيت دومره ښه نه دې ټينګ او دا



Ketabton.com

ممکنه ده چې د بېښو جریان دده د پاچاهۍ د سړي او نه لوړ دغه د افغانستان کې د یوې ځانګړې
حاکمې د جوړېدو نسبت ښې کومه چې به یوره او
واقعي توګه کېدای شي د برېطانیې تر تأثیر او
حمایت لاندې راشي»[۱]

محافظه کار حکومت نه تنها د احساساتي
واسرا حمه نه نیوه بلکه هغه ئې تورهم ورانوونکو
فعالیتونو ته هڅوېشاوه. د لیتون رول د انګلیس
د صدراعظم هغه لیک هم برسېره ګرځېدوي چې ملکې
ویکتوریا ته ئې د ۱۸۷۷ م کال د جولای په ۲۲ هغه لیږه
استولي و د روسي او ترکیې تر صلح د جګړې د
پیل په دري میاشتې تېرې شولي او دیزرائیلي
(لوم ته چې د کوټ بیکنسفیلد خطاب ورکړل
شو) داسې څرګنده کړې وه چې که افغانستان
د عثماني امپراطورۍ بلوې وکړي (داسې امکان هم
موجود و) نو «بداسې حال کې باید روسیه هروبرو

[۱] Bisheshwar Prasad. The Foundations of India's Foreign Policy, vol I, 1860-1882, Bombay-Madras-Calcutta, 1955, p. 202-203



ACKU

Ketabton.com

په آسیا کې وتړلي شي، نوځکه باید هرومرو د فارس خلیج ته واستول شي او د هند ملکه باید خپل لښکر ته امر ورکړي چې منځنۍ آسیا د روسانو څخه پاکه کړي او دوی د کسپیین تر بحیرې پورې غاړې ته وشړلوي. موږ د دې هدف لپاره د لارډ لیټون ګوندي ښه وسیله لرو او په حقیقت کې دی هلته د همدې هدف دپاره لېږل شوی دی».

د منځ ته راغلي وضع څخه په استفاده لندن د دې علاقه مند و چې د ترکیې د سلطان په واسطه افغاني واکدار تر انګرېزي لاندې راولي. په استانبول کې د برېطانیې استازي لیبارد او لیټون په ابتکار کابل ته د احمد خلوصي افندي په مشرۍ د عثماني امپراطورۍ سفارت واستول شو. د دوی د سفر خرڅ برېطانوي واکدارانو د هندي خزانې څخه ورکاوه. د استانبول استازي شیر علي خان ته هڅاوه چې د انګلیس تولي غوښتنې ومني او همدارنګه ئې هڅه کوله چې دی د روسیې پر ضد د ترکیې سره یو ځای شي. که څه هم سلطان چې خان ته د خلافت ټول حقوق



Ketabton.com

قایل شوی وو ونه شوای کولای چې د افغان
دولت په موفق څه اخېزه واچوی ځکه چې د افغان
اولس د انگلیس تېری کوونکو بخوانی مداخلې او
اوسنی دښمنانه خیالونه په ښه توگه په یاد
وو.



Ketabton.com

# د افغانستان پر ضد د انګلیس

## دوهمه جګړه

ضمناً د افغانستان په سرحدونو کې په پوره چمتکښیا سره د نوي یرغل دپاره تیاري نیوه کېده. د ۱۸۷۸م کال په شروع کې دا کار اساساً سر ته ورسېده. د ۱۸۷۸ م کال د اپریل په اتمه وایسرا د هند د چارو سکرتر ګرینبروک، ته خبر ورکړ چې دی یدې «د باور» لرې چې په افغانستان کې د بوه ییاوړي او خپلواک دولت جوړول چې انګلستان به په هغه باندې هیڅ کنټرول و نه لري «د اشتبا ګټه کېږي». ده هیله درلوده چې که چیرې تر جګړې یا د شیر علي خان تر مړینې او د تخت د دعواګیرو تر شخړې وروسته انګلیسانو ته د دې امکان پیدا شي څو چې «د کابل دولت ټوټه او یا مات کړي» نو دا امکان به د لاسه ور نه کړي شي. لارډ لیټون د «د بر بنه وریانت» په توګه د لویدیز افغانستان د خانټ د جوړولو



ACKU

Ketabton.com

پلانونه جوړول چې په هغې کې به مرو (د ترکمنو
خانې چې هېڅکله په افغانستان کې شامله نه وه)،
میمنه، بلخ، کندهار او هرات د هغه چا تر واکدارۍ
لاندې چې لندن ټاکلی وي او د هغه د ملاتړ څخه
برخوردار وي شامل وي. د دا رنګه لویدیزې
افغاني خانې او په تېره بیا د کرمې په دره کې
سرحد ته څېرمه د بریطانیې د کوچنۍ اډې د
جوړولو په اثر به د کابل سرنوشت په خپله د
انګلیس دپاره هیڅ ارزښت هم نه لري. واسمرا
په هغه وخت کې په پورتني ډول لیکلي وو.

د پورتنیو پلانونو وړاندې کوونکو یعنې محافظ
کارانو او په هند کې د دوی د «د لاس آلې» لارډ
لیتون د هر ډول ممکنې پلمې د پیدا کولو په
لټه کې وو څو په افغاني څمکو به ډاګه تیری وکړي.
د ستالیتوف وظیفه چې کارل مارکس هغه «په
افغانستان کې د روسانو د شطرنج حرکت»[1] بللی دی

---

[1] К. Маркс и Ф. Энгельс Соч., т. 34, стр. 71. (روسي چاپ)

Письмо К. Маркса Ф. Энгельсу от 24 сентября 1878 г.
ف. انګلس ته د ک. مارکس د ۱۸۷۸ کال د سپتمبر د ۲۴ مې نېټې لیک.



Ketabton.com

د دې کار دپاره ډېره ښه پلمه وګرځېده. د ۱۸۷۸م
کال په پسرلي کې د روسي او انګليس مناسبات
ډېر نازک شول ځکه چې انګليس د سان‌ستيفانو
د ۱۸۷۸ کال د فبرورۍ د ۱۹ مې (د نوي جنترۍ له
مخې د مارچ د ۳ مې) د صلحې د تړون لغو کول
غوښتل. دواړه دولتونه جګړې ته تيار وو او د
مې په ۲۶ مه (د نوي جنترۍ له مخې د جون په
۷ مه) د ترکستان عمومي والي ک. پ. کاوفمن په
تاشکند کې بريد جنرال ن. ګ. ستالېتوف ته
هدايت وسپاره چې د هغه په اساس بايد دی
«د کابل ښار ته لاړ شي او د افغاني امير سره
زموږ د دوستانه اړيکو د ټينګېدو په هکله او
همدا رنګه د امکان په صورت کې د انګرېز سره
زموږ د وسلوالې نښتې د احتمال په وجه د يوې
اتحاديې د جوړولو په هکله بايد خبرې اترې وکړي».
د هيئت د مشر ټاکل ډېر مناسب وو.
د روسيې او ترکيې تر منځ د ۱۸۷۷-۱۸۷۸م کلونو
کې د جګړې ګډون کوونکی ن. ګ. ستالېتوف د
لوړې سويې د تحصيل خاوند و. نوموړی د
مسکو په پوهنتون او د ستر درستيز په نظامي

ACKU



Ketabton.com

اکادمیم کې خپلې زده کړې سر ته ورسولې. د روسيې په ختيزو ښارو کې ئې د ېره موده خدمت وکړ او په فارسي ژبه ئې خبرې کولای شواې. د ده سره لاندې کسان ملګرې وو- مرستيال ن. ای. رزګونوف، توپوګراف، دوه ژباړونکې (د انګریزې او ترکې ژبو) ډاکتر او د هغه مرستيال، او د يوه کوچنې ضابط تر قوماندانۍ لاندې يو ويشت تنه قزاقان. ټول تر ديرشو تنو څه زيات کسان وځوځيدل. په لومړۍ نظر دا کم ارزښته جز په ګوته کوو.

د ۱۸۷۸ ام کال د اګسټ په سر کې کله چې روسي سفارت کابل ته ورسيده د حکومت او خلکو له پلوه په ګرمۍ استقبال شول. د ۱۸۷۸ م کال د اګسټ په نهمه نيټه د افغان او روسي د تړون مسوده ترتيب شوه. په هغې کې ويل شوې و چې «د روسيې امپراطورې دولت د افغانستان د امير شير علي خان دولت يو خپلواک دولت ګڼي او غواړي لګه د نورو خپلواکو دولتو په شان د ښواتيو دوستيو په څير د هغه سره دوستانه اړيکې ولري». په يله ماده کې داسې ويل شوې چې د روسيې حکومت به د دې هيواد



Ketabton.com

په داخلي چارو کې مداخله و نه کړي». د تړون په مسوده کې د دوه اړخیزه سوداګرۍ پراختیا او د مختلفو متخصصینو په روزنه کې د افغانستان سره مرسته او داسې نورې چارې په نظر کې نیول شوې وې. دې موافقې بیله شکه د دوه اړخیزو ګټو او مساوات خصوصیت درلود. لیکن د اروپا د پېښو جریان د ستالېتوف د خبرو اترو موفقانه نتیجه ونشوه کړه. د ۱۸۷۸م کال د جولای په لومړۍ نېټه (د نوی جنتري له مخې د جولای په ۱۳مه نېټه) د انګلستان د فشار په اساس چې د نورو لویدیزو هېوادو له پلوه ئې ملاتړ وشو د برلین موافقه لاسلیک شوه. پدې موافقه لیک کې د سان ستیفانو د صلح د تړون په شرایطو نوې کتنه وشوه، او روسیه ئې د ډېرو مهمو ګټو څخه محرومه کړه خو د نوې جګړې د تهدید خطر ئې له منځه یووړ د کوم سره چې د تزار حکومت لا پخوا خپله اندېښنه ښودلې وه. د دې سره یو ځای د بریطانیې حاکمو محافلو پراخ سیاسي تبلیغات شروع کړل او داسې اعلان ئې وکړ چې د افغان او روسیې د اړیکو



Ketabton.com

مینگلیتیت د «هند دپاره تهدید» شمیرل کیږي. دي شورماشور ډېر زور وموند که څه هم د ۱۸۲۸ م د سپټمبر په ۱۶ مه د روسیې دباندنیو چارو وزیر آ. م. گرچاکوف د خاص پیغام په وسیله په رسمي توگه د انگلستان صدراعظم بیکنسفیلډ ته ډاډ ورکړ چې روسیه په افغانستان کې د خپل تاثیر په لټه کې نده او د هغې فعالیت باید د انگلستان لپاره خطر ونه گڼل شي. د کابل څخه د ن. گ. ستالیتوف احضار او حتی دي خبرې چې د ټرون کومه طرحه چې د توموږي په گډون تیاره شوې وه څه لازمي شیې ته ونه رسیده (څکه چې د پیټربورگ واکمنو عملاً هغه کوله څو چې په بین المللي مناسباتو کې ټکنیچ کم نشي) د بریطانیې د مطبوعاتو په قصدي لمسوونکو تبلیغاتو اغیزه ونه کړه.

په افغانستان کې د فعالې پراختیا ـ غوښتنې انگریزي پلویانو بیرته کوله څو د داخلي وضعیت څخه گټه واخلي. ا. تومپسون او د. گیر یټ داسې څرگندوي چې د برلین ترکانگریس وروسته (او بدي مفهوم زیاتوو چې د ستالیتوف د وظیفې د مسئلې تر تصفیه کیدو وروسته چې



Ketabton.com

د واکمن ناآرامۍ سبب شوی و) د بریطانیې حکومت وکړای شوای چې په آرامۍ د شیرعلي خان سره نورمال مناسبات مینځ ته کړي ولې وایسرا (یو ځل بیا زیاتوو چې د لندن له خوا تشویق شوی) «ډېرې لوئې لوبې» یعنې جګړې ته ترجیح ورکړه. د یقیني دلایلو څخه بو هم دا ښکاري چې ډېر نوي تخنیکي برالیتوبونه د بریطانوي وسلو د برترۍ سبب ګرزي او ځکه یې زړه ورکړی چې په جارحانه ډول وسلو (یو ډول نوي ټوپک و چې بریطانوي پوځ وسایل وو - مؤلف) استعمال دې کړي شي د افغانستان خوری سیمې ته چې وغواړي ورسیږي.»[1]

د لندن په منظوری لارډ لیټون داسې وټاکله چې د هیڅ شي څخه هم وانه ړوي. د ۱۸۷۸ م د اګست د میاشتې په اولسمه نېټه امیر کابل ته د بریطانوي امپراطورۍ د سفارت د لیږلو خبر ورکاوه کړ د ډیپلوماسۍ په تاریخ کې ډېر لږ داسې پېښیدله چې د دولت له کوم مشر څخه

---

[1] E. Thompson and G. T. Garratt, op. cit., p. 517



Ketabton.com

پوښتنه ونکړی چې دی غواړی او که نه چې ورلیږل شوی استاځی قبول کړی. خو وایسرا خپل «دلیل» درلود یعنې څرنګه چې شیرعلی خان د ستالیتوف او د هغه د همکارانو سره خبری اتری کړی وې نو پدې سبب دی د دې حق نه لری چې د انګریزی دیپلوماتانو سره کتنه رده کړی. سربیره پر دې افغانی واکدار ته به څوڅه توګه دا خبرتیا ورکړه شوې وه چې د لیټون د استاځو د منلو څخه انکار به د زړتی دښمنی عمل وګڼل شی.

د خواشینی ګونکی تصادف سره سم به همغه ورځ یعنې د اګست په اولسمه نېټه د امیر ګران زوی ولیعهد عبدالله جان د معدې د ناروغی له کبله مړ شو. نوموړی پلار چې د خپل حالت او مجبوریت په اساس ئې باید د ماتم مراسم پر ځای کړی وای هیله وکړه څو د هیئت راتګ وځنډوی ولی دا غوښتنه ئې ونه منل شوه.

د مدراس د لښکر سرقوماندان جنرال نیویل چمبرلین کوم چې د افغانستان پر ضد



Ketabton.com

په لومړۍ جګړه کې خپله د شېر علي خان سره آشنا شوی و د دې هیئت مشري په غاړه درلوده. سوله دې د قدرولو جنرال د یو آرایش شوی شکل په څېر و. د ده مرستیال ۳۷ کلن جګړن او د پېښور سیاسي کمیسار پېټېر لوئي ناپلیون کوانیاري په هیئت کې عمده رول درلود. دی د یوه ایطالوي زوی چې د ناپلیون جنرال و او د فرانسې د امپراطور په وياړ ئې ورباندی پوزتني نوم ایښودی و. نوموړی د اوسنت-هندي کمپنۍ نظامي ښوونځي په ادیسکومب کې سرته ورساوه، د انګلستان تبعه شو او بیا ئې په هند کې تیر کړ. کوانیاري په هغو نظامي عملیاتو کې چې د سرحدي افغاني قومونو په ځمکو کې سرته ورسېدل برخه اخیستې وه، د دې قومونو مشران او رهبران یې ئې تطمیع کول او هغوی ئې د امیر په ضد راپارول. همدارنګه ئې د جنګي عملیاتو دپاره د لازمو معلوماتو په راټولولو کې برخه درلوده. لنډه ئې دا چې ده د یوه انګریزي سیاسي افسر ټولې هغه معمولي دندې



Ketabton.com

سر ته رسولي کوم چې د يو ختيځ خپلواک دولت په سرحد کې وظيفه اجراء کوله. د هيئت په ډله کې تقريباً لس انګريزي افسران شامل وو. د دوی سره ۲۵۰ تنه عسکر ملګري وو. د ډول ډول پرسونل سره د چمبرلين د هيئت تعداد له يو زر تنو څخه واوښت چې په خپله يو کوچنی فوځ وو.

د هيئت د ليږلو خبر شير علي خان ډير کرکجن کړ. «د داسې ښکاري چې هغوی په زور راځي. زه د دې مخالف يم چې سفارت دې پدې طرز راشي. نو دوی به څرنګه راشي که زما موظف کسان زما له پلوه لازم دستور تر لاسه نکړي؟»

امير شير علي خان نواب غلام حسين خان ته کوم چې د لارډ لیټون ليک راوړی و په پوړتني ډول ځواب ورکړ. «د په اصل کې دوی غواړي چې ما بدنام کړي. زه لکه د پخوا په شان ستاسې ملګري او ستاسې خيرغوښتونکی يم. د روسيې سفير راځي څو زما په اجازه راځي. زما زړه د خپل زوی د لاس ورکولو له سببه له غمه ډک دی او نه شم کړی د کوم کار په باره



ACKU

Ketabton.com

ګي فکر وکړم»[1]. د ستالیتوف د هیئت نوري
او د ده مرستیال ن. ای. رزګونوف په لنډه
تو ګړندۍ توګه د بریطانیې د کړووړو ماهیت
مشخص کړی وو. « دا چې انګریزي سفارت
یوه خبره نشوي جګړه ده او پدې ګی هیڅ
شک هم نه شته».

د ۱۸۷۸م کال د سپتمبر په یوویشتمه
نیټه د چمبرلین هیئت د پیښور ځخه وخوځید.
په سرحد کې د خیبر د تنګی درې و هغې خوا
ته د افغانی کوټ علی مسجد قوماندان کپتان
فیض محمد خان د منګیني ټولګی مشر جګړن
کوانیاری ته اعلان وکړ چې که انګریزان د
امیر د اجازې پرته تور وړاندې وخوځیږی نو
وسله به پرې وچلوی. هیئت بیرته پیښور
ته ستون شو. د سپتمبر په دوه ویشتمه
د هیئت مشر وایسرا ته د خپلی
ناکامۍ خبر ورکړ- «زما لارده' لومړۍ صحنه
ختمه شوه....». لومړي جنرال حتی ګمان نشو

---

1) Argyll, Duke of, op. cit., p. 504-505.



Ketabton.com

کولی په څومره دقت ئې هغه پېښېنه ارزیابی
کړه. ده فکر نه کاوه چې ده په خاص ډول د بل
چا رول لوبولی دی. د ده د سفر د بدبې ښځې
ناکامی هدف درلود. هوکی د چمبرلین ټول
هغه ننش په نامه سفارت د هغې احساساتی
ډرام قصداً ترتیب شوی لومړی صحنه وه
چې په تراژیدی بدله شوې وه.
لیکن بیا هم ښځیله د دې ناټک ریژیسور
او منتظم بارون لینون په دې ټولو خبرو باندې
ډېر ښه پوهېده. د جنرال ځه ئې هغه
مطلوب خبر تر لاسه کړ کوم نه چې په بې صبرۍ
سترګې په لار و. ده لا دمخه د سپتمبر په
درویشتمه نېټه لارډ کرینبروک ته پیغام
استولی و څو د پیل شوی سیاسی دسیسې
مفهوم هغه ته روښانه کړی یعنی یدی ډول
چې امیر داسی بوه عمل ته تحریک کړی شی څو
چې هغه د دوستئ د نه غوښتولو په توګه وګڼل شی
هر څه په میل وار سره تیرېدل. افغانستان
ته په ادخالی لارو کی فوځ راغونډ بوه. په
انګلستان او د هغه په هندوی تر لاسی لاندې



9

Ketabton.com

سیمو کې په زړو ورځپاڼو کې د «دبې ساري سپکاوي» په هکله چې د بریطانوي امپراطورۍ په نښت شوي دي ګڼ شمېر مقالې خپرېدلې او دداسې غوښتنه کېږه څو هغه په وینو باندي پرېولل شي. د ۱۸۷۸م کال د اکتوبر په نولسمه نېټه د «دانډیا ټریبیون» معتبرې ورځپاڼې یوه مقاله خپره کړه چې د «دهغه جګړه چې په مخ کې ده» له معنی نه ډک نوم ورباندي ایښودل شوی و. په مقاله کې ویل شوي وو چې د افغانستان په ضد جګړه لا د ۱۸۷۲م کال په شروع کې باید پیل شوې وای څو د اروپا د وضع د ګډېدو له کبله هغه ونه نښتنه. اوس د برلین تر کانګرس وروسته زاړه خیالونه بیا راژوندي شول. ورځپاڼه زیاتوي کله چې شیر علی خان د ناخاپي سفارت له منلو څخه ډډه وکړه نو انګرېزي حکومت ته عمده پلمه په لاس ورغله او جګړه به د لازمو تیارو تر نیولو وروسته شروع شي.

د «دانډیا ټریبیون» دا لیکنه څو لا یو



Ketabton.com

شاهد و چې کابل ته لښکرکښي د ستالیتوف
د وظیفې سره هیڅ اړه نه درلوده. باید په دې
یکې ټینګار وشي چې د روسي دیپلوماتان په
ټولو شیانو ډېر ښه پوهېدل که څه هم
لندن غوښتل چې د پېښو ماهیت بل ډول
څرګند کړي. د ۱۸۷۹م کال د جنورۍ په پوولسمه
نېټه (د نوي جنتري له مخې په ۲۳مه) آ. م.
ګورچاکوف په لندن کې د روسیې سفیر
پ. شووالوف ته لیکلي وو چې د انګلیس
واکدارانو د امیر د موقف څخه د هغه عمل
د پاره استفاده وکړه کوم چې هغوی ډېره
موده ورباندې فکر کړی او تیار کړی ئې و
دومره نه د خپلو هندي سرحدونو د امنیت
لپاره له څومره چې په یوه ګوزار د خپل
حیثیت د اوچتولو دپاره دوی ته لازم وو».
لارډ لیتون دې ته چمتو و څو چې د
تېرې ښاره ورکړي، لیکن هغه دلیلونه چې
د دې کار دپاره موجود و دومره جعلي جنبه
ئې درلوده چې په حکومت کې د ناندریو سبب
شول. صدراعظم لیبس، د کورنیو چارو وزیر



ACKU

Ketabton.com

ګروس او ځینو نورو اشخاصو د دې څخه انکار وکړ چې د شیر علي خان په کړو وړو کې دې د جګړې دپاره پلمه پیدا کړي. دغوی اعلان وکړ چې د پارلمان د نمایندګانو په مجلس کې به محافظه کاران (او مخالفین لیبرالان ترڅو دغوی لا زیات) وکړای شي څو د حکومت د طرفدارۍ څخه ډډه وکړي که چیرې د جګړې د تصویب پر مسئله باندې په پارلمان کې بحث وشي.

بیکنسفیلد او سالسبري پیشنهاد وکړ چې باید «د انګلستان زور او قاطعیت وښودل شي»، د کرمې دره د «مادي تضمین» په توګه ونیول شي څو افغانستان د انګلیس د امپراطورۍ غوښتنې ومني. دې تصمیم د پارلمان له پلوه د منظورۍ هیله نه درلوده. ګرینبروک نوموړی پلان رد کړ او دغه ئې یو بې مثبت اقدام وګاڼه کوم چې په ټولو ځایونو کې به د «کمزورۍ د عمل» په توګه وګڼل شي. د هند د چارو سکرتر د جګړې غوښتنه کوله ولې داسې ئې ښودله چې د جګړې دپاره تیاری لا سر ته ندی رسیدلی.



Ketabton.com

د وزیرانو کابینې فیصله وکړه چې په اعظمي توګه د تېرې لپاره تیاری ګرندی کړی او لیټون ته ئې دستور ورکړ چې د جګړې دپاره تر څمتو کېدو پورې امیر ته الټیماټوم ورکړی چې موده ئې د ۱۸۷۸م کال د نومبر تر شلمې نېټې پورې دوام وکړی. د الټیماټوم د موادو څخه یو هم دا و چې د انګلیس حکومت له شیر علی خان څخه غوښتنې و چې نوموړی باید د هغه څه دپاره چې د علی مسجد په سیمه کې واقع شوی وو بخښنه وغواړي او همدارنګه د انګلستان دائمي هیئت ومنی.

دیوک ارګیل ثابته کړې وه چې «د تاریخ پاڼې د داسې سندونو او اعلامیو څخه ډکې دي چې د مقتدرو شاهانو او حکومتونو له پلوه صادر شوي کوم چې هغه ګوله چې په مناسبو پلمو د ډېرو کمزورو دولتونو پر ضد د زور، جبر او بې عدالتۍ کړه وړه پټ کړي».

نوموړي زیاتوي چې دد که څه هم دا خبره پوره د شک وړ ده چې پدې ټمبې لست کې دې یو داسې مثال پیدا شي چې د خپلو



Ketabton.com

اتهاماتو او خبرو له لحاظه تر هغه التیماتوم غیر عادلانه او بې اساسه وې کوم چې د ملکې حکومت د کابل امیر ته ورلیږلی و».

شیر علی خان د خپلو پیاوړو همسایګانو د سیاست په اهدافو ډېر ښه پوهېده، خو احتمال لري چې د منځ ته راتلو حالاتو په جدیت نه و پوه شوی. په هر حال د نامعلومو علتونو په اساس د ده ځواب تر ټاکلې مودې پورې وځنډېده. افغاني واکدار توضیح کړه چې د چمبرلېن د منلو څخه ئې د انګرېزانو د خیالونو له ښېرې انکار کړی. نوموړی داسې لیکلي و چې «د که چېرې دا ښېره بې اساسه وای، که د برېطانیې حکومت دوست وای او د زور او تهدید څخه ئې کار نه اخیستلی نو د هغه په منلو ئې به ئې انکار نه وای کړی لکه څرنګه چې د دوستو او همسایه دولتونو تر منځ دا دود نه واقع کېږي...»

لنډه ئې دا چې که امیر وایسرا ته هر څه لیکلي وای تو دې به د نوموړې دپاره ډېر لږ فرق هم نه وای لرلی. د ۱۸۷۸ م کال د نومبر د



Ketabton.com

بووېشتني نبټي په سپيده داغ کي ۳۵ زره کسيز فوځ چې په دريو قطارو وېشل شوی و د کويټي څخه د کندهار په لور، د کوهاټ څخه د کرمې د درې له لارې غزني او کابل ته، د پېښور څخه د خيبر د درې له لارې کابل ته وخوځېد.

خو د الټيماټوم د مودې څخه تقريباً نيمه مياشت پخوا د نومبر په نهمه د حکومت مشر د لندن د ښاروالۍ په ماڼۍ ګيلډهال کې اورده وينا وکړه. نوموړي د خبرو په ضمن کې وويل چې «د هند شمال لوېديځ سرحد يو تصادفي او غير علمي سرحد دی» او پدې سيمه کې ټول وضعيت د انګليس د هغو هڅو په اثر منځ ته راغلی دی څو دا حالت بدل کړي.

نو پوښتنه دا ده چې په ګيلډهال کې د شير علي خان ګناه څه وه؟ په ګيلډهال کې راغونډو شوو وزيرانو د بيکنسفيلډ توضيحات په ښکاره حيرانتيا او ناآرامه سره واورېدل او ليبرال مطبوعاتو او حزب د دولت پر ضد په فعاليت پيل وکړ



Ketabton.com

او د هغه سیاست ئې د بې مفهومه او جګړه ماره د سیسې په څېر مشخص کړ. دا موضوع زموږ معاصر تاریخ پوه پیرسون په پوره ډول توضیح کړې ده. ضمناً هغه په حقیقت کې همانغه نشان هم وه.

... د دې سره سره انګریزي قوتونه په بریالیتوب سره په وړاندې روان وو، په قهرمانانه او ټینګ خو بې ثباته مقاومت ئې غلبه موندله ځکه چې افغاني لښکر ډېر ضعیف، تعداد ئې لږ او ډېره خرابه وسله په لاس او همدارنګه ئې ښه تعلیم هم نه وو لیدلی. توپونو او تېزویشتونکو «د ګاتلینګ ټوپکو» چې د راتلونکو ماشینګنو لومړی شکل وو د بریطانوي عسکرو لپاره لاره پرانیستله. په اصطلاح د «مقدس جیورج» سواره نظام یعنی د سروزرو پیسو هم ډېر رول لوباوه چې د ځینو نااستوازه او ګټه غوښتونکو قومي مشرانو د تطمیع کولو لپاره خرڅېدلې هم بې تاثیره نه وې. اشغالګرو به د لارې پر سر کلي او بانډې لوټولې او ورته به ئې اور اچاوه.



Ketabton.com

په بې رحمۍ سره په ټې هر مقاومت خپه کاوه.
د ۱۸۷۸م کال د دسمبر په دوهمه نېټه د کرمې قطار د پیواړ په کوتل باندې حاکمیت وموند؛ د دسمبر په شلمه د پېښور قطار جلال آباد تصرف کړ او جنوبي قطار د ۱۸۷۹م د جنورۍ په اتمه کندهار ته ورداخل شو. که څېرې ژمی نه وای چې په تنګو غرنیو درو کې ئې د انګریزي لښکرو حرکت د مشکلاتو سره مخامخ کړی او نو داسې به ممکنه وای چې تقریباً بدون له کومه خنډه د کابل په لور مارش ته دوام ورکړی شي.
په لندن او کلکته کې د افغاني واکدار عکس العمل ته منتظر وو، چې اوس به دی بالاخره تسلیمیږي؟! دا عکس العمل غیر منتظر و. نازک او لطیف جمال پرست بارون لیټون کوم چې د ده ځینې معاصرینو د «سملې د شاعر» په نامه بللی و شیر علي خان نیمه لیوني وحشي ګڼلی و. دا توصیف بلکل جعلي او دروغ وه.
دري پنځوس کلن امیر بې نظیره نرم چلند، با نزاکته، صلح خوښوونکی او مهربانه سړی و.

ACKU
Ketabton.com

نوموړی د ډېر فعاله کنج کاوه عقل څښتن و.
ده د بین‌المللی پېښېږ د انکشاف د څېړنې
سره مینه درلوده، د ټول جهان د تاریخ په
هکله ئې ښه معلومات درلودل او په خاصه
توګه ئې د لومړی پېنې د فعالیت سره دلچسپی
درلوده. یو سړی چې قاضی عبدالقادر نومېده
او څخه کې ئې د بریطانوی واکدارانو سره په
پېښېږو کې خدمت کړی و د شیر علی خان
خط مکاتبه په انګریزی ژبه لیکله او ده ته
به ئې انګلیسی اخبارونه لوستل. نوموړی
قاضی بیله ښکه د څېلو ښځوانیو بادارانو دپاره
خدمت ته دوام ورکاوه.

د ۱۸۷۸ م کال د دسمبر په دیارلسمه
امیر څپلو درباریانو ته اعلان وکړ چې دی
به په روسیه کې پیترزبورګ ته ولاړ شی څو
هلته بین‌المللی کانګرس راغونډ کړی شی او
په هغه کې د انګلستان تېری د ده پر هیواد
وښندل شی. دا د افغانی واکدار د سیاسی
ساده‌دلی شاهد و. د کابل څخه تر روانېدو
دمخه شیر علی خان څپل زوی یعقوب خان



Ketabton.com

د کورنۍ نظربندۍ څخه خوشې کړ او په موقتي توګه ئې ده ته د چارو واګې وسپارلې. داسې ګمان کېږي چې امیر داسې فرض کړې و چې انګریزان به له یعقوب خان سره ډېر باعاطفه چلند وکړي. د امیر بهیر د لږو ساتونکو سره مزارشریف ته ورسېد او هلته سرحد ته نژدې د آمو د سیند تر څنګه ډېره موده پاته شو. د جبهو څخه د ماتو ور خبرونه نه رارسېدل او امیر داسې فیصله وکړه چې پدې شرایطو کې به هېواد پرېنه ږدي. سربېره پر دې د ده پښه په سخته ناروغۍ اخته شوه. د تورو پېړیو د ملام طریقو چې د محلي ډاکټرانو او طبیبانو له پلوه عملي کېدې ناروغي لا پسې شدیده کړه. د ۱۸۷۹ م کال د فبرورۍ د میاشتې په یوویشتمه نېټه محمد شېرعلي خان د ګانګرین د ناروغۍ په اثر د دنیا څخه سترګې پټې کړې.

لږ تر لږه باید دوه تنه د منځه تللي وای تر څو چې په ناڅاپي توګه د انګلیسانو په طبعیت برابر یعقوب خان امیر شوی وای.



Ketabton.com

لا څه موده پخوا د امیر شیر علی خان د قدرت په زمانه کی د ده او تخت تر منځ د سلطنت ولیعهد شیرپارس کلن عبدالله جان خنډ شوی و. د څه ناڅه شپږو میاشتو په موده دواړه نابېره مرګ له منځه واښستل. دا وضعیت خپل په خپله او د هغه راوروسته عواقب د معین تامل اساس ږدی.

د افغان- انګلیس د لومړۍ جګړې قهرمان اکبر خان د ۲۹ کلنۍ په عمر د زړه څخه سترګی پټی کړلې. «د ځینو کسانو په عقیده د نامتو وزیر اکبر خان مړینه د الماسو د هغو زهرلړلو څخوزو د سببه وه چې ده ته ئی د پردیو په لمسون په مړوی کی ګډ کړی وو». افغانی مؤلف سید قاسم رښتیا په ادبی ډول د انګریز لپاره د پردیو کلمه راوړی ده ځکه چې دوی هغکله د دوست محمد خان زوی د هغه مهم رول له کبله چې د تېری کوونکو پر ضد په مبارزه کی ئی لوبولی و نه بخښنه. بریطانوی تاریخ پوهان په ډېره واضحه توګه دا خبره تائیدوی چې په عالی توګه تربیه شوو او لطیفو اشرافو



Ketabton.com

خارجي سياسي کارکوونکو د له منځه وړلو څخه
دريغ نه کاوه کوم چي ددوی په درد نه خوړل.
موريس کولينگ ليکي چي د عبدالله جان مور
باروت ليتون ته پېشنهاد وکړ چي خپل مېړه
شير علي خان ته به زهر ورکړي، خو که چېرې
وايسرا د دې د زوی پادشاه کېدل
تضمين کاوه. دې موضوع باروت ته الهام
وروبانيه او په دې باندې ئې دی متيقن
کړ چي په کابل کې د انگريزانو پلوی کوونکي
ډله موجوده ده. او ده نيت درلود په هغه
صورت کې چي امير د وايسرا د غوښتنو
څخه سر وغړوی نو دا ډله به د کودتا دپاره
ولمسوی.

دا ممکنه ده چي د يعقوب خان پلويانو
لومړی عبدالله جان له منځه وړی وی او تر
هغه وروسته ئې د بريطانوی اجنټانو په وسيله
چي د پېښور د جاسوسی په اداره پورې
ئې اړه درلوده خپله شير علي خان هم به
همدې ډول له منځه وړی وی. روسي ډاکټر
ای. ل. باورسکي چي د دې دواړو اشخاصو



ACKU
Ketabton.com

د ناروغۍ د زیاتېدو او مرګ په وخت کې حاضر و په ډېره حیرانتیا او خوف سره د دوی د علاج طریقې لیکلې دي. نوموړي نظر څرګندوي کړی چې دا په پوره توګه ممکنه وه چې امیر ته نجات ورکړی شوی وای...

سستی اراده، متردد او ساده یعقوب خان سلطنت ته ورسېد کوم چې د پخوا څخه د انګریزانو د نمایندګانو سره تار درلود. ده د انګلیس جدي خوښتنو ته په ورین تندي غاړه کښېښوده. د ۱۸۷۹م کال د مې په سر کې نوموړي د یوې ډلې سپورو سره د ګندمک کلي ته لاړ چېرې چې د انګریزانو د لښکرو یوه ډله د کابل په لور تر ټولو نژدې رارسېدلې وه. په هغه ځای کې ئې د جنرال سموئیل برون د سیاسي منصبدار جګړن کوانیاري سره په خبرو اترو پیل وکړ. د مې په ۲۶مه دوی د صلح تړون لاسلیک کړ کوم چې سمدستي د لارد لیټون له پلوه تائید شو.

د ګندمک تړون افغانستان په پوره توګه د باندیني سیاسي خپلواکۍ څخه بې برخې



Ketabton.com

کړ او همدارنګه ئې د هغه داخلي سياسي استقلال تر ډېرې اندازې پورې محدود کړ. بريطانوي امپراطورۍ د دې حق پيدا کړ چې د هېواد په پايتخت کې خپل سياسي نماينده ځاى په ځاى او په هر وخت کې چې وغواړي افغاني سرحد ته خپل «داجنټان له کافي شمېر ساتونکو» سره واستوي. امير د انګلستان نه پرته د نورو هېوادو سره د هر ډول مناسباتو څخه صرف نظر او تعهد ئې وکړ چې په هر اړخيز ډول به د انګرېزي اتباعو سره د سوداګرۍ (او په هغه جمله کې د ترانزيټي تجارت) اړيکې ټينګې کړي. ده ته ئې «د په مهربانۍ سره» د کندهار او جلال آباد افغاني ښاروته راوګرځول خو انګرېزي واکدارانو د کرمې، پښتين او سيبي سيمې د هغو د ټولو نفوسو سره له افغانستان څخه بېلې کړلې او همدارنګه ئې د خيبر او ميچنۍ په کوتلونو خپل کنترول ټينګ کړ. په دې ترتيب انګرېزي فوځونو د دې امکان موندلی چې د هېواد په حياتي مرکزونو ډېره ژر ضربه



Ketabton.com

وارده کړی. ګوندی د ملنډی په ډول امیر ته اجازه ورکړی شوه چې خپل نماینده د هند د وایسرا او ګورنر جنرال دربار ته واستوی. سربېره پر دې افغانی واکدار ته«د هر ډول خارجی تجاوز په صورت کی» د بیسو، فوځ او وسلې کومک تضمین شوی و او هر کال د ۶۰۰ زره روپیو مبلغ هم د مالی مرستی په توګه ټاکل شوی و»[1].

روسی ختیځپېژندونکی ل. ن سوبالیف لیکلی و چې«د ګندمک د تړون د متن لوستنه په ډېره روښانه توګه د انګریزانو دا غوښتنه څرګندوی چې په ټینګه خپل قدرت د آمو د سیند تر ښئی غاړی او تر هرات پوری په ټول افغانستان ټینګ کړی. د ګندمک تړون وروسته د افغانستان د خپلواکئ په

[1] Collection of Treaties, Engagements and Sanads, relating to India and neighbouring countries. Compiled by W.U. Aitchison. vol. XIII, Calcutta, 1933.



Ketabton.com

هغه خبره هم نشوه کېدای».

د یعقوب خان پوره تسلیمېدل د افغانانو د پراخې کرکې او کینې سبب شول. د امیر کشر ورور محمد ایوب خان چې د هرات حکمران وو د سختې نارضایتۍ په ښکاره کولو دا اسارت آمېزه تړون وغانده. په عملي توګه بوه ډله فیودالانو چې تعداد ئې ډېر ناڅیز وو او دې ته تیار وو چې د دښمن سره همکاري وکړي د دې تړون هرکلی وکړی. لیکن بیا هم بریطانوی حاکمو محافلو خوشحالي کوله ځکه چې دوی خپل هدف ته ورسېدل. په هغه سیاست مدارانو او نظامیانو چې په افغانستان د انګریزي تسلط په ټینګولو کې شامل وو د نښانونو باران وو. کوانیاري د «سر» د لقب او د باني د نښان خاوند شو. لیتون ته د کونت لقب ورکړی شو. وایسرا په هغه زمانه کې په ډېره بېړه افغاني پایتخت ته رسمي سفارت واستاوه. سفیر او مختار وزیر بېګر لوئی ناپلیون کوانیاري وټاکل شو. دی سرحدي خدمت ګذار د ډیپلوماسۍ کوم



Ketabton.com

ځلاند استعداد نه درلود. «د دی د آرزو لرونکو او بی‌قراره اعصابو خاوند او د حکم چلولو خصوصیت لرونکی، د شخصی شهرت د لرلو ډېر تږی دی. نوموړی داسی سړی نه و چې هغه جسمانی او معنوی مشکلات درک کړی او وسنجوی کوم چې د شهرت د ګټلو په لار کی مخامخ کیږی.» دا وو د کوانیاری په هکله د انګریزی مؤلفینو نظر[1]. حتی جنرال ن. چمبرلین چې له ده سره ئې مینه درلوده اعتراف کړی و چې نوموړی بی‌سنجشه کړو وړو ته لاس نحزوی، مغرور دی او د ده دا ډېره خوښیږی چې هغه ځوک چې ورسره تماس لری په کومه «د شخصی عاطفه» نه بلکه په ویره سره تر تاثیر لاندی راولی.

د جولای په ۲٤ کوانیاری د سفارت د عملې او جنګی دستې سره کابل ته ورسید. امیر د ده په حکم خپل قصر ته نژدې د بالاحصار په کلا کی کومه چې د پایتخت په جنوب ختیزه

---

(1) Arthur Swinson, op. cit. p. 166.



Ketabton.com

برخه کې پرته ده ځای ونه نیوه. لا د لومړیو ورځو
څخه کوانیباری داسې چلند خوره کړ چې ګواکې د
هیواد باصلاحیته خاوند دی. په ډېره بې شرمۍ
ئې د یعقوب خان او د ده د رعیت تر منځ په
مناسباتو کې مداخله کوله، د داخلي نفاق اور
ئې بل کړ او په هره ممکنه وسیله ئې هڅه
کوله چې د انګرېز د پلوي کوونکو فیودالانو او
درباریانو وضعیت ټینګ کړي او امیر به ئې
سپکاوه او داسې نور.

جګړې د افغانستان په اقتصادي حالت
په تېره بیا په کابل سخته اغېزه وکړه. د انګریزي
لښکرو تهاجم چې معمولاً بې حده زیات خدمت
کوونکي «د پرسونل» ورسره ملګری وو د هیواد
ناڅیزه خوراکي مواد چې بیله هغه هم څه نه
وو ټول تمام کړل. د ډېرو سیمو اوسېدونکو
په تنګسه او نیمه وږي ډول ژوند کاوه. خزانه
تشه وه. دولتي مامورینو او عسکرو ته په
میاشتنو میاشتو تنخوا نه ورکول کېده. په
بازارو په تېره بیا په پایتخت کې نرخونه ډېر
زیات پورته شول. د بریطانوي سفارت تر ڼانګ



Ketabton.com

وروسته چې له مصرف څخه ئې مخ ته اداوه په
هېواد کې پورتنی حالت را منځ ته شوی وو.

خو په خاصه توګه ملي او سیاسی سپکاوی
او د پښتانو تعلیمانو خوشحالیو افغانی وطن پالونکی
سخت ځورول. د انګلیسی هیئت پر شاوخوا د
کرګی او تحقیر دیوال را چارپیر شوی وو. دې
ټولو خیل ځان ته امیدواره کوانیاری ډېر لږ هم نه
سراسیمه کاوه. ده د خیل بوه اجنټ په خواب
کې هغه وخت چې هغه د ښار د بد وضعیت
څخه ورته خبر ورکړ په ډېره بې اعتنائی وویل
چې «هغه سپی چې غپېږی سړی نه خوری!»
د ۱۸۷۹ م کال د سپتمبر په دوهمه ماښام د
سفارت څخه هند ته تیلګرام واستول شو چې
پدې ټکو ختم شوی وو: «د هر څه سم دی». د
سپتمبر په دریم سهار په کابل کې د پاڅون اور
ولګېد. په همغه ورځ ئې د انګریزانو استوګنځی ته
نژدې افغانی عسکرو ته تنخوا ورکوله. پیسې
کمې شوې او د څو میاشتو تنخوا ئې هم نه وه
ورکړې. پاربدلی سرتېرې په کورونو او څوکیو کې
سره خپاره شول، د وطن پالنې شعارونه ئې په



Ketabton.com

چیغو ویل او ځینو د سیاسي نمایندهګۍ استوګنځي په کانو ویشتنه د هغه ځای ځمه په دوی باندې هز وشو- د ځینو د قوله دا هز ګوانیاري کړی و چې د هغې په اثر بو سرتیری وژل شوی وو، تر دې وروسته دوی د چونیو و لور ته په غبله وسله پسي وخغاستل او د نیار د اوسیدونکو په مرسته ئې د هبواد په زړه کې د علیم په ځاله یرغل راوړ. امیر بی ځایه هڅه کوله څو اخ و ډب قرار کړی او په دې منظور ئې ښیشتی ځای ته لومړی ولیعهد قرآن په لاس وروالستاوه او ورپسې د فوځ عمومي قوماندان داود شاه خان ولیږه. د شپې د تیارې په رارسیدو سره سفارت تاروطار شو او ګوانیاري او د هغه همکاران ټول ووژل شول.

د دې پیښې خبر په انګلستان کې او په هند کې په بریطانوي محافلو کې د غضب څپې راپورته کړې. ورځپاڼو غوښتنه کوله چې د کابل باید د ځمکې د مخ ځمه ورک



Ketabton.com

کړی شی» او افغانستان په «د سل هاوو نوتو وویشل شی»[1]. د حکومت شخصیتونو د خپل سیاست د تیرئه کولو په خاطر هڅه کوله چی د افغانستان د پایتخت پیښی د ناآرامی یوه تصادفی لمبه وښیی کومی چی د فوځیانو د یوې شورشی ډلی له پلوه منځ ته راغلی. د لیبرالانو اپوزیسیون په ډېره اساسی توګه هڅه د ملی پاڅون په نامه یادی کړی وی[2]. د ۱۸۷۹ م کال د سپتمبر په شلمه د لیبرالانو ورځپاڼی د تیرو شوو پیښو ډېر ښه تحلیل کړی وو یعنی «... موږ نه دخپلو وحشی عسکرو له پاربدلی غضب او کینی سره ډېری ووهلی کومو چی خپله کینه او غضب زموږ په استازی

---

[1] مثلاً د «Army and Navy Gazette» چی د نظامیو نظریې ئې څرګندولی د ۱۸۷۹ کال د سپتمبر د میاشتی د ۲۰ می په ګڼه کی همدغه خوښتنه کړی وه.

[2] P. W. Clayden. England under Lord Beaconsfield. L., 1971.



Ketabton.com

باندی سوره کړه داسی معلومیږی چی موږ د خلکو د پاڅون سره مخامخ نشوی یو کوم چی د انګریزانو موجودیت پارولی او زموږ په ضد ئی په زړه وکی د کینی اور بل نشوی... دیو وخت به نیږ نشی تر څو چی مغلوب نشوی خلک تسخیر نه څاره کیښږدی».

بیکنسفیلد او ده لاس پوڅی لیتون په دیره لږه توګه هم نه غوښتل چی د استعماری لوټماری او زور اچونی څخه لاس واخلی. د سپټمبر په څلورمه یعنی څرنګه چی په هغه څه خبر نشول چی په کابل کی نیږ نشوی وو وایسرا صدراعظم ته د فعالیت نوی پروګرام وړاندی کړ چی په هغه کی د خودارادیت حتی د ناخیزو پاته نشونو د له منځه وړلو غوښتنه نشوی وه کوم چی په افغانستان کی پاته وو. سربیره پر دی ده خیال درلود چی د ځمکی د مخ څخه افغانستان د یو دولت په څیر بېخی ایسته کړی. لیتون داسی پلانونه جوړول چی هغه به څو کوچنیو خانیو باندی وویشی او د بریطانوی امپراطوری پوره تسلط دد دایاتیبی



ACKU

Ketabton.com

ځغه د آمو تر سیند پورې ...» ټینګ کړی. دا پروګرام د لندن له خوا منظور شو. حکومت وایسرا ته د ټیلګراف په وسیله اطمینان ورکړ چې د هغه د ډېرو ځوځو تصمیمونو به په نامحدوده توګه ملاتړ وکړی. بریطانوی ځواک کندهار بیا ونیو. د هغو بریطانوی عسکری ټولګیو ځغه چې افغانی پایتخت ته تر ټولو نژدې د کرمې په دره کې پرتې وې د کابل دسته د برید جنرال ف. رابرتس په مشرۍ جوړه شوه. د افغانی ملی لښکرو د سخت او فداکارانه مقاومت په ماتولو سره؛ د ځینو قومونو د ناآستواره قومی مشرانو په تطمیع کولو او د داسی اعلامیو په خپرولو سره همدا راز چیرې چې به خطر پیدا شو د هر راز ښیګڼو د وعدو په ورکولو سره رابرتس د سپتمبر په ۲۷ د شترګردن کوتل لاندې کړ او د لوګر په دره ئې برید وکړ کومه چې په کابل ورختمېږی.

د خوبتی په کلی کی په نایبره توګه یعقوب خان د خپلی سورلی سره د جنرال مخ ته را پیدا شو چې د هغه د حیرانتیا سبب شو.



Ketabton.com

ښارې وراني او زړه نا زړه امير د دوو اوروتو تر منځ گير پاته وو. وطن والو ته دې د هغه شرم وړ ترون له کبله نه بخښنه. او زموږ په زمانه کې افغاني تاريخ پوه د ده د سلطنت زمانه ډېره په روښانه توگه مشخصه کړې ده چې «د نوي امير واکداري د گندمک په رسوا ترون سره شروع شوه... او د خلکو په عمومي پاڅون او کابل ته د انگريزانو په دوهمه لښکرکښۍ پای ته ورسېده. پدې ترتيب محمد يعقوب خان د ابد لپاره خپل نوم لکه‌دار او رسوا کړ...»[1]

د ۱۸۷۹ م کال د اکتوبر په شپږمه د چارآسياب په کلي کې چې د پايتخت څخه لس کيلومتره ليرې پروت دی ډېره سخته نښته ونښوه. که څه هم افغاني بزگرانو او کسب‌گرو سره د دې چې دوی ښه وسله نه درلوده او ښه روزنه ئې هم نه وه ليدلې مېړانه او قهرماني وښوده خو د انگرېزي تخصص لرونکې لښکر په

[1] Сеид Касем Риштия. Афганистан в XIX веке. М., 1958, стр. 417.



ACKU
Ketabton.com

مقابل کې ئې تاب رانه وړ. د اکتوبر په دولسمه رابرټس پایتخت ته داخل شو. په بله ورځ د «ډیلي نیوز» ورځپاڼې خبر ورکړ چې «د کابل ښاوخوا ګلی ټول موږ ته دښمن دی». په ښار کې همدغسې وضع وه. انګریزي قوماندانۍ فیصله وکړه چې په غضبناک زور سره خپل موقف ټینګ کړي.

د اکتوبر په شپلسمه د کوانیاري د پخوانیو سیاسي نمایندګیو په ځکې پنځه تنه په هیئت بانوی د برغل په تور په دار ځړول شوي وو چې د دوی په ډله کې د کابل لوی امام او دوه تنه جنرالان شامل وو. تر دې وروسته نوی عام قتل او وحشیانه مجازات تر سره شول. رابرټس په خونبېړ سره د امیر «داستعفا قبوله کړه». (د ځینو معلوماتو له مخې هغه ئې مجبور کړی وو). ځرنګه چې د سفارت په ویجاړېدو کې د یعقوب خان پر ضد ښکاره شاهدان موجود نه وو نو دی ئې پدې تهمتي کړی وو چې کوانیاري ته ئې لازمه مرسته نه وه رسولې او پدې ترتیب ئې تومورې هند ته واستاوه.

لیکن زور څه فایده نه کوله. افغاني وطن



Ketabton.com

پالوونکو مبارزې نه دوام ورکړ. دوی خبر شول چې اشغالګر به په بالاحصار کې مېشته شي نو لدې کبله ئې د باروتو تحویلخانه چې هلته وه وچوله. په نخزنی کې جنرال محمدجان خان وردګ او ملا مشک عالم د تېری کوونکو د مقابلې لپاره قوتونه راغونډ ول. د دوی جنګیالو به په پرلپسې توګه د دښمن په ګارنیزونونو باندې شبخون کاوه او د ۱۸۷۹م کال د دسمبر په څورلسمه ئې رابرتس ته د آسمائی په غرو کې سخت تلفات ورکړل او دی ئې مجبور کړ چې د شیر پور ټینګ انګړ ته ننوزي. د کابل په شاوخوا کې وسلوالی نښتې پای ته نه رسېدې. دوی به په منظمه توګه بری تر لاسه کول او د کابل د «نمال» نوم ئې وګاټه. په ټولو ټپول شوو ځایو کې متشنج وضعیت حکمفرما وو. د ځینو سیمو واکداراتو چې تېری کوونکو ټاکلی وو خپل ژوند او واکداری تر هغه ساتلی شوای څو چې بریطانوی فوځ دوی ساتل. د کابل ساحوی دسته تقریباً د هند نیمه تشکیلولی وه. انګریزان د داسې یوې ماتې ځنه په وېره کې وو کومه چې په ۱۸٤۱-۱۸٤۲م کال



Ketabton.com

کې د دوی په نصیب شوی وه....

لندن په «د سازښتکار» امیر یاندی د اسارت آمیزه موافقې د تحمیلولو د کوښښونو تر ناکامۍ وروسته د افغانی دولت د توجه کولو په لټه کې وو. په تهران کې د بریطانیې نماینده تومسن د ایران سره ایران ته د هرات د ورکولو په هکله خبری اترې پیل کړلې که څه هم دا ښار په قانونی توګه محمد ایوب خان اداره کاوه. ښاه ته دې خاص «سوغات» د ځان سره اضافی هدف درلود. هغه دا چې دی د روسیې سره په رقابت کې د انګریزانو پلوته ته جلب کړی. «دا یقینی خبره ده چې انګریزان په زندی سره کوښښ کوی چې فارسیبان د خپلو خیالونو په حلقه کې کښیباسی کوم چې د روسیې پر ضد متوجه دی». د روسیې د جنګ وزیر د. آ. میلیوتین دا خبری اترې د روسیې پر ضد عکس العمل وګاڼه. د روسیې مخالفت د هرات د بېلولو ختم ښو.

لیکن په هغو مواردو کې چې د انګریزانو منځه هیڅ څه نه نیوله دوی خپلې طرحې عملی کولې. د ۱۸۸۰ م کال د اپریل په پنځمه لارډ لیټون د



Ketabton.com

مرحوم امیر خپل او همنامي شیر علي خان ته خبر ورکړ چې دی د کندهار پر سیمه د حکمرانۍ د «والي» په لقب مفتخر کېږي. د ۱۸۸۰م کال د مې په یوولسمه شیر علي خان د کندهار د خودمختار دولت د خپلواک واکدار په حیث په رسمي توګه تعین شو. سره له هغه پدې دولت کې انګرېزي فوځونه پاته شول او واقعي قدرت د انګرېزي سیاسي کمیسار اولیور سنت جان تر اداري لاندې و. د والي ټوله خپلواکي پدې کې وه چې پیسه د ده په نامه وه او په جوماتونو کې «خطبه» د ده په نامه ویل کېده او «د کندهار کوچنی لښکر» جوړ کړی شو.

لکه چې معاصر امریکائي لیکوال لیکلي چې بارون لیتون او د هغه حامیانو د کندهار د اداري لپاره «د مناسب کاندید» پیدا وکړ او همدا رنګه ئې د کابل دپاره هم د داسې شخص لپاره په آخره درجه ضرورت درلود. دلته وضعیت همغسې متشنج پاته وو. د انګرېزانو ځنې ئې په افغانستان کې ډېره ګډه ګوله او هغوی هم په دې ډېر ښه پوهېدل. د خونړی



ACKU

Ketabton.com

جبر او د انګریزانو اشخاصو د تطمیع سره سره د پایتخت په ښاوخو کې ښېښتي نه نخلی کېدلې. « د کابل تمال »، ګړی په ګړی د ښېربور د کلا انګړ ته رالنډېدل. د ملي لښکرو (ابله‌جاربانو) د حملو ردول ډېر مشکل کېدل. جګړې ډېر وسایل غوښتل خو د هغې داسې پای چې د برېطانیې د حاکمو حلقو په درد ټی خوړل هیڅ پیشبینی کېدای نشوای. د تجاوزي سیاست ډېرو سختو پلویانو دا حس کړه چې افغان اولس به په ګونډو نه شي کړای. په دې خبره هغې لارډ لیټون هم پوه شو. د ۱۸۸۰م کال د مارچ په پای کې کابل ته لېږل ګرېفین راغی چې د دوی له پلوه د شمالي افغانستان سیاسي کمیسار ټاکل شوی وو. هغه دستور چې ده اخیستې و زیاتره دوو ټکو ته متوجه وو. لومړی دا چې ډېر ژر داسې سړی پیدا کړي چې د انګلیس د ګټو سره برابروی او هغه ته د « کابل د خانه واکدارۍ » وسپاري. او دوهم دا چې د ملي تر ریښېدو دمخه د افغاني نیول شوو ځمکو تخته په شا تګ ته تیاری ونیسي.



Ketabton.com

دا مسئله اسان کار نه و. د فوځ رااېستل د هغه تر ځه چې پر تخت د انګريزانو پلوى څوک ئې نه وى کښېنولى د لندن دپاره داسى مفهوم درلود چې ګواکى د ۱۸۷۸م کال موفق نه راګرزى د همغه خصوصيت سره چې ځنيزو اولسونو به نتيجه تر لاسه کړې واى چې بريطانوى امپراطوريه په افغانستان کې په پوره توګه ساتې وګړه څو د هغو قبودالانو په وړوکى ډله کې چې د انګريزانو سره ئې مرسته کوله او يا اقلاً د هغوى په نسبت بې طرفه پاته وو، يو داسى شخص شامل نه و چې دوتلى نجيبى کورنى ځه وى او څه ناځه د حيثيت او اعتبار خاوند وى. سره له هغه ګريفين قابل نه چې د مبارزې اور بلى بل نشوى و د تقريباً تيارى فيصلې سره روان نشو. دا چې فيصله څرنګه او له کومى خوا راځلله تصور کيداى نه شى...

د يعقوب خان د کاکا زوى عبدالرحمن چې په سمرقند کې وو د خپل لس کلن تبعيد په موده کې څو ځله کوښښ وکړ چې وطن ته بېرته راشى څو خپل بخت په تخت باندى د دعوا په صورت کې



Ketabton.com

وآزمائي. د تزار حکومت نه غوښتل چې د افغانستان سره په اړیکو کې مشکلات پیدا کړي او کله چې د چارو واگې د شیر علي خان په لاس کې وې د ده رقیب ئې هلته ساتلی وو. وروسته تر هغه چې رابرتس کابل ونیو او یعقوب خان ئې هند ته واستاوه د ترکستان جنرال والي ک. پ. کاوفمن داسې فیصله وکړه چې داسې شئ نشته چې د هغې په واسطه عبدالرحمن خان د امیدونو خنډ شي. سربیره پر دې داسې فرصت پیدای شوای چې اصیل سردار به د آمو د سیند په کینه برخه کې خپل قدرت ټینګ کړي چې د افغاني ترکستان په نامه یادیده. دا امر به په هغه سیمه کې د انګلیسانو د تسلط مانع کیږي چې د بخارا د خلکو سره سرحد لري او آخر به عبدالرحمن خان د روسیې سره چې یو وخت ئې ده ته پناه ورکړې وه دوستانه اړیکې ټینګې کړي. پدې وجه د ترکستان جنرال گورنر دی وپوهاوه چې خپل کورته د ده په «تبنتیدو» باندې سترګې پټوي. د تګ دا شکل په دې وجه څوره شوی و چې د پیتربورګ واکمنو نه



Ketabton.com

نو ښتل چې لندن په افغاني چارو کې د لاس وهلو له کبله روسیه ملامته کړي. کله چې د دوست محمد خان لمسی د ۱۸۸۰ م کال په سر کې افغانستان ته لاړ کوم مرکزي قدرت په هیواد کې وجود نه درلود او ده وکړای شوای چې ډېر ژر د هیواد په شمال کې په اوضاعو تسلط پیدا کړي. چالاک او احتیاط کار عبدالرحمن خان د رستاق په قصبه کې میشت شو. هلته ئې خپلې ځواک اړیکې ټینګې کړي (ځوا هم ده شمالي ولایتونه اداره کول) او هرې خوا ته ئې د انګریزانو په ضد لیکونه واستول چې په هغو کې خلک «د دین لپاره مقدس جهاد» ته رابلل شوي و. په دې لار سردار سیاسي اعتبار پیدا کاوه خو په عین وخت کې ئې بېره نه کوله چې د تېرو کوونکو سره په جګړه کې ګښېوزي. تېري کوونکو د دې نتیجې سره ډېر ژر علاقه پیدا کړه. لیپل ګریفین ده ته پیشنهاد وکړ چې د امارت د تخت د نیولو په هکله کابل ته د خبرو اترو لپاره راشي. لیکن عبدالرحمن خان واقعي ځنیز سیاست



Ketabton.com

مدار و او بیره ئې و نه کړه ځکه چې ده نه غوښتل چې له منصورو «انګریزانو» سره د اړیکو له کبله د خلکو په منځ کې بې اعتباره شي.

د ۱۸۸۰م کال د مارچ او اپریل په ورځو کې پارلماني انتخاباتو په انګلستان کې د سیاسي قواوو توازن په پوره توګه تغییر کړ. دا انتخابات د محافظه کارانو په انځیزمن شکست سره پای ته ورسېدل چې علت ئې په افغانستان او جنوبي افریقا کې ئې د دوی په لویو ناکامیو پورې تعلق درلود. بیکنسفیلډ او ورسره یو ځای بارون لیتون استعفا وکړه. سره له دې چې د هند د وایسرا په څېر د لیتون فعالیت له هره پلوه د بر ناکامه و بیا هم ده ته د بخوانیو وعدې سره سم د ګراف لقب ورکړل شو.

د بخوانیو اعلامیو او بیانیو سره سره د ویلیام ګلادستن په مشرۍ لیبرالانو چې د واک واګې په خپل لاس کې واخیستلې او نوی وایسرا لارډ ریپون اصلاً نه غوښتل چې له هغو پړاوونو څخه انکار وکړي چې د دوی



Ketabton.com

اسلافو یعنی د «توری» (یعنی محافظه کارانو
- مترجم) حکومت په منځنی ختیځ کی ورربسیدلی و.
دوی په فعاله توګه د هغه څه بچ کولو ته ملا
وتړله د کومو چی د «خلاصون» امکان موجود
و. د ۱۸۸۰م کال د جون په میاشت کی
انګلستان عبدالرحمن خان د کابل د امیر په
توګه په رسمیت وپېژاند. د کندهار د ببرته
ورکولو په هکله د ده غوښتنه په دې پلمه
چی هلته لا پخوا خپلواک دولت جوړ شوی
و نه منل شوه. د ګندمک د تړون ځانګړی
تګی بیا له سره تائید شول یعنی بریطانوی
امپراطوری د کرمې، سیبی، پېشین سیمی،
د خیبر او میچنی کوتلونه تر خپلی اداری
لاندی وساتلی او عمده خو دا چی د امیر باندنی
سیاست د دوی تر کنترول لاندی پاته شو.
په لندن کی واکداران خوښ وو ځکه چی
د سنګاره ستونځو سره سره د بر هدفونه تر
لاسه شوی وو او تر سر څه لوړی - نه فتح
کیدونکی هیواد تجزیه شوی و. خو د ختیځ په
هکله په انګریزی آثارو کی په پوره اساس دا



Ketabton.com

خبره تائیدېده چې هیڅ یوه اولس انګلستان ته دومره « ناګمانه هدمې » راځم ته نه کړلی لکه افغان اولس..

د ۱۸۸۰ م کال دمې او جون میاشتې د اشغالګرو لپاره په داسې حال کې تېرې شوې چې دوی زیاتېدونکی خطر حس کاوه. داسې آوازې واورېدل شوې چې د هرات حکمران محمد ایوب خان تیارې نیسي څو دوی ته ضربه ورکړي. دې خبر ته انګرېزانو په شک او تردید سره کتل څو په جنوب کې د انګرېزي سیاسي کمیسار ډګروال اولیوبر سنت جان د ټینګار په اساس شیر علي خان خپل « فوځ » د هلمند د سیند و خوا ته ولېږداوه. لدې کبله چې ده ته ډېر اصید نشوای کېدای نو په کندهار کې د بریطانوي فرقې قوماندان جنرال پریمراوز د هغه فوځ د جنرال ببوروز په لوا پیاوړې کړ.

ایوب خان واقعاً هم د کندهار وخوا ته وخوځید او دا ئې څوبښتل چې له هغه ځایه د غزني ښار ته چې د ایله‌جاریانو د



Ketabton.com

فعالیت مرکز وو ورڅنسوی. کله چې نوموړی
د ګرشک ښار ته رانژدې شو د هلمند
ګودر ته څېرمه د والي د عسکرو زیاتی
برخی بغاوت وکړ، د هرات والو و خوا ته
ورغله او پاته نور ئې وتښتېدل. ببروز
مجبور شو چې خپلی قواوی د کندهار خوا
ته وباسي. دلته د ۱۸۸۰ م کال د جولای
په ۲۷مه د میوند کلی ته نژدې خونړیه
ښتنه وشوه. د هرات والو عسکرو نو ته
د کندهار ښاو خوا اوسېدونکو مرستي ته
ورودانګل چې په هغوی کې د دهقانانو،
کسب ګرو، ښځو او نارینه و برخه درلوده.
د پیغلی ملالی هیجان راوړونکی روایت
تر ننه پوری د خلکو په خولو کې دی.
دا د جګړی په ډګر کې رانبکاره شوه،
خپل بوړونی ئې د بیرغ په څېر خوځاوه.
دې پیغلی پدې ډول د خپلو جنګیالیو
وطن والو وینی په غورځنګ راوستې.
پیغلی ملالی داسی افغانی «لنډ ی»
ویلی چې «د یه جګړه کې شهادت د رسوائی



Ketabton.com

او بې ننګیر تر ژوند د بر سبته دی».[1] افغانانو د تعلیم لوا ته ماتې ورکړه، تقریباً ټول عسکر ئې له منځه یوړل او د څو ټنه وونو بیرغونه او توپونه ئې ولجه کړل. ایوب خان چې سمدستي یوه ملی قهرمان په توګه وپېژندل شو کندهار کلا بند کړ. جنرال پریمراوز د ټول بریطانوی ګارنیزون سره په عملي کلا کې پټ شول.

د میوند ماتې په ختیزو اولسونو کې د پراخو انعکاسو سبب شوه او د انګلیسانو حیثیت ته ئې سخته صدمه ورسوله. څرنګه چې د دې ماتې خبر د کندهار له جنوب څخه بلوچستان ته او د هغه څایه د هندوستان سرحد ته ورسېد نو په ټوله دغه لاره او د هغې شاوخوا سیمو کې د انګرېزانو پر ضد د هغو اولسونو د جنبش د راپورته کېدو باعث وګرزېد چې د انګلستان دوست اولسونه شمېرل کېدل لکه د توبې په لوړه سطحه د

---

[1] Louis Dupree. Afghanistan. Princeton, New Jersey, 1973, p. 411.



Ketabton.com

چمن شناوخوا قومونه ، سوری او کاکړستان
د غروالانو ، د کیلات د خانګر سپاهیانو او بالاخره
د جنوبي بلوچستان د سرحدونو پښتنو. په
بو رتني دول په لندن کې د روسيې نظامي
آتشه جنرال ا. ګورلف پیتربورګ ته خبر ور
کړ نا آرامي د سوکوره تر ښار پورې راورسیدې
چیرې چې ملیشیا احضار شوي وه. او همدا
رنګه بخپله د بمبئي په ښار کې د پام وړ
ناقرارۍ لمن خپره کړه

د امپراطورۍ واکمنو د دې لپاره چې د
میوند د ماتې اغېزه له منځه یوسي د کابل
څخه خپل ټول فوځ راوایسته او د هغه
ځایه ئې لوی عسکري ټولګی د رابرتس تر
مشرۍ لاندې د جنوب خوا یعنې کندهار ته
واستاوه. په سخته تښته کې رابرتس
وکولای شوای چې ایوب خان ته تلفات
ورکړې څکه چې د هغه لښکرې د هرات څخه
تر کندهاره لاری او جنګي عملیاتو ستومانه
او ضعیف کړي وې. پدې ترتیب د کندهار
کلابندي ماته شوه. د رابرتس بریالیتوبونو



Ketabton.com

په لندن کې د ډېرو خوشحالیو سبب شولې. دی ئې د ادمیرال نلسون او دیوک وېلینګټن سره تشبیه کاوه، ده ته ئې د بانی د نشان د لوی صلیب د شوالیه او د بارنیټ لقبونه ورکړل او د لارډ رابرټس کندهاری په نامه ئې یاد کړ. نوموړی ته ئې «د مېړانې په خاطر» دوه خنجره، دولس نیم زره پونډه او همدارنګه ډېر افتخاری القاب و بخښل. ټولو عالی رتبه اشخاصو د ده ځنګه خپله مننه څرګنده کړه او ملکې وېکټوریا حتی د ده آس او سپی ته هم جنګی مدالونه ورکړل. دا وړوکی جزئیات د دې لپاره دلته راوړل شویدی څو دا وښیو چې په انګلستان کې ئې پر دښمن باندې غلبې ته څومره ارزښت ورکاوه چې لره موده بخوا بریطانوی پنبه ئې پهلوانانو چې په اصلی توګه مسلح وو په سپکو سپک کړی وو.

سره له هغه هم تر مېوند وروسته په مطلقه توګه ښکاره شوه چې انګریزان به ونه شی کولای چې د افغانستان په



Ketabton.com

جنوب کی هم ټینګ شی. رښتیا هم محافظه کارانو لا نوره هم هغه کوله چی ولیه د لاسه ورنکړی. په ۱۸۸۱م کال په پارلمانی مباحثو کی نوی پیر (په انګلستان د اشرافیانو اوچت لقب دی – مترجم) لیټون د خپل سیاست ګلکه دفاع کوله او غوښتنه ئی کوله چی «د کندهار څخه باید ونه وځی»، ځ هغه ښار پوری دی د اوسپنی پټلۍ وغزولی شی او د والی متصرفات دی نورو سیمو ته د نفوذ لپاره د یوی ټینګی اډې په توګه نور هم پیاوړی شی. سیلسبیلړ هم د ځوانی وایسرا طرفداری وکړه. خو د ده او د هغه د همفکرانو رول د توجه وړ نه وو. بریطانوی حکومت مجبور شو چی له ټول جنوبی افغانستان پښی سپکی کړی. د «دکندهار نښ په ناصه دولت» هم له منځه لاړ او ګوډاګی والی ته د یعقوب خان نصیب ور په برخه شو او د انګریزی قافلی سره هند ته لاړ.

په راوروسته زمانه کی عبدالرحمن خان



Ketabton.com

ټول افغانستان سره یو موټی کړ نو موږ ی
د انګریزانو څخه وسله او نقده مبلغ تر لاسه
کړ او پر ایوب خان ئې حمله وکړه، کوم چې
هم مجبور شو چې وطن پریږدي. امیر عبدالرحمن
خان د هیواد د خارجي سیاست په ساحه
کې د ګوښه توب په شکله د ټرون مراعات کاوه
چې د هیواد په پرمختګ ئې ناوړه اغېزه کوله
خو په څوڅه توګه ئې د هیواد په کورنیو
چارو کې د انګریز لاس وهنه نه پریښوده،
د بریطانوي امپراطورۍ استازي ته ئې په
کابل کې پدې شرط اجازه ورکړه چې هغه به
هم د هند د مسلمانانو څخه کوم څوک وي.

د افغان او انګلیس دوهمه جګړه د
زرګونو خلکو د ژوند د تباهۍ سبب شوه.
د دې جګړې په اثر ډېرو افغاني ښارو او
کلیو ته تاوان ورسېده. د جګړې د عملیاتو د
تر سره کولو لپاره ډېرې زیاتې پیسې ولګېدې.
د بریطانیې حاکمو محافلو ځانونو ته دا «ډاډ-
ګېرنه» ورکوله چې د دې مصارفو جبران د
دوی د مستعمرې یعنی هند له بودجې



Ketabton.com

څه وشو. دوی دې فکر هیڅ نه ځنجول چې په افغانستان د تېرې څه لږه موده دمخه په ۱۸۷۶ – ۱۸۷۸ م کلونو کې د هند اولسونو لوږه وزګمله چې دا لوږه د دوی په تاریخ کې بې ساري وه. دوی هېڅ دا فکر نه کاوه چې که د هغو پیسو هېڅ بوه برخه کومې چې د یوې ډلې سیاستمدارانو د مغروره خیالونو د اقناع دپاره لګېدلې وې پدې لاره کې لګول شوې وای نو په ملیونو کسان به ئې د مرګ څخه بچ کړي وو...

افغانستان بیا مستعمره ونه ګرځېده. لیکن صرف نظر له یو لړ سیاسي او منطقوي برتریو څخه چې تر لاسه ئې کړې، انګلیس ونه کولای شول چې د جګړې په لار هغه اساسي هدف حاصل کړي د کوم دپاره چې دوی هڅه کوله. هغه پر افغانستان پوره اختیار لرل یا د هغه تجزیه کېدل و. د افغان اولس د مېړني او قهرمانانه مقاومت په زور د دوی دا ارمان تر سره نه شو. د کابل پاڅون هم د دې ختم شو. دا پلان



ACKU
Ketabton.com

د میوند جگړې او لښکرو نورو معاربو چې دومره عتی نه وې وبجاړ او گډوډ کړ»[1].

بو وار بیا د هغه څه حقانیت ثابت شو چې ف. انگلس پنځه ویشت کاله مخکې ذکر کړی وو یعنی «د افغانان میړنی، جوی او په آزادی مین اولس دی... »[2]. دا توصیف د یو نامعلوم افغان شاعر تصنیف ته نږدې دی کوم چې ترموږ پورې رارسیدلی:

«که د خپل هیواد دفاع وی
خپل ځان به تری نثار کړم.
افغان گله ډارن وی
دښمن ته به شا نه کړم».

---

[1] د میوند د پرافتخاره برې په ویاړ د کابل یوه جاده د میوند د جادې په نامه یادېږي. پدې جاده کې د نوم ورکی سپاهی باعظمته څلی درول شوی دی.

[2] Ф. Энгельс. Афганистан. К. Маркс и Ф. Энгельс. Соч., т. 14, стр. 76, 1857 г. (روسی چاپ)



Ketabton.com

لندن د ۱۸۷۸ - ۱۸۸۰ م کلونو د نتائیجو څخه خوښ نه و او څکه ئې د هر امکان څخه د افغانستان د تضعیف او په هغه کې د خپل موقف د ټینګولو لپاره ګټه اخیستنه. د ۱۸۹۳ م کال په منځ کې په هند کې د انګلیس د حکومت د باندینیو چارو د سکرتر ګ. م. دیورنډ سره د امیر خبرو اترو د افغاني حکومت او اولس د سرنوشت دپاره د خپلو عواقبو په اثر ژورونکی مفهوم درلود. وروسته د کابل د «اصلاح» ورځپاڼې په خوانشینۍ سره یادونه کړې چې «په دې اساس چې د دې خبرو اترو په وخت کې د لوئې بریطانیې د بر زیات فوځونه په افغاني سرحدونو کې راغونډ کړې شوي وو په ۱۸۹۳ م کال کې امیر عبدالرحمن خان مجبور کړی شوی و څو تړون لاسلیک او د افغانستان د سرحد په حیث د دیورنډ مصنوعي کرښه



Ketabton.com

په رسمیت ونه پېژني. دی «کرښې» افغان اولس دوه نیمه کړ. امیر باید د صوات، باجوړ، چترال، د وزیرستان د ډېرې برخې، داوړ او چاګېڼ څخه تېر شوی وای په کومو کې چې په عمده توګه ختیز افغاني قومونه (پښتانه یا پټانان، د ټولو افغانانو نوم همدا شان دی) اوسېدل. د افغانستان څخه بهر افغانان تر هغوی چې په افغانستان کې دننه اوسېدل هیڅ کم نه وو. توی سرحد د مومندو، افریدو، شینوارو، یوسفزو، وزیرو، کاکړو او نورو په څمکو کې تېر شو چې څېنې قومونه او یا د هغوی اتحادیې ئې سره ووېشل. دې خبرې د افغانانو ملي یووالی ته ډېره ګلکه ضربه ورکړه او د پاکستان تر جوړېدو وروسته د افغانستان سره د هغه اړیکې تر آخرین حده د «پښتونستان د مسئلې» پر سر خرابې شوې کوم چې په پوره توګه د امپریالیستانو په درد خوړل.

کله چې لندن افغانستان د بانډنۍ سیاست په ساحه کې د خپلواکې څنه



Ketabton.com

محروم کړ نو دا فرض ئې کړې او چې دا هېواد په د ضرورت له مخې محروم د بریطانوی امپراطورۍ سره خپلو اړیکو ته پراختیا ور کړي. دا محاسبه غلطه راووته. افغانانو د خپلو غلیمانو سره د هیڅ ډول اړیکو د په ټرلو هېله‌من وو. افغانستان ته د انګلیسانو لاره تړلې وه او حتی تنها د هندي مسلمانانو له ډلې څخه عالي رتبه مامور په کابل کې د امپراطورۍ نمایندګي کولای شوه. د بانديني نړۍ څخه د افغانستان بېلوالې د هغه په اقتصادي، سیاسي او ټولنیز انکشاف باندې منفي تاثیرات واچول. دې حال د امیر عبدالرحمن د مستبدانه سیاست له کبله نور هم شدت وموند. ده د بزګرانو او کسب‌ګرو د ډېرې لرې نارضایتۍ سره په ډېره بې رحمۍ چلند کاوه کوم چې ډېر دراندہ استثمار ناتوانه کړې وو، د ملي اقلیتونو اغتشاشونه ئې په قهري ډګه سرکوبول او د هغوی ځمکې ئې د بااقدرته قوم په ګټه ضبطولې، په هغه ځای چې د حکومت پر



Ketabton.com

ضد د فعالیت ګمان راته په بې رحمۍ سره ټي ظلمونه کول حتی د ډېرو ابتدائي ریفورمو غوښتونکو سره ئې هم په همدې شان چلند کاوه. یو شو فیودالي اشرافي کورنیو ګډې وګړې او یا تبعید کړې شول ځکه چې امیر پر تخت باندې د دوی له ادعا او یا د تفرقه-غوښتنې د تمایلاتو څخه ډار درلود.

سره له دې هم د فیودالانو د تفرقه-غوښتنې پر ضد د عبدالرحمن خان مبارزې، د تګ او راتګ د مصئونیت او د تجارت د پراختیا په غرض اقداماتو، د لښکرو زیاتوالي، د واحد پولي سیستم را منځ ته کېدو او داسې نورو کارونو د فیودالي بېلوالي د له منځه تلو او د اقتصاد د پیاوړتیا او په عمومي توګه د ټول دولت د پرمختګ د پاره زمینه مساعده کړه. عمومي سیاسي اوضاعو ټینګښت وموند.

د ختیزو افغاني قومونو په سیمه کې اوضاع بېخي بل ډول وه. دوی تر پایه د انګلیسانو اداري ته غاړه نه ږدله. به مختلفو ځایو کې به د آزادۍ د پاڅونونو لمبې



ACKU
Ketabton.com

راپورته کېدلې. بریطانوي قوځونو په هلته جنګي عملیات سرته رسول چې په تقریبي توګه رسما" د «داٸمي سرحدي جګړې» په نامه یادېدل. تنها د نولسمې پېړۍ په پای کې استعمارچیانو تر شلو زیات لوی جنګي عملیات د څه دپاسه شلو زرو عسکرو په ګډون سرته ورسول. او په ۱۹۰۰م کال کې شل زره کسیز لښکر وزیرستان احاطه کړ. دوی کوښښ کاوه چې د اداري او سیاسي اقداماتو په وسیله هم د ضدِاستعماري جنبش په خلاف مبارزه وکړي.

تر ۱۹۰۱م کال پورې خیبري افغاني سیمې د «د خیلواکو قومونو په سرحدي صوبه» او د هغو سیمو چې د هغو تر شا پرتې وې او په پنجاب پورې تړلې ارزه درلوده ویشل کېدلې. په ۱۹۰۱م کال کې د پنځګونو داسې سیمو څخه (پېښور، کوهاټ، بنو، هزاره او دیره اسمعیل خان) ځانګړی شمال لویدیز سرحدي ایالت چې د صوبه سرحد په نامه یادېده رامنځ ته شو. دا ایالت د «عمومي کمیسار او



ACKU

Ketabton.com

د هند د گورنر جنرال د اجنټ» له خوا اداره کېدله چې مقر ئې په پېښور کې و. په دې ښار کې وايسرا او گورنر جنرال لارډ کرزون د ۱۹۰۲م کال د اپريل په دوهمه درې زرېز، دربار ته په رسمي توگه د نوی ايالت د جوړېدو په باره کې اعلان کړی و. «د خيبر واکو قومونو صوبه» په پنځو سياسي نمايندگيو ووېشل شوه: ملکنډ چې په هغې کې د جنرال، دير او سوات خانې نشاپيلېدلې، د خيبر، د کرمې، د شمالي وزيرستان او د جنوبي وزيرستان ايجنسي. په هغو کې «د غير مستقيمه اداره» موجوده وه يعني سياسي اجنټانو چې په قوم انگرېزان وو محلي خانان او ملکان کنټرول کول کومو چې په مستقيمه توگه خلک اداره کول او د مشکلو مسئلو د حل لپاره به ئې د مشرانو شورا او د قبيلو د سرکره گانو جرگې راغونډولې.

د «سرحدونو د تعيينولو او د قومونو د ښځلا کولو» په باره کې د يو لړ بريطانوی کميسيونونو غړی توماس هولډېچ په شرمندگه



Ketabton.com

سره اعتراف کاوه چې په شمال لوېدیز سرحدي ایالت کې د بر اولسي اغتشاشونه د سیاسي او نژادي سرحدونو د نابرابرۍ له کبله منځ ته راغلي دي[1]. واقعاً هم د کهو ملیت (چترال) د مثال په توګه د پښتنو سره هیڅ ارتباط نه درلود. همدارنګه پنجابیانو - د ډېره اسمعیل خان او هزاره اصلي اوسېدونکي او د ژوب، لورلی او کوهاټ - پښتنې د غرونو اوسېدونکي چېرې چې افغاني قومونه تر نورو زیات وو د بریطانوي بلوچستان جز وګرزول شول. ولې دا د کار انجام نه وه. آزادي غوښتونکو پښتنو له سره نه غوښتل چې د ملکي ویش د هیڅ ډول «واحد» په توګه د پردیو اسارت وزغمي.

استعمارچیانو خپله ټوله تجربه پکار واچوله څو چې «نا آرامه سیمې تخلي کړي». د جزاورکوونکو ګروپونو سره یو ځای ئې د پټې تطمیع څخه هم

---

[1] T. Holdich. The Geography of the North-West frontier of India. «The Geographical Journal», 1901, May, p. 463.



ACKU

Ketabton.com

کار اخیستنه او مخصوص غیر منظم قوطونه ئې جوړ کړل د کومو په ترکیب کې چې محلی نارینه اوسېدونکی ورشامل کړی شول. دا د مومندو ملیشیا، د جنوبي وزیرستان سکاوټ، د خیبر ویښتونکي، د کرمې ملیشیا او داسی نور ټولگی و. د دې خاص ډوله قومی پولیسو ټولگی د بریطانوی افسرانو تر مشترکه لاندی (بریطانوی سیاسی اجنټانو د دوی رهبری کول) د قومونو په سیمو کې ځای په ځای کېدل څو د ښو وسله والو پولیسانو سره گډ فعالیت وکړی کومو چې د ملکی ویش د سیمو او قومونو د ټکو تر منځ سرحد ساته. پدې ترتیب ئې د پښتنو د پرله پسې ټوټه کېدو دپاره زمینه برابروله.

افغانی وطن پالونکی د استعمارچیانو د فعالیت په واقعی ماهیت ډېر ژر وپوهېدل. د «دیورنډ د کرښی» هغې خواته د وضع شتنی هر کال د سیمی د اوسېدونکو او امپریالیستانو د قوځو ترمنځ د وسله والو ښتو په ډول ښکاره کېده او په ۱۹۴۷م کال کې د هند څخه د انگلیسانو تر «وتلو» وروسته



Ketabton.com

هیڅکله دا نښتي آرامي نه شوې. هغه څه چې د سرحد هغه خوا تېرېدل په افغانستان کې په دحاد عکس العمل د پیدا کېدو سبب ګېده او په عملي اوضاعو باندې یې ئې تاثیر اچاوه. د استعمارچیانو پرضد د پښتنو مبارزې د افغان اولس تاوده احساسات راوپارول. د افغانستان په تاریخ کې په د ټول لحظه راورسېدې او پښتنانه په خپل ټول قدرت د دې د پاره پکار واچوي څو د امپریالیستانو پرضد د افغانستان سره په عادلانه جګړه کې مرسته وکړي...

د ۱۹۰۱م کال د اکتوبر په لومړۍ نېټه د عبدالرحمن خان تر مړینې وروسته د ده مشر زوی حبیب الله خان پر تخت کېښېناست. تر انقلاب دمخه د افغاني رسمي تاریخي تتبعاتو مؤلفینو هغه د «پوه پادشاه» په نامه ځرګنداوه. واقعاً" هم نسبتاً" ځوان (دی په ۱۸۷۰م کال کې زېږېدلی وو) حبیب الله خان نسبت خپل پلار ته د لیبرالي نظریاتو طرفدار و. او په لومړي سر کې ئې تر یوې اندازې پورې



Ketabton.com

استبدادي رژيم ناتوانه کړ. د تاج اخوستنې په مناسبت ويناکې ئې وعده وکړه چې د ملي يووالي، ريفورم او د پرديو نيوکي کوونکو په ضد د مقاومت سياست به وچلوي[1]. د ۱۹۰۱م کال د اکتوبر په دريمه د خاصې اعلاميې په واسطه «د ټول هغه کسان چې د افغانستان ځخه د حکومت د ظلم او جبر په اثر تښتيدلي وو» وبخښل شول. دوی ته ئې ضبط شوې دارائي بېرته ورکړی. نوي امير د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې غير ديني تعليمي مؤسسه يعنې «د حبيبيه کالج» «د حربيه» په نامه عسکري مکتب، د نوي مينود ځو ښوونځي او د قوموتو د چارو دپاره دولتي شورا تأسيس کړه. په هېواد کې ئې لويديز طبابت رواج کړ. د ده په زمانه کې د برېښنا تپسې او د اوبو رسولو شبکه جوړه شوه چې پايتخت ته ئې برېښنا او اوبه رسولې. لا پخوا د خپل پلار په زمانه کې

---

[1] Vartan Gregorian. The Emergence of Modern Afghanistan. Stanford, California, 1969, p. 181.



Ketabton.com

حبیب الله خان د صیغانیگی دستگاوو چې د
«د صاشتیین خانه» په نامه یادیده عمومي آمر وو.
د دې سره سره حبیب الله خان خپلو
شخصي کارونو ته د دولتي کارونو په نسبت ډېره
توجه کوله او د دولتي چارو په حل کولو نوموړی
لږ لېوالتیا ښکاره کوله. خو عمده خبره دا ده چې د ده
وطن والو (هم د مترقي دیموکراتیکو افکارو لرونکي
او همدارنګه روحاني ارتجاعي عناصرو) نوموړی له دې
کبله غانده چې ده د هیواد د نیمه استعماري
حالت سره د مخالفت پر موقف باندي ولاړ و.
دا وضعیت د وطن پالونکو د خاصي ویرې سبب
شو ځکه چې د ۱۸۹۹ م کال څخه د هند د وایسرا
مقام چې د «د افغاني» سیاست څوابګوی و د
پراختیا غوښتونکو د یوه ایډیالوګ او لیډر جارج
کرزون له خوا اشغال شو. د ده د نامه سره
نه تنها د ۱۹۰۱ م کال د ملکي وېش په برخه کې
ریفورم تړلی بلکه همدارنګه په کابل باندي د دې
دپاره چې هغه د انګلیس تاثیر وړتي مستقیم
فشار هم د ده له پلوه و. که څه هم د ۱۹۰۱ م
کال د اکتوبر په لسمه حبیب الله خان کرزون



Ketabton.com

نه د خپل سلطنت د خبر ورکولو په ضمن کی وعده وکړه چی د خپل پلار سیاست به تعقیب کړی بیا هم وایسرا اعلان وکړ چی د عبدالرحمن خان سره تړونونه (او هغه نقده مبلغ چی د هغو له مخی امیر ته تاکل شوی و) «شخصی خصوصیت لری» او د نوی کولو ضرورت ئی لیدل کیږی. د سلطنت په لومړیو وختو کی حبیب الله خان لا هغه کوله چی خپل کرکتر څرگند کړی او د هند څخه د کتنی دوه غوښتنلیکونه ئی رد کړل.

د ۱۹۰٤م د دسمبر په میاشت کی د انگلیس او افغان په مناسباتو کی څه پرتیا کمه شوه. لارد کرزون په کلکته کی د امیر مشر زوی عنایت الله خان ښه حضور ته وماند او د مناقشوی مسایلو د حل دپاره د افغانستان پایتخت کابل ته د انگلیس - هندی حکومت د خارجی چارو سکرتر ل. و. دئین مسافرت وکړ. ده ته وظیفه ورکړل شوی وه چی حبیب الله خان سره د هند څخه کابل او کندهار ته د اوسپنی د پټلی او تیلگراف د مزی د غزولو په هکله



Ketabton.com

(دې کار هرو مرو په افغانستان کې د انګلیسانو نفوذ آسانه ګاوه)، د سیستان او مومندو د قوم په سیمه کې د سرحد د تعیین، امیر ته د مالي مرستې د بیا ورکړې، د نظامي لوازماتو د واردولو په باره کې د ده د حق او داسې نورو مسایلو په هکله خبرې اترې وکړې.

اما د څلورمیاشتینیو خبرو اترو په نتیجه کې د ۱۹۰۵م کال د مارچ په یوویشتمه یو ډېر لنډ تړون لاسلیک شوی و چې په هغه کې د انګریزانو سره ټولې پخوانۍ موافقې تائید شوې وې. انګریزانو حبیب الله خان ته هغه مالي مرسته چې د ده پلار ته لاسه کوله له سره ومنله (په کال کې ۱۸۰۰ زره روپۍ) او هم ئې هغه مبلغ چې نه و تأدیه شوی (د څلور سوو زرو پونډو په شاوخوا کې) جبران کړ. په داسې حال کې چې د تړون د ویښلو دپاره سخته مبارزه روانه وه د بریطانیې حاکمې ډلې دا بهتره وګڼله څو هغه وضعیت د خطر سره مخامخ نه کړي د کوم له برکته ئې چې افغانستان په نیم خپلواک حالت کې ساتلی و. په عمومي توګه د حبیب الله



Ketabton.com

خان دپاره هم همدغه نښان وضعیت گټور و لدې سببه کله چې لارډ مینټو په ځنیځ کې د ښځې منفور د. کرزون څخه وروسته د وایسرا په توګه وټاکل شو یو وار بیا امیر ته د هند د کنټنی دپاره بلنه ورکړې شوه. دا بلنه د امیر له پلوه منل شوې وه. د امیر مسافرت د ۱۹۰۷م کال د جنورۍ د دوهمې څخه د مارچ تر اومې نیټې پورې په ځبره دبدبه سره دوام وکړ. په هغه کې د انګلستان د پاچا اووم ادوارډ ټیلګرام په کوم کې چې امیر ته د لومړي ځل دپاره د «اعلیحضرت» لقب ورکړل شوی و، «د په لوړه سویه» د احترام په توګه د توپو یو دبرنش ډزې، په بمبئي کې د نظامي بحري قواوو رسم ګذشت، په آګره کې جشن، د مانچسټر له ډیوک سره یو ځای دښاهي پړانګانو ښکار او نور مراسم شامل وو[1]. لیکن د افغان اولس د دښمن سره نژدیوالي د وطن پالونکو

---

[1] Mohammed Ali. Afghanistan (The Mohammedzai period). Kabul, 1959, p. 150.



Ketabton.com

د خوانشینی سبب شو د باندینی برخه څخه
د افغانستان گوښه توب او جدائی د کوم دپاره
چی استعمار چیانو په سرسختی هڅه کوله، هیڅکله په
مطلقه توگه نشوای پاته کیدای، او تر څه
پوری هم د آزادی بخښونکو جنبشو د امواجو
لمن راورسیده کوم چی د غلامۍ په ځنځیرو تړلی
خلق په سر اخیستلی و. دا ممکنه وه چی د
سیاسی او اجتماعی افکارو پراختیا پری «تړلی»
هیواد کی ځنډول شوی او دروول شوی وای؛ ولی
دا ناممکنه وه چی د افکارو د انکشاف لمړید
دی هلته نوخه شوی وای.

د «آسیا د بیدارۍ» جریان لکه چی
و. ای. لېنن د انقلابی موج په دې نامه یاد
کړی وو کوم چی د شلمی پیړۍ په شروع
کی د ۱۹۰۵ – ۱۹۰۷ م کلونو د روسیې د
قوی انقلاب په اثر تشویق شوی و د ختیځ
پو شمیر هیوادونه دربر نیول په افغانستان
کی هم انعکاسات پیدا کړل. په دې هیواد کی
د باندینۍ خپلواکۍ او د هیواد په دننه زوندانه
کی د مترقی تحولاتو په خاطر جنبش پراختیا



Ketabton.com

وموندہ. دا جنبش د اقتصادي لحاظه د تیټنگي شوي تجاري بورژوازۍ او د منصبدارانو او مامورینو د هغو طبقو د ګټو منعکس کوونکی و چې د هغې سره ئې اړیکې درلودې. د امیر غیرفعال موقف مذهبي او ملیت غوښتونکي محافل هم راوپارول چې په جم و جوش سره ئې د پان اسلامیزم (یعنې اتحاد اسلام) پروپاګند منلی و، کوم چې په هغه او ګلکه د استانبول څخه خپربده. ددوی پېژندل او منل شوي سرګرده د حبیب الله خان ورور نصرالله خان و. د انګریزانو په نسبت د حبیب الله خان د طرفدارۍ عمومي مسیر لکه د مجازاتو د تشدد په نښان د اعتراضونو د پیدا کېدو سبب شو. د امپریالیستانو په ضد جنبش کې کوم چې د داخلي تحولاتو غوښتونکي هم وو تمول نوي برخه اخستونکي ورګډ شول. د «مشروطه» («اساسي قانون») پټ سازمان جوړ شو. د دې سازمان غړو د قوانینو غوښتنه کوله کوم چې د مطلق العنان واکدار د استبداد مخه ونیسي.



Ketabton.com

د یوې ډلې روښنفکرو هلکو هڅې کوم چې د ونګړ بنو تودو سوپېوستې ته وو او غوښتل ئې چې وضعیت بدل کړي په ناکامۍ سره پای ته ورسېدې. د ۱۹۰۹م کال په شروع کې د دوی ډېر کسان بندیان شول او ډېر فعال کسان ئې چې محمد سرور خان، سید جوهر خان، لعل محمد خان او ځینې نور وو اعدام شول. خو ظالمانه ځلونې و نه شوای کړی چې د هېواد د مترقي پراختیا د لارې مبارزین وویروي. د دوی د ډلې څخه د افغانستان ډېر لوی ټولنیز او سیاسي شخصیت محمود بیګ طرزي (۱۸۶۷ – ۱۹۳۵ کلونه) و. نوموړی د محمد زیو د یو نامتو اشراف زاده او متوسط شاعر زوی و کوم چې د عبدالرحمن خان په وخت کې مهاجرت ته مجبور کړی شوی و. محمود بیګ طرزي خپلې زدکړې په دمشق کې سرته رسولې وې. هری خوا ته ئې ډېر سفرونه کړي، د لوړ تهذیب خاوند و او په څو ژبو ئې خبرې کولای شوای. نوموړي اجتماعي، فلسفي، انتقادي مقالې او شعرونه لیکل تر صفحه وروسته چې امیر حبیب الله د فراریانو



Ketabton.com

بخښلنه اعلان کړه طرزي کابل ته راغی. ده دواړه
څه وکړه څو امیر د جدي ریفورمونو ضرورت ته
متوجه گاندي کوم چې د اقتصاد او پوهنې د
پراختیا او سیاسي او کلتوري گوښه پاته
کېدو څخه د وتلو لپاره ضروري وو. محمود طرزي
د ژباړې د ادارې د آمر په حیث وټاکل شو
چې د هغې وظیفه امیر ته د اروپا او اسلامي
نړۍ د وقایعو په هکله معلومات ورکول وو.
ډېر ژر د طرزي موقف پیاوړی شو. امیر د
ده دوه لوڼې خپلو زامنو ته نکاح کړې چې د ده
مشر زوی عنایت الله خان او دریم زوی
امان الله خان ورسره واده وکړ. د ۱۹۱۱ م څخه
تر ۱۹۱۹ م کال پورې محمود طرزي د « سراج
الاخبار افغانستان » په نامه اخبار خپراوه.
د هغه سره وطن پالونکو افسرانو او دولتي
مامورینو چې په پراختیا مونډونکې بورژوازۍ
پورې مې اړه درلوده ډېره علاقه څرگندوله.
نامتو افغاني ادبیات پېژندونکی م. ژوبل لیکي
چې د طرزي خپل ډېر لوی خدمت په افغان
اولس کې د آزادۍ د مفکورو خپرول گڼله».



Ketabton.com

محمود طرزي خپل وطن وال له اجنبيانو سره د
تعلقاتو په ضد مبارزه کې پوهاوه، د ملي او قومي
اختلافاتو کومو چې انګريزانو ته ګټه رسوله له منځه
وړلو او د صنعت او مدنيت پراختيا ته رابلل.

ځکه چې لومړۍ نړيواله جګړه پيل شوه
حبيب الله خان د ۱۹۱۴م کال د اګست په ۲٤
نېټه خپله بې طرفي اعلان کړه. اما د جګړې په
ټوله موده کې افغانستان د مختلفو باندنيو او
کورنيو سياسي قواوو سختو لانجو ميدان و. او
بله دا چې تر جګړې ډېره موده بخوا افغانستان
ته ډېر ترکي افسران راغلي وو. دوی د قوځ د
روزنې دنده په غاړه درلوده او د نصرالله خان د
ښې اړخ د ناسيوناليستانو او روحانيونو له ډلې
سره ئې اړيکې درلودې. د امير ورور او د ده
پلويان ئې په کابل کې د «جګړې ګوند» ګڼله
ځکه چې دوی د بريطانوی امپراطورۍ په ضد
د جګړې غوښتنه کوله، کومه چې په نورو ځايونو
کې په جنګي عمليانو مشغوله وه. د امير
غيرفعال موقف مترقي تحريک شوو افغانانو هم
نغاندو، د کومو مفکر او ايډيالوګ چې محمود



ACKU
Ketabton.com

طرزي او امان الله خان چې پخوا ئې په حبيبيه کالج کې د هندي مهاجر ډاکتر عبدالغني څخه زده کړه کوله د محمود طرزي د ډېرو نږدې همفکرانو بو څخه وګرزېد.

په خاصه توګه وضعيت هغه وخت ډېر خراب شو کله چې د ۱۹۱٤م کال د اکتوبر په ۲۹ عثماني امپراطوري جګړې ته ورشامله شوه. جرمني او ترکې اجنټانو داسې مواد خپرول کوم چې داسې څرګندوله چې ګواکې قيصري جرمني د «مسلمانو اولسونو دوست دی». په شمال لويديځ سرحدي ايالت او «د آزادو قومونو په سيمه» کې وضعيت ډېر زيات خراب شو، چېرې چې د استعمار پر ضد پاڅونونه د پېړۍ د شروع څخه نه ځلي ګيډل په خاص شدت سره بيا منځ ته راتلل. «د جګړې ګوند» په ډاګه د امير څخه غوښتنه کوله چې د مرکزه دولتو په پلوه جګړې ته ورګډ شي. د محمود طرزي ډلې هم په افغانستان باندې د خارجيانو د کنترول په ضد د مبارزې په تشديد ټينګار کاوه ليکن امير په دغو ټولو حالاتو سترګې پټولې.



ACKU

Ketabton.com

په هند کې د روسيې عمومي قونسل د ۱۹۱۵م کال د اپريل په ۲۷ (د نوي جنترۍ له مخې د مې په اومه) پيټربورګ ته خبر ورکړ چې «د پدې ورځو کې حبيب الله خان د بهرو کسانو په شمول دربار (شورا) راغوښتې کړی و. ده د جګړې په هکله وينا وکړه، اعلان ئې وکړ چې جګړه يوه عظيمه بدبختي ده چې د دواړو خواو د تلفاتو سره سره، دښمن دولتونه تر اوسه هيڅ کومې نتيجې ته هم نه دي رسيدلي. نوموړي وويل چې «د دې څخه څرګندېږي چې په اوسني وخت کې تنها بې طرفه دولتونه خوشبخته دي او دا چې جدي بې طرفي د افغانستان دپاره بهره لويه نيکمرغي ده». دا جمله ده دوه ځله تکرار کړه.

خو بيا هم په تېرواله کښاله کې د افغانستان د ورګډولو هڅو قوت وموند. برلين او استانبول کوښښ کاوه چې د جرمني تر رهبرۍ لاندې د عثمانۍ امپراطورۍ، ايران او افغانستان اتحاديه تشکيل کړي کومې چې تر جګړې دمخه په نوموړو هيوادو کې د خپل تسلط د قائمولو



Ketabton.com

د پاره هڅه کړې وه. د ۱۹۱۵م کال د اګست د شلم تاریخ په شپه د افغانستان له لویدیځ سرحد څخه چې د انګریزانو لښکرو او روسي قزاقانو دا سیمه د دښمنو عناصرو د داخلیدو څخه ساتله د هرات په منطقه کې د لومړي ځل لپاره اوټو فون نیدرمائیر او په تهران کې د جرمني د سفارت د ځوانې سکرتر و او فون هینتیګ تر مشرۍ لاندې د آلمان نظامي او سیاسي هیأت داخل شو. د جرمني افسرانو او ترکي «د یاور» کاظم بې سره بیره د هغوی سره هندي سیاسي پناه وړونکی راجا مهندرا پرتاپ او محمد برکت الله چې په برلین کې د جوړې شوي انقلابي کمیټې غړي وو هم ملګري وو. دا هیأت چې زیاتره سیار سرکښ نه ورته و (بلکه په داوه چې هغه د ورانکارۍ د هیأت په نامه یلل شوی وای) د خانه سره د راډیو ستیشن سامان آلات، کارتوس، تبلیغاتي آثار، د اغېزمنو اشخاصو د تطمیع کولو د پاره طلا او داسې نور شیان اخیستي وو. د ۱۹۱۵م کال د اکتوبر په دوهمه کابل ته



Ketabton.com

رسېدلی و. دربې هفتې وروسته هغه په پغمان کې د امیر د اوږې استوګنځي ته د ورتګ اجازه تر لاسه کړه. هیأت حبیب‌الله خان ته د جرمني د قیصر دوهم ویلهلم او د ترکیې د سلطان پېغام وسپاره چې په هغه کې حبیب‌الله خان ته په جګړه کې د ګډون بلنه او د نظامي او تخنیکي مرستې پېشنهاد شامل و. هیأت په مهربانۍ سره ومنل شو، دوی ته په قوم کې د لارښوونکو او مربیونو وظیفه ور کړه شوه او دوی ته اجازه ورکړی شوې وه چې د بابر شاه په سیمه کې چېرې چې دوی استوګنه درلوده د رادیو سټیشن جوړ کړي.

دا ددې معنی نه لري چې د حبیب الله خان نظر تغییر وموند او نوموړي فیصله وکړه چې د بریطانوي امپراطورۍ پر ضد جګړه پیل کړي. د پاچا پښځم جارج د شخصي لیک په ځواب کې چې نوموړي د «تېښتګی بې‌طرفۍ د ساتلو» په خاطر پکې صننه ځرګنده کړې وه امیر د ۱۹۱۶م کال د جنورۍ په شپږمه داسې ځواب ورکړی و چې «... موږ به



Ketabton.com

بې طرفه پاته شو او تر پایه به خپل تعهدات تر سره کړو»[1]. امیر د قیصر استاځو ته خبر ورکړ چې د انګلستان پر ضد د کومو ځینو فعالیتو څخه بېخي لاس نه اخلي. ده حتی د ۱۹۱۶ م کال د جنورۍ په ۲۴ مه د جرمنۍ سره د دوستۍ تړون پاراف کړ کوم چې لکه چې د اتازونې افغان پېژندونکی ل. و. اداميک لیکي «د هیأت ته د حیثیت د نجات سند ورکړ او د جګړې ګوند ئې آرام کړ...»[2]. لیکي په بله ورځ د هند د وایسرا د نماینده سیف الله خان سره د خبرو په ترڅ کې حبیب الله خان څرګنده کړه چې تصمیم نه لري چې په جګړه کې ورګډ شي او د جنورۍ په ۲۹ نېټه ئې د کابل په دربار کې دا خبره تائید کړه. د امیر دا ډول موقف د افغانانو د مایوسۍ سبب شو په خاصه توګه

---

[1] Mohammed Ali, op. cit., p. 151-152.

[2] Ludwig W. Adamec. Afghanistan, 1900-1923. A. Diplomatic History. Berkeley and Los Angeles, 1967, p. 93.



Ketabton.com

د هغو افغانانو چې د سرحد له هغه خوا ورسېدل او د انګرېز پر ضد جګړې ته د بلنې منتظر وو. امير جرمنيانو ته املان وکړ چې که څه هم په زړون کې ئې د دوی سره موافقه کړې خو د خپلې بيطرفۍ څخه به په هغه صورت کې تېر شي چې په هندوستان کې د انګليسانو په ضد عمومي پاڅون وشي. وروسته ئې نوی شرط زيات کړ چې هغه افغانستان ته د ډېر تعداد توپونو سره د مرمۍ او نړکې د زرګونو لښکرو راتګ وو. دا واقعيت نه وو چې پدې جرمنيان هم ښه پوهېدل او همدارنګه د انګليس حکومت هم په هغه ښه واقف و چې تر جرمنيانو پورې په هغه څه ښه خبر وو کوم چې په افغاني پايتخت کې تېرېدل. هغوی په هغه باندې سترګې پټولې او امير ته ئې پر له پسې «ډالې مرسته» رااستوله.

انګلستان چې د افغانانو سره په جګړه کې دوه ځله ماتې خوړلې وه د دوی سره د و.ای. لېنن په اصطلاح «د بې حده ممتاط»[1] وضعيت غوښتونکی

---

[1] В.И. Ленин. Полн. собр. соч., т.28, стр. 709 (روسي چاپ)



Ketabton.com

و. په تېره بیا چې د جبهاتو وضعیت او همدا رنګه د هند بحرانی سیاسی اوضاع ئې هم په نظر کې نیولې وه. خو د افغانستان په وطن پالو محافلو کې هغه وضعیت د کلکې کرکې د پیدا کېدو باعث وګرزېده. د انګرېزانو په پلوی د امیر حبیب الله خان جهت ګیری د اولس په وړانوی د ده د نورې بې اعتبارۍ زمینه برابره کړه، په تېره بیا دا چې امیر ټول دولتی امور د کمپرادوری محافلو نماینده د مالیې وزیر محمد حسین ته وروسپارل کوم چې د بیت المال غل، رشوت خور او د امپریالیستانو مستقیم اجنټ و او په افغانستان کې ئې د بریطانوی استعمارچیانو د اقتصادی او سیاسی موقف د ټینګښت لپاره فعالیت کاوه. د ریفورم په طرفدارۍ او د خارجی تسلط د نابودولو په لاره کې د مبارزینو سخت تعقیب، د اقتصادی حالت ویجاړتیا، د درباری ساعتتېریو او خوشحالو په لار د تخریب هیواد د پیسو مصرف، د اولس د پراخو پرګنو ورځ په ورځ زیاتېدونکی تخریبی او د دولتی دستګاه فساد



Ketabton.com

او اختلال - دا ټول هغه عوامل وو چې د حبیب الله خان او د هغه د اطرافیانو او درباریانو څخه د کرکې او نارضایتیه باعث وګرزېدل. امیر به تهدیدونکي پیغامونه ترلاسه کول. په ده باندې څو څو ځله سوءقصد وشو. د دې ټولو په ځواب کې نوی سرکوب او ځکونه شروع شوه...

پدې وخت کې نړۍ والی تاریخي واقعي پېښې شولې. په همسایه روسیه کې د اکتوبر انقلاب بریالی شو. د ۱۹۱۷م کال د نومبر په شلمه (د نوي جنتري له مخې د دسمبر دریمه) د ملي کمیسارانو شورا په پیتروګراد کې «د روسیې او ختیځ ټولو مسلمانو زیارایستونکو ته» خطاب تصویب کړ. د دې خطاب پته په ډاګه څرګنده وه: «د ختیځ مسلمانانو، فارسیانو او ترکانو، عربو او هندوستانیانو، ټولو هغو کسانو ته، د کومو په سر و مال، آزادۍ او هېواد چې د اروپا حریصو ځونخوارو په سل هاوو کلونو تجارت کاوه، ټولو هغه کسانو ته چې د جګړې پیل کوونکي لوټماران غواړي د هغوی هېوادونه سره وویشي». په پیغام کې د



Ketabton.com

هغو ټولو اتبارت اميزه ټرونونو د لغو کولو په باره کې چې تزاربزم په ختيزو هېوادونو باندې تحميل کړی وو رسماً اعلان شوی او آتشبينه بلنه ورکړه شوې وه چې دد ... نور بايد پنځه خوله ونه اوسئ . وخت مه تېروئ او د خپلو اوږو ځمه هغه اشغال گر چې په پېړيو پېړيو کې ئې ستاسې ځمکې نيولې ايسته وغورځوئ! نور خپل کورونه دوی ته د تاراج او لوټمارې دپاره مه ورکوئ! تاسې پخپله بايد د خپلو هېوادونو خاوندان پاتې شئ! تاسې پخپله بايد خپل ژوند لکه څنگه چې غواړئ جوړ کړئ. تاسې د دې حق لرئ ځکه چې ستاسې سرنوشت ستاسې په خپلو لاسونو کې دی! »

د ملي کميسارانو د فيصلې په اساس دا سند (سربېره په اخبارونو کې) د ورقو په ډول په مليونونو نسخو د ټولو مسلمانو اولسونو په ژبو چاپ شو. په خاصه توگه د پيغام د کلماتو ځېور انعکاسات د آسيا د خارجي هېوادونو د هغو گڼ شمېر نيستمنو زيار-



Ketabton.com

ایسنتونکو په زړونو کې پراته وو کوم چې د مسافرۍ په مقصد ترکستان او ماوراء قفقاز ته راغلی و. ډېر زیات فارسیان، افغانان، بلوچان، پنجابیان او نور د نوی روسیې په انقلابي روح مجهز شوی کورونو ته راوګرزېدل. د دوی ډېرو کسانو د یوې لوټې خوا په توګه د باربندۍ په کاغذ چاپ شوی آتشینه خط په «د روسیې او ختیځ ټولو زیارایسنتونکو مسلمانانو ته» او یا نور مواد له ځانه سره یوړل. د دې دپاره چې په همدا سې شاوخوا غرېبانو کې په شمال کې، د ارک په پوری غاړه کې، د آمو د سیند په پوری غاړه کې چېرې چې «د بالشویکانو» د واک واګې په خپل لاس کې واخیستلې د افسانوي ډوندې تحولاتو په باره کې عجیب او مبهم نګلونه د سندونو په واسطه تائید کړي.

ضمناً بالشویکانو په خپلو اعمالو دا ثابتوله چې د ختیځ د اولسو باوري دوستان دي. د دوی د هڅې له برکته له آلمان او اطریش سره د ١٩١٨ کال د مارچ د میاشتې د



Ketabton.com

۳ می نیټې د بریښت د سولې په تړون کې هغه فقرې شاملې شولې چې لاندې ځونښتنه ئې کوله چې «د افغانستان او فارس سیاسي او اقتصادي خپلواکي او د خاورې مصئونیت ته دې احترام وشي». افغان اولس په پوره توګه کړې شوای چې د نوې یعنې سوسیالستي روسیې په ملاتړ د خپل ملي حاکمیت دپاره په مبارزه کې اتکاء وکړي. لیکن امیر او د هغه نژدې کسانو د دې سره لږه دلچسپي نښوده. هغوی خپله نیکمرغي د وطن تر حیثیت لوړه ګڼله. سربېره پر دې هغوی خپله منطقه د شوروي روسیې د دښمنانو په اختیار کې ورکړې وه. د ترکمنستان د مختار شوروي سوسیالیستي جمهوریت په سرحد کې به مختلف وسله وال باندونه راغونډېدل او د زیاراېستونکو د جمهوریت په ضد ئې ارتجاعي تبلیغات کول. لکه چې و. ای. لینن د ۱۹۱۸م کال د جون په ۲۹ څرګنده کړې وه برېطانوي امپریالیستانو «چې افغانستان ئې په پوره توګه بخپله قبضه کې باله - د



ACKU

Ketabton.com

پخوا څخه ئې د ځان دپاره د یوې تېښتګې نقطې په څېر د خپلو استعماري متصرفاتو د پراخنیا او د ملتونو د اختناق دپاره او هم په شوروي روسیه باندې د حملې دپاره ساتلې وو». [1]

د دې دپاره چې د داسې فعالیتونو محه ونیسي د ترکستان د جمهوریت د ملي کمیسارانو شورا لا پخوا د ۱۹۱۸م کال د جون په میاشت کې د کښنک د کلا د ګارنیزون دارګان حرب رئیس ک. ای. سلیویځکی کابل ته استولی وو. هرات ته نه رسېدو وروسته سلیویځکی د هغه ځای والیانو ته د شوراګانو د هیواد د سیاست اساسونه او اهداف اود انګریزي امپریالیستانو د پلانونو ماهیت توضیح کړ چې غواړي افغانستان د شوروي روسیې سره واچوي. د تحقیقاتو په جریان کې د هرات والیانو دا معلومه کړه چې جهاد ته بلنه او د شمالي همسایه په ضد نور د دښمنۍ

---

[1] B. И. Ленин. Полн. собр. соч. т.37, стр.7 (روسي چاپ)



Ketabton.com

ځنې ډک احمالو د انټیلیجنس سرویس د
ګړو په واسطه د کوټې څخه صورت نیولی وو.
د سرحد پرې سیمه کې ګړپرتیا له منځه وړل
شوې وه. د ۱۹۱۸ م کال تر پایه ګ. ای.
سلیوځکی کابل ته رسیدلی وو.

د سیمې اقتصادي او سیاسي اوضاع
پېچلې وه. د افغان اولس نارضایتي چې هغه
د ښمنانو په ورانوي د امیر د سازښتي څخه
راپیدا شوې وه د مالیاتو د زیاتوالي، د نرخو
د ګرانښه، د پراخو زیاتګالونکو پرګنو د فقر او
مسکینتیا له کبله نوره هم زیاته شوه.
حبیب الله خان پرې ټولو حادثو سترګې پټولې.
د ۱۹۱۸ م کال د دسمبر په لومړۍ نیمه کې د
«د ژمګنی پایتخت» جلال آباد و خوا ته وخوځېد.
دلته ده ته نوو ساعت تېریو او تفریح او د
ټولو نه لومړی ښکار انتظار درلود. امان الله
خان د کابل د والي په توګه پاته شو. امیر د
دې دپاره چې خپل لویدلی پرستیژ ئې څه
اعاده کړي وي، د ۱۹۱۹ م کال د فبرورۍ د
میاشتې په دوهمه نیمه ئې د هند له وایسرا



Ketabton.com

لارد چیلمسفورد څخه هیله کړې وه چې په پاریس کې د صلح کنفرانس د افغانستان «د بوره خپلواکۍ د فعالیت آزادۍ او دائمي خودارادیت» په لیکلي توګه په رسمیت وپېژني[1]. انګلستان د امیر دې هیلې ته کوم ارزښت ورنه کړ مګر بخپله امیر هم پدې هکله اندیښمن نه شو

دې قصدي سیاسي عمل ونه شوای کړای چې امیر ته نجات ورکړي. د ۱۹۱۹م کال د فبرورۍ د شلم تاریخ د شپې د دوو او دریو بجو په شاوخوا کې دی په خپله ښکارۍ کړ دی د لغمان د قلعهٔ ګوش په ښکارځای کې ووژل شو. په دالاس کې د ځان ګیندي تر قتل ۴۳ کاله دمخه دې وژنې د خپل معمائي خصوصیت په اساس ځان ته د «د پېړۍ د وژنې» نوم ګټلی و. د ځینو مدارکو

---

1) L. W. Adamec. Afghanistan's Foreign Affairs to the Mid-Twentieth Century. Tueson, Arizona, 1974, p. 45.



Ketabton.com

په اساس د امیر د بستری نشاوخوا د ده
نشیږ ساتونکی پیده وو. د دوی ډیر تعداد د
بښکاری کردیدم په نشاوخوا کی ځای په ځای نشوی
وو چی ورته گردچاپیره له اوبو نه ډک ژور خندق
واو په دوالډو غاړو ځامی گزمی ولاړی وې.
کردیدم ته هیڅوک نه ننوتل او نه وتل، دا چی
امیر چا وویشتت د دقیقو تحقیقاتو سره سره
نامعلومه پاته شوه. ډیرو خلکو د امیر د لیری
کولو سره علاقه درلوده: هم د «جگړې گوند»
چی رهبر ئی نصرالله خان په جلال آباد کی بیړه
وکړه او خان ئی امیر اعلان کړ، او خپل بی عزمه
وراره عنایت الله خان ئی ترشا پریښود، هم د
امان الله خان تر مشری لاندی مترقی او
دیموکراتیکو قوتونو چی د ریفورمو د راوستلو
او د خپلواکی د حاصلولو دپاره ئی کوشش
کاوه او هم آلمانی او ترکی اجنټانو چی له حبیب الله
خان سره موافقه حاصله نه کړه د ده له لیری
کولو سره علاقه درلوده. په هر صورت که چا د
قلعهٔ گوش پیښه نه وای راضح ته کړې، بیخیله
امان الله خان وریسی په صحنه کی رابښکاره شو.



Ketabton.com

دی په هیواد کی نامتو وو او پایتخت او دولتی
خزانه ئې اداره کوله. فوځ هم د ده پر خوا ولاړ
و. پدې کی د کابل او جلال آباد د ګارنیزونونو
د پر عمده رول درلود ګومو چې د افسرانو د
اطاعت څخه سر غړولی وو. په جلال آباد کی
حتی د عسکرو کمیټه جوړه شوې وه چې
پدې سیمه‌کی ئې واقعی واک درلود او د سیمی
د اوسیدونکو د آرزوګانو تر ټولو منظم ترجمان
ګڼل کېده. دی کمیټې ارتجاعی افسران او
مامورین د نصرالله خان په شمول بندیان کړل.



ACKU

Ketabton.com

## افغانستان خپلواکي ترلاسه کوي

د ۱۹۱۹م کال د فبرورۍ د میاشتې په اته ویشتمه نېټه امان الله خان پر تخت کېنیناست او د اعلامیې د خپرولو په ترڅ کې د اولس څخه غوښتنه وکړه چې د ده د مفکورو او نظریو د عملي کولو لپاره د ده سره مرسته وکړي. «۱) د افغانستان حکومت باید په خپلو داخلي او باندینیو مسایلو کې خپلواک او آزاد وي او ټولو هغه حقوقو څخه چې د نړۍ نور خپلواک هېوادونه ورڅخه ګټه اخلي، برخوردار وي... ۳) اولس باید آزاد وي یعنې هیڅوک نه شي کولای چې پر چا باندې په خپل سر ظلم او ناروا تېر لاس اوږد کړي»[1].

امان الله خان د هند وایسرا ته په رسمي توګه

---

[1] East India. (Afghanistan). Papers regarding hostilities with Afghanistan, 1919. Presented to Parliament... L. 1919, p. 4-5.



ACKU

Ketabton.com

د خپلې پاچاهۍ خبر ورکړ او د ۱۹۱۹م کال د مارچ په دریمه ټی نوموړی ته داسې لیکلي وو چې «د افغانستان خپلواک او آزاد حکومت د دوستۍ او عاطفې د شرایطو سره سم په هر وخت کې دې ته چمتو دی چې د انګلستان د مقتدر حکومت سره داسې تړونونه او موافقې لاسلیک کړي کوم چې زموږ او ستاسې د حکومتونو د سوداګرۍ دپاره ګټوري وي».[1] د «خپلواک او آزاد حکومت» په توګه د افغانې حکومت ښودلو ته ډېرې موډې پورې بریطانوي واکداران سرګیچ کړي وو. امان الله خان د بریالیتوب ته پرته ترپوې میاشتې څه زیات د انګریزانو د ځواب ته انتظار ایستلی وروسته فیصله وکړه څو انګریزانو ته دا وښیئې چې ده کومه لفظي اشتباه نده کړې او د دوی عکس العمل ته منتظر دی. د اپریل په ۱۳مه په کابل کې د لوی دربار په وړاندې امیر اعلان وکړ چې «زه خپل ځان او خپل هیواد پوره

---

[1] East India (Afghanistan)..., p.3



۴۰

ACKU

Ketabton.com

آزادي، خودارادیت او همپله د خپلو گورنيو او باندينيو چارو اداره کولو ته رابولم. پدې ترتیب به زما هیواد د نړۍ د نورو دولتونو په څېر یو خپلواک دولت وي...». وروسته امان الله خان د لارډ چیلمسفورد نماینده و ته وپوښتل: «داوره، سفیره، ته پوه شوې او که نه، ما څه وویل؟» نوموړي ځواب ورکړ چې «هو کې، زه پوه شوم»

وایسرا یوازې د ۱۹۱۹م کال د اپریل په پنځلسمه کابل ته ځوابیه پیغام ولیږه. دا دیوې نیمې میاشتې ځنډ توهین آمیزه ښکاریده، ولې هغه تصادفي نه و. اقبال علیمشا چې د استعمارچیانو سره ئې علاقه درلوده د موجوده پرابلم په هکله د انګریزي واکدارانو ترمنځ د اختلافاتو په باره کې څه لیکلي دي. ځینو نظر درلود چې د امیر د لیک دوستانه لهجه د همدلسی عکس العمل نوښتنه کوي، نورو به وېل چې د خپلواک پاچا د اصطلاحاتو ځنې د امان الله د «قصدي استفادې» حقیقت



Ketabton.com

د بریطانیې د کنترول څخه د کابل د چارو د ایستلو د غوښتنې مفهوم لري. دا ډول تعبیر او تفسیر بریالی نشو. د دې نظریې له مخې چې پر وخت لیږل نشوی ځواب د یوه څیلواک واکدار په حیث د امیر پېژندل بلل کېدای شي انګریزانو امیر امان الله

خان ته حتی د ده د پیغام د اخیستلو خبر هم نه وو ورکړی. د ما دا مسئله (د اقبال علي شاه یادونو دا رنګه دوام وموند) د داسې مهمو شخصیتونو لکه د مستر ادوین مونټ اګیو (چې هغه وخت د هند د چارو دولتي سکرتر وو) او سر هامیلټون ګرانټ (چې هغه وخت په سمله کې د باندینیو چارو سکرتر و) سره وڅېړله. او دې دواړو په یوه سویه د هغه بې اندازې زیان په هکله افسوس کاوه کوم چې د امان الله کاملاً دوستانه لیک نه د ځواب ورکولو په نسبت منفي موقف په راتلونکې کې د دې هیواد سره



4-921

Ketabton.com

دوه ارخیزو اړیکو ته پښنښ کړی و. واقعاً هم که چیری دواړو دولتونو د عنعنوی ښو اړیکو څخه ګاڼه نه وای ګړولی نو د افغان او انګلیس دریمه جګړه به نه وه پیښه شوی»[1].

که پوزتنیو ژرګندونو ته ځیر شو نو د «مهمو اشخاصو» خوانشیینی دوه مخی وه. او هم «عنعنوی ښی اړیکی» د دواړو دولتونو تر منځ هیڅکله نه وی موجودی، حتی د تاریخ په هیڅ یوه مرحله کی هم دا شی نه دی لیدل شوی او تول دری واړه مصاحبین پدې خبره په ډېر ښه شکل پوه وو. که چیری د داسی اړیکو څخه مطلب په افغانستان باندی د لوئی بریطانیی تسلط وی، نو دا خبره خو دوی ته روښانه وه او د دریمی جګړې پیښېدل هم یو حتمی کار وو...

امیر ته د وایسرا د ۱۹۱۹ م کال د اپریل د ۱۵ نیټی لیک یو عجیب رنګ درلود. دا هیڅ د باور

---

[1] Ikbal Ali Shah. Modern Afghanistan. L., 1938, p. 101-103.



ACKU

Ketabton.com

ویل نه وو چې گویا باتجربه سیاستمدار دا نه وه درک کړې چې مطلب څه دی لیکن په هغه لیک کې چې امان الله خان ته ئې لیکلی و ده د مسایلو د ماهیت په هکله منی یوه کلمه هم نه و ذکر کړې یعنی د افغانستان د پلوه د انګلیس تر قیموصیت لاندې د نه اوسیدنې څوښتنه. لارډ چیلمسفورډ وروسته تر هغه چې د حبیب الله خان د مړینې په هکله خپل تاسف څرګند کړ زیاته کړه چې « زه په خوښۍ سره ستاسې دا اظهارات یادوم چې خپل پیغام مو د دوستۍ او علاقمندۍ د پایښت په امید رالیږلی دی چې د دواړو حکومتونو تر منځ موجود دی او موجود به وي. دا دوستي د هغو تړونونو او موافقو په اساس بناء شوې چې د مرحوم ضیاء الملة والدین له پلوه د بریطانیې د حکومت سره لاسلیک شوې او د مرحوم سراج الملة والدین له پلوه تائید شوی دی. او زه ستاسې د اظهاراتو څخه داسې نتیجه ګیرې کوم چې د افغانستان حکومت نیت لري د هغو مطابق به د پخوا په شان عمل وکړي.



Ketabton.com

تاسی ورانډی واڼی چی د افغانستان حکومت په هر وخت کی د دوستئ د شرایطو سره سم د بریطانیې د حکومت سره د داسی ټرونونو او موافقو لاسلیک کولو ته حاضر دی کومی چی د دواړو دولتونو د سوداګری دپاره ګټور وی. د دې څخه داسی څرګندیږی چی د افغانستان تجارتی اړتیاوی د بریطانیې د حکومت سره کومی داسی موافقې ته اړه لری چی دمخه یادو شوو موافقو تکمیلوونکی وی.

فعلاً زه د دې مسئلې د راتلونکی څیړنی څخه ډډه کوم. لیکن افغانی حکومت دی ډاډه وی چی زه په هر وخت کی دې ته چمتو یم چی د اعلیحضرت د حکومت څخه د هر هغه څه په باره کی دقیقه نظریه وغواړم څه چی هغه غواړی د دې دپاره چی کارونه پرمخ لاړ شی. او زما پایداری هڅی په راتلونکی کی لکه د پخوا په شان د دواړو حکومتونو تر منځ د دوستانه اړیکو د ټینګښت سبب وګرزی».[1]

---

[1] East India (Afghanistan)..., p.5.



Ketabton.com

دا اورد بيانه خو پوچ سند په آخره اندازه نمایشی و. محترم لارد د صرفه په باره کی هر ډول خبری وکړی حتی عبدالرحمن خان ته د «ضياء الملة و الدين» افتخاری لقب او حبیب الله خان ته د «سراج الملة والدين» د افتخاری لقب په هکله یادونه وکړه لیکن د هغه څه په باره کی چی هغوی جانشينی او ټول افغان اولس ئې ناآرامه کړی و هیڅ څه په خوله رانه وړل او د افغان اولس د خپلواکۍ د تر لاسه کولو د نه ماتیدونکو هڅو په مقابل کی پټه خوله پاته شو. وايسرا ټوله موضوع د کابل د «دتجارتی گټو» پر سر څرخوله. لیکن د دغو گټو په رفع کولو کی ځند اچاوه او رټه هڅه ئې کوله چی دا موضوع د نوی امیر د تطمیع د پاره وسیله وگرزوی. انگلستان امیدواره و چی امان الله خان د هغه د سلف په څیر «د تر خپل لاس لاندی» راولی. کیدای شی چی امان الله خان طلا د ډېر لوی دولت سره د نښتنی څخه نخوره وگڼی کوم چی لږ څه دمخه د ډېرو مقتدرو رقیبانو پر ائتلاف بری وموند او



Ketabton.com

کوم چې نه تمامېدونکي منابع، تجربه او پياوړي اردو لري چې په هوائي قواو سره مجهز دی هوکي هغه چې په عمومي توګه ئې افغانستان بې اندازې زيات پياوړي دي؟! داسې ښکاري چې د بريطانوي امپراطورۍ واکدارانو دا ډول قضاوت کاوه.

لارد چېلمسفورد او همدارنګه د لويد جارج د وزيرانو کابينې ونه شوای کړای هغه عظيم تحولات چې په ټوله کې منځ ته راغلي درک کړي. دوی غوښتل په زور سره د اولسونو د آزادۍ جنبش وځپي. د ۱۹۱۹م کال د مارچ په ۱۸ په هندوستان کې د «راوليټ قانون» نافذ شو. د هغه له مخې پوليسي دستګاه نامحدوده اختيارات تر لاسه کړل. افغاني سرحدي سيمو ته ئې نظامي قطعات راو-لېږدول. لندن په پراخه پيمانه د ټولو هغه ضد انقلابي قوتونو سره چې د شوراګانو د هېواد پر ضد ئې مبارزه کوله د وسلې پيسو، د جنګي مهماتو مرسته کوله او په بوله سيمو کې ئې (د هغه جملې څخه په ترکستان کې)



Ketabton.com

زغه مداخله کوله. دې ډول فعالیتونو پای ته ورسېد او په زوال محکوم وو. د اکتوبر د ستر انقلاب بری په ټوله نړۍ کې انقلابي مفکورې خپرې کړلې. د روسیې د زیارایستونکو لښکرو د سپین گارد د عسکرو او مداخله گرو په ضد په بریالیتوب مقاومت وکړ او استیرو اولسونو ته ئې ډاډ ورکړ د کومو سره چې لېښتې او دده اندیوالانو د سیاسي، دیپلوماتیکې او عملي مرستو د کولو دپاره هڅه کوله.

د ۱۹۱۹ م کال د مارچ په ۲۷مه د روسیې د شوروي فدراتیف سوسیالیستي جمهوریت حکومت په نړۍ کې تر ټولو لومړی د افغانستان پوره خپلواکي او د خودارادیت حق په رسمیت وپېژانده او د پاریس د روغې کنفرانس ته په لېږل شوي پیغام کې د شوروي روسیې سره د روغې د تړون د لاسلیک کولو د شرطونو د لومړي ټکي په حیث داغوښتنه شوي وه چې دد ټول دولتونه باید دوه اړخیزه تعهد وکړي چې د افغانستان د حکومت د پښتو د خورڅولو دپاره به د قواوو څخه کار وانخلي».



ACKU
Ketabton.com

د ۱۹۱۹ م کال د مارچ او اپریل په میاشتو کې امان الله خان د مالیې او داخلي محصول د راټولولو انحصاري حق لغو کړ، د عسکرو تنخوا ئې زیاته، افسرانو ته ئې بوه رتبه ترفیع ورکړه او د پولیسي او اداري مامورینو استبداد ئې محدود کړ. د نوموړي حیثیت د خلکو په منځ کې ډیر اوچت شو، خاصتاً کله چې ده د امپریالیستانو پر ضد وینا وکړه. امیر د بین المللي پېښو سره ډیره علاقه ښوده. د مجارستان څخه د اولسي انقلاب د بریالیتوب خبر راورسید، په جرمني کې د ۱۹۱۸م کال د نومبر د انقلاب د ماتې سره سره انقلابي وضع دوام درلود. په ترکیه کې د جنرال مصطفی کمال پر گرد چاپیره د خپلواکۍ د لارې مبارزین را ټولیدل.

هندوستان طغیان وکړ. د ۱۹۱۹ م کال د اپریل په شپږمه په ټول هند کې عمومي ملي اعتصاب وشو. د دې دپاره چې اولس وبېروي استعمارچیانو د اپریل په ۱۳ مه د امرتسر په ښار کې په سوله ایز میټنگ ډزې وکړې چې په



Ketabton.com

نتیجه کې تقریباً دوه زره کسان مړه او دوه چنده ټپیان شول. د «امرتسر دله ایزې وژنې»[1] (دا د و. ای. لینن یادونه ده) ټول هیواد ولړزاوه. په ډهلي، بمبئي، لاهور او نورو ښارونو کې ناآرامۍ راپیدا شولې او د عسکرو او پولیسانو سره نښتې پیدل کېدې. کارګران او کسب ګر د لوړې اخیستو بزګرانو د ملیوني کتلې له لوري حمایه کېدل.

او مهم تکی خو دا و چې د افغانستان شمال لور ته د داخلي او بانديني ارتجاع ټولو کوششونو سره سره ډهري ورځې په تېرېدو شوروي حکومت ټینګېده. سره اردو په ختیزه جبهه کې په بریالیتوب سره د کلچاک ارتجاعي قوځونو ته ماتې ورکوله او په منځنۍ آسیا کې ئې د شوروي ضد پانهونه نابود کړل او انګریزي تېرې کوونکي ئې د ۱۹۱۹م کال د اپریل په لومړیه نیمه کې ته مجبور کړل چې د هغه ځایه څخه خپلې لښکرې ایران ته وباسي. او د اپریل په

---

[1] B.И. Ленин. Полн. собр. соч., т. 44, стр. 5. (روسي چاپ)



Ketabton.com

۲۷مه د روسیې د فدراتیف شوروی جمهوریت د ملی کمیسارانو شورا کابل ته د دیپلوماتیک هیئت د لیږلو دپاره خاص وسایل برابر کړل. دلچسپه خو دا چې په همغه ورځ یعنی د ۱۹۱۹م کال د اپریل په ۲۷مه امان الله خان او محمود طرزی (د باندینیو چارو وزیر) د همغه جذباتی پیغام متن څېره چې د روسیې د فدراتیف شوروی جمهوریت د شورا رئیس و. ای. لینن او د ټولې روسیې د مرکزی اجرائیه کمیټې رئیس م. ای. کالینین په نامه ئې را استولی و.

امیر پر تخت باندی د خپل تسلط اعلان وکړ او داسې ئې لیکلی وو: «د که څه هم افغانستان د خپلی روح او طبیعت له نقطه نظره د خپل پیدایښت څخه راپدې خوا همیشه د آزادۍ او مساوات پلوی و مګر تر اوسه پوری د ځینو عواملو په اساس هغه دا امکان نه درلود چې د نورو دا زنګه هېوادونو او اولسونو سره اړیکی ولری، څرنګه چې تاسې اعلیحضرت او زما ستر او مهربان دوست د ستری روسیې صدر د



Ketabton.com

خپلو نورو ملګرو - دا د بشریت د دوستانو سره یو ځای د روغې د ساتلو او د خلکو د نیکمرغۍ د افتخار وړ او شرافتمندانه وظیفه په خپله غاړه اخیستې او د ټولې نړۍ د هیوادونو او ملتونو د آزادۍ او مساوات اصل مو اعلان کړی دی نو زه په ډېره خوشحالۍ د لومړي ځل دپاره د افغان اولس په نمایندګۍ چې د پرمختګ لېواله دی تاسې ته د خپلواک او آزاد افغانستان خپل واقعي دوستانه پیغام دروراستوم».

په عین وخت کې محمود طرزی د روسیې د فدراتیف جمهوریت د باندینیو چارو ملي کمیسار ګ. و. چیچیرین ته په خپل لیک کې د شوروي او افغاني دوستانه اړیکو د «ټینګنیا او پرمختګ دپاره دده د نیکو او دوستانه فعالیتونو» په باب ډاډ څرګند کړی و. دوه هفتې وروسته د و. ای. لینن په نامه د امان الله خان نوی پیغام استول شوی و.

د اکتوبر د انقلاب د لارښود څخه د ډېر زړه له کومې درناوی او بې حده احترام» تر څنګه کولو وروسته امیر لیکلي وو چې «د افغانستان



Ketabton.com

شرافتمند اولس » ته بره سوره د نورو اولسونو سره د ښادي دوه اړخیزو اړیکو د ټولو ټخه محروم و. اوس فوق‌العاده استازی جنرال محمد ولي خان د یوه خاص هیئت سره اروپا ته «د ښنااسی د سترو نویو بدلی دولت له لاري چي زمونږ دوست او ګاونډي دی » «د د دوستانه اړیکو او د دواړو سترو دولتو تر منځ د صمیمانه مناسباتو د قائمولو» او د «د دوه اړخیزه ګټو د تأمین دپاره» د زمینې د برابرولو په مقصد مسافرت کوی.

لیکن دمخه تر دې چي په حقیقي توګه «د خپل ذاتي منزلت د سره راژوندی کړی» (لکه چي امیر په پورتني سند کی هغه څرګند کړی وو) افغان اولس باید د سختې ازمایښت په مقابل کی تاب راوړی وای. بریطانوی امپراطوریه آرزو نه درلوده چي په خپله خوښه خپله قرباني د لاسه ورکړی. انګریزانو د افغانستان په سرحدانو کی خپله ۳٤۰ زره کسیزه په ټالی توګه وسله سمبال شوی اردو د ډیرو ماشینګنو، میکانیزه قطعاتو، هوائی قواء او ۱۸۵ زرو بارکښنو حیواناتو سره راغونډه کړه.



Ketabton.com

د بېر زر دا ارقام ۷۵۰ زره منصبدارانو او عسکرو او ۴۵۰ زره حیواناتو ته پوره نشول. د دې اردو په مقابل کې ۳۸ زره افغاني پیاده وو ( د دوی نیمائي خورد چاپه ټوپک او پاته نورو ئې د ۱۹ پیړۍ د «مارتینۍ او سنایدر» وسلې او یو څو زاړه ماشینګنې لرل )، ۸ زره آس سوارو او ۴ زره توپخانو چې هغه هم بنه نه وو روزل شوي او په لرغونو توپونو سره سنبال شوي وو قرار درلود. افغاني اردو الوتکې او میکانیزه قطعات نه درلودل. سره له دې هغه په ګرمه وطن پالنه مسلح وه، د هغه چاری دفاع ئې کوله او د هېواد د ټولو مترقي او آزادي غوښتونکو قواوو او همدارنګه د هېواد څخه د باندې د یادو شوو قواوو د ملاتړ څخه برخوردار و. د استعمارچیانو په مقابل کې بې حده روحي او سیاسي قوت ورکښینه.

امان الله خان او د ده پلویان د هېواد د خپلواکۍ په خاطر د امپریالیستانو سره معامله جګړې ته چمتو وو. د پخوانیو بریطانوي تېریو د تېریو په نظر کې نیولو سره امیر سپه سالار صالح محمد خان د خیبر لوړه څخه سرحد ته،



Ketabton.com

سردار محمد نادر خان د جنوب ختیځ لور د خوست د ولایت مرکز د ګردیز ښار ته او جنرال عبدالقدوس خان د جنوب لور یعنې کندهار ته واستول. لښکرې راټولېدلې، تښتنځ ګړې په ګړې زیاتېده او راز راز پېښې هم ډېرېدلې. دښمن هڅه کوله څو ختیځ افغاني قومونه د ځان خوا ته جلب کړي د کومو څخه چې د بریطانیې غیرمنظم قطعات تکمیلېدل. وایسرا د شمال لوېدیځ سرحدي ایالت عمومي کمیسار د. روس کیپل ته هدایت ورکړ چې د کابل پرضد د قومونو د پوځای کولو دپاره د هیڅ شي څخه دریغ و نه کړي: «بې حده پیسې مصرف کړئ څو دغه کار ترسره شي»[1]. نادر خان پخپل وار د ګردیز څخه «د منګو، طوطاخیلو، ځدرانو، احمدزیو، ځاځیانو او نورو جنوبي قومونو مشرانو ته د خطاب بلنه ترتیب او خپره کړه. دا د مشرانو څخه غوښتنې وو چې «د لوټي

---

1) Ikbal Ali Shah, Modern Afghanistan. London, 1938, p. 109.



Ketabton.com

مسئلې په وړاندې د خپلو کورنیو شخړو څخه تیر شي او د خپلو ټولګیو سره ګډ پر ته په مقدس جهاد کې د ګډون دپاره حاضر شي».

وروسته تر هغه چې د ۱۹۱۹م کال، د مې په دریمه ئې د خیبر په سیمه کې آخ وډبونه ولمسول انګلیس درې ورځې پس افغانستان ته د جګړې اعلان وکړ. استعمارچیانو د هغې په نتیجه کې کوم شک او تردید نه درلود. یوه بریطانوي افسر چې د جګړې جبهې ته استول کېده په هند کې یوه افغاني مهاجر داسې ویلې وو: دوی «انګریزان د افغانانو په نسبت زښت ډېر زړه سواندي وو او د دوی سره مو په نیکخواهۍ چلند کاوه ولې دوی ناشکر وو او په بې حیائۍ ئې د ټرکې د ټولو زمانو ډېر لوی نظامي قدرت ته د سیالۍ بلنه ورکړه. د دوی ځانې ځینې ده او هغوی به ډېر ژر د خپل بې سنجشه عمل څخه پښېمانه شي. زه جبهې ته ځم او پرې باور لرم چې د بلې جمعې په ورځ به په کابل کې چای وڅښم». دده هم مجلسه سر وخوځاوه او په سره لهجه ئې اعتراض وکړ چې دا لومړی ځل



ACKU
Ketabton.com

ندی چې تاسې د افغانستان د فتح کولو دپاره هڅه کوئ، خو زه یقین لرم چې دا پلا به هم تاریخ تکرار نشي»[1].

خیبر ته نژدې په ختیځه جبهه کې افغانانو د دښمن د حملې په مقابل کې سخت مقاومت کاوه. ولې د دښمن د تعداد او د مادی برترئ له کبله صالح محمد خان د سرحد څخه په شا لاړ او ډاکه ئې خوشې کړه. انګریزانو د جلال آباد خوا ته حمله راوړه. دوی په پراخه پیمانه د هوائی قواوڅخه کار اخیست او څو ځله ئې جلال آباد او کابل بمبارد کړ. مګر نیږی کوونکو د پایتخت لور ته له تنګو کړنیو درو له لارې د ورانوی تګ څخه صرف نظر وکړ.

په جنوبي جبهه کې کندهار ته نژدې د ۱۹۱۹ م کال د مې په پای کې د سپینې بولدک د سرحدی سیمې په شاو خوا کې جګړه ونښته. نیږی کوونکو پوازی د ټول ګارنیزون تر محو کولو

---

[1] Mohammed Ali. Afghanistan. The War of Independence, p. 30.



Ketabton.com

وروسته تهانه لاندی کړله. د ۴۰۰ افغانانو د جملې څخه ۴۱۴ تنه په شهادت ورسېدل ۱۶۹ تنه ټپیان د دښمن په لاس ورغلل او تنها ۱۷ تنو کوښښ وکړ ځانونه خوندی کړي. «د داسې نه ده چې د هغې مېړانې ستاینه ونه شي چې هغوی په سره جنګېدل او د تسلیم په باب حتی فکر نه کاوه او څه هم د دوی دپاره دا ډېره آسانه وه چې د آس سوارو د کمزوري مانع څخه تېر شي او کندهار ته وتښتي»[1]. انګرېزانو په پورتني ډول شاهدي ورکوله.

عمده عملیات په مرکزي جبهه کې پراخ شول. هلته سردار نادرخان چې د قومي او اولسي ایله‌جاړیانو له پلوه ئې ملاتړ کېده ابتکار په خپل واک کې درلود. دوی د سرحد څخه تېر شول او د وزیرستان په سیمه ئې حمله وکړه چې د سیمې اوسېدونکو په خوشحالۍ سره د دوی استقبال وکړ. انګرېزانو په خپل وار په څند پروپاګند لاس پورې کړ، خپلې څوکۍ ئې پیاوړې

---

[1] The Third Afghan War 1919, p. 103-104.



ACKU

Ketabton.com

کړل او دښمن قومونه ئې لوټول. دا د دې دپاره چې د قومونو په منځ کې د پخوانیو نفاقونو اور بل کړي. حتی دوی ئې تهدیدول شو چې په پیښېنو کې د برخې اخیستنې څخه واړوي. ولې هرځای جوش و خروش حکمفرما و. د مسعودو، احمدزیو، قبول خیلو، وزیرو او نورو قومونو لوی ټولګی د خپلو وسلو سره راغلل او لوړه ئې وکړه چې په زړورتوب او قربانۍ سره به وجنګیږي.

په عمومي توګه د جګړې د پیل څخه هغه سیاسي سیستم چې په افغاني سرحداتو کې استعمارچیانو په ډېره موده کې او په ډېر هاند او دقت سره جوړ او د قومونو د تطمیع څخه عبارت و په واقعي ډول ړنګ شو. «د خیبر وېښتونکی»، «د مومندو ملېشیا» او نورې مختلفې ډلې به د خپلو وسلو سره په منظم ډول د کابل د فوځ لوري ته راتللې. انګریزان مجبور شول څو چې ډېر دا رنګه تشکیلات ټول له منځه یوسي. په ټول وزیرستان کې عام ملي قیام وشو. دې امر د افغانانو د بریالیتوب دپاره ښه زمینه مساعده کړه. د شاولي خان قطعې د وانا کوټ



Ketabton.com

ونیو. نادر خان د سپین وام په نظامي څوکه
باندی هجوم وروړ او هغه ئې ونیوه، د بمبارۍ
او د دښمن د سخت مقاومت سره سره د
ټول ښار تصرف کړ او د انګریزانو ډېری ټینګی
او اساسي څوکی لور ته چې پدې سیمه کی
موجوده وه پر مخ لاړ چې هغه د ټول کوټ و.
د افغان او انګلیس د دریمی جګړې جریان
په ضمنی آسیا کی د بریطانوی یرغلګرو د پوره ماتی
او د شوروی روسیې هراړخیز ټینګښت په
هند کی آزاد غوښتونکی جنبش ته نوی الهام
وروبخښه. په هغه هیواد کی قیامونه او
اعتصابونه، د اوسپنې په لارو او د تیلګراف
په مزو باندی حملې، د اردو ځنه تښتنه او
داسی نور تر ټولو زیات پراخ شول. د بریطانوی
امپراطورۍ پرستیژ او حیثیت تر ډېری ټیټی
سوئي پوری راکښته شو. په افغانستان کی
د جنګی عملیاتو دوام چې ورسره یو ځای د محاذ
عقب ډېر ضعیف و کړای شوای چې وضعیت
نور هم خراب کړی، ولی د لوی قدرت چانس
بدې «کوچنی جګړه» کی ډېر لږ پرېښیده.



Ketabton.com

لندن پدې پوهېده چې کابل تېروګوونکې خيالونه
نه لري او يوازې غواړي چې د هغه خپلواکي په
رسميت وپېژندله شي. او پدې ترتيب د ۱۹۱۹م
کال د جون په دريمه متارکه لاسليک شوه.
هغه انګلستان چې نړيواله جګړه ئې
ګټلې وه په افغانستان کې ماتې وخوړه.
که څه هم د هغه فوځ ډاکه تصرف او کابل
بمباري کړ مګر دوی د دې امکان نه درلود
چې خپل برياليتوبونه پراخه کړي. هغه
ترانسپورتي مشکلات چې د استعمار
ضد مبارزې په هند کې منځ ته راوړي وو
د فوځ د تدارکاتو تأمين اخلال ګاوه. په
ګرمه هوا کې ناروغيد له هغې جملې کولرا (وبا)
خپره شوه. د انګريزي فوځ معنويات ډېر
ټيټ او کښښته وو. دوی غوښتل چې کورونو
ته لاړ شي نه جلال آباد يا ټل ته. په هندي
قطعاتو کې قوماندانې په ډېر احتياط سره
څارنه کوله. انګريزي آرتور سوينسن د
دې جګړې «برېش ورځې» د هغو ستو
جګړو څخه چې په سرحد کې د انګريزانو د



Ketabton.com

نسل کلی تسلط په دوره کی شوی وی بی ساری عملیات» بللی دی[1]. د منځ ته راغلی وضعی په پام کی نیولو سره انگریزی بورژوازیه کومه چې و. ای. لینن څوځله د هغری چالاکی او ماهری بورژوازیه په څیر مشخصه کړي وه فیصله وکړه څو چې تاکتیک بدل کاندی؛ په دې امید چې د روغې په څیرو اترو کی به وکړای شی په امیر باندی خپل کنترول قائم کاندی. د بریطانیې واکمنو محافلو نه غوښتل چې په هغو کی د بېړی څېړه کار واخلی. دوی داسی فرض کړی وو چې د «دمالی مرستی» نه ورکول او د هند سره د تجارتی اړیکو پرېکړه به د افغانستان د اقتصادی ماتی سبب شی او ټر هغه وروسته به افغانستان بی قیده او شرط تسلیم کړی.

دې پلان د ۱۹۱۷م کال د اکتوبر تر انقلاب دمخه د بریالیتوب ادعا کولای شوای. د شوروی روسیې تر پیدا کیدو وروسته

---

[1] J. A. Swinson, North-West Frontier..., p. 267.



Ketabton.com

دا ډول امکانات موجود نه وو څکه چې
افغان اولس ته د هغې د ورور ګلوي حمایه
او مرسته تأمین نشوې وه. د ۱۹۱۹ م کال
د می په اومه و. ای. لینن په کرملین کې
د شوروي او افغان په مناسباتو د
محمد برکت الله سره یو ځای خبرې کړې وو
کوم چې مسکو ته د امان الله خان په
دستور راغلی و. او د می په ۲۷ مه
تاشکند ته و. ای. لینن او م. ای. کالینن
پیغام ورورسید تر څو چې امیر ته مخابره
کړی شي. پدې پیغام کې درود خپلواک
افغان اولس ته چې په قهرمانانه توګه
خپله خپلواکي د بادینیو اسارتګرو
څخه دفاع کوي» او د نماینده ګانو د
تبادلې پیشنهاد شامل و. په هغه کې
ویل شوي و چې «د دواړو سترو
اولسونو تر منځ د دائمي ډیپلوماتیکو
اړیکو د برقرارېدو په نتیجه کې به د
بادینیو ښکارګرو د پلوه په پردو آزادۍ
او مال د تیري پر ضد او متقابلې مرستې



Ketabton.com

د پارو پراخه امکانات برابر شي»[1].

د شوروي او افغان مناسبات په چټکتیا او ښه سره پراختیا مومنده. د ۱۹۱۹م کال د مې په ۲۸مه نېټه تاشکند ته د افغانستان سفارت راغی او د جون په میاشت کې په هغه ښار کې د هغه جنرال قونسلګرۍ تاسیس شوه. په هغو ورځو کې له مرکز سره د ترکستان ارتباط بیا بند شول نو ځکه د شوروي هېواد په نمایندګۍ د ترکستان د مختار شوروي سوسیالیستي جمهوریت دیپلوماتیک هیئت کابل ته ولېږل شو چې د افغانستان تر خپلواکۍ ګټلو وروسته په دې هېواد کې لومړی دیپلوماتیک خارجي نمایندګي وه. پدې ترتیب د افغانستان پخوانۍ باندینۍ سیاسي ګوښه‌توب پای ته ورسېد. د ۱۹۱۹ م کال د جون په دروېشتمه د روسیې د شوروي فدراتیف سوسیالیستي جمهوریت د ملي

---

[1] В. И. Ленин. Полн. собр. соч., т. 50, стр. 385-386. (روسي چاپ)



Ketabton.com

کمیسارانو د شورا صدر و. ای. لېنن د
یا. سوریخ په نامه باورلیک لاسلیک کړ او
«د خپلواک افغانستان د اولسونو سره ئې
دیپلوماتیکې اړیکې ده ته وروسپارلې...»
او د جولای په پنځمه اخبارونو د روسیې د
شوروی فدراتیف سوسیالیستي جمهوریت
د باندینیو چارو د ملي کمیساریات یادداشت
خپور کړ چې په هغه کې ویل شوي وو چې
«د شوروی حکومت څرنگه چې د افغان اولس د
خپلواکۍ د اعلان څخه خبر شو په همغه ګړۍ
ئې د افغانستان خودارادیت په رسمیت
وپېژانده او د خپل دښمن او ستمګر پر ضد
د افغان اولس مبارزې ته په درنه سترګه
ګوري ...»
دا ټول جریانات د انګلیسي واکدارانو د
سخت عصبانیت سبب شول. دوی خپلې
ټولې هلې ځلې د دې دپاره په کار واچولې
څو چې د جاسوسۍ په شمول په هره
ممکنه وسیله د افغان او شوروی دوستۍ
د پراختیا مخه ونیسي. اقبال علي شاه



ACKU
Ketabton.com

«د بریطانیې د انټیلیجنټ سرویس عالي سیستم» ستایلي لیکلي ټي دي چې د بریطانوي امپراطورۍ واکمنو ټولنو دا ډېره ضروري ګڼله چې پدې پوه شي چې د تاشکند له لارې د افغانستان یا هندوستان څخه مسکو ته کوم ډول معلومات استول کیږي، د افغانستان او روسیې په منځ کې څه پېښیږي. «او پدې لاره کې انګریزانو له یوې وسیلې څخه هم دریغ کړی نه و تر څو چې لیکنې ته د امیر امان الله ډېر مهم پیغام په تاشکند کې د روسیې په مخفي دفتر کې تر اخیستلو پوازې دوه ورځې وروسته تر لاسه کړی». اقبال علي شاه لندن ته د وایسرا د ۱۹۱۹م کال د مۍ د ۲۱ نېټې لیږلی ټیلګرام د مثال په توګه یادوي چې پکې ویل کیږي چې د تاشکند څخه مسکو ته د رادیو په وسیله د لیکنې په نامه د امان الله او محمود طرزي د لیکونو چې د ۱۹۱۹م کال د اپریل په اومه ټې استولي وو د مخابرې خبر دې

ACKU



Ketabton.com

په ۲۱ مه حاصل کړی دی¹.

د انتیلیجنت سرویس دا «بریالیتوب» په هیڅ ډول یو تامتو کار نه ښو بللی ځکه چې پیغامونه او رادیوئي پروګرامونه د هیڅ ځه پټ نه و او شوروی حکومت د پټې ډیپلوماسۍ سره څه بنه وکړه! په هر حال د شوروی افغاني مناسباتو د برقرارېدو په ارتباط او د دې په اساس نږی والی ضمنی نه د کابل په راوتلو سره بریطانوی امپراطورۍ ضروری وګڼله چې د روغې د خبرو اترو د شروع دپاره د بېړې څخه کار واخلي. خبرې اترې د ۱۹۱۹م کال د جولای د ۲۶ څخه د اګست تر اتمې پورې. د راولپنډۍ په ښار کې روانې وې. د هغو اهمیت پدې کې وچې د انګریزی هیئت مشری د هندو حکومت د باندینیو چارو سکرتر ښاغلی هامیلتون ګرانت په غاړه درلوده او د هغه سره د وایسرا شخصي سکرتر د. میفی او ۹ نورو ملکی او

---

¹ Ikbal Ali Shah, op. cit., p. 126-127.



Ketabton.com

نظامي مامورينو همکاري کوله. افغاني هيئت
د داخله چارو د کميسار علي احمد خان په
مشرۍ له انګرېزي نوي همکارانو څخه متشکل و.
د ښېړو ليډنو په موده کې ډېر زيات
جرو بحثونه وشول. د هغوی په نتيجه کې د
۱۹۱۹ م کال د اګست د اتمې نېټې تړون
لاسليک شو. د دې تړون په اساس د
دواړو دولتونو تر منځ سوله ټينګه شوه «
امیر ته د مالي مرستې ورکړه او هغه امتيازات
چې افغانستان ته د وسلې او نظامي تجهيز
په برخه کې ورکړی شوي وو لغو شول.
انګلستان دد هيله ښکاره کړه چې بخوانۍ
دوستي بيا ټينګه کړي کومه چې دومره ډېره
زمانه د افغانستان او لوئي برېطانيې تر منځ
موجوده وه » خو هغه هم پدې شرط چې کابل
به د هغې د تأمين دپاره خپل نيت ثابت کړي.
ولی د افغان اولس د ډېره خوښتني
يعنې د خپلواکۍ د موضوع څرنګه شوه؟ د هغې
په هکله د راولپنډۍ تړون څه شی نه ذکر
کوي. آيا د امان‌الله استاځي ئې تسليم کړل



Ketabton.com

او که څنګه؟ که څه هم ګرانټ د ده په قول «درک کړی وه» چې د بریطانیې حکومت به زړه نازړه «د افغانستان د خارجي مناسباتو په هکله د موافقې څخه تېرېدو ته (یعني پر دغو مناسباتو باندې د کنټرول څخه صرف نظر کولو ته - مؤلف) غاړه کېښېږدي د کومې چې څلوېښت کاله ګلک مراعات شوی و او همدغه رنګه که څه هم ګرانټ په ټولو وسایلو سره کوښښ کاوه چې دا مدلله کړي چې ګواکې د نوموړې موافقې تأثیر له منځه تللی دی بیا هم دی ونځیله مجبور شو څو د اضافي لیک په وسیله ژمن برابر کړي په کوم کې چې د یوې سلسلې مبهمو جملو څخه وروسته داسې تاکید شوی و چې «د پدې ترتیب یاد شوی ژمن او دغه لیک افغانستان ته حق ورکوي چې په خپلو داخلي او باندنیو چارو کې خپلواک او آزاد واوسي».

ښاغلي هامیلټون ګرانټ نظر درلود چې د کابل د دې غوښتنو ردول به د هغې جګړې د تجدید سبب ګرزېدلی شي کومه چې انګلیس



ACKU

Ketabton.com

نه غوښتنه. ده فرض کړی و چې مادی احتیاجات
به افغانی حکومت دې مجبور کړی چې «د انګلستان
سره دوستی د سره ټینګه کړی». یا په بل
عبارت بریطانوی دیپلومات داسې فرضولو چې
ګواکې افغانستان به په څېله رضا د انګلیس
قیومیت ته بېرته غاړه کېږدی. خو دا د ده
اشتباه وه. ولی د بله پلوه دی حق په جانب
و. هغه دا چې په لندن کی ئې پر افغانستان
باندی د لوئی بریطانیې د کنترول ټینګه ممرف
نظر په خوابښینی سره استقبال کړ. د ښاغلی
هامیلتون رتبه ئې تنزیل کړه، د شمال لویدیز
سرحدی ایالت عمومی کمیسار ئې مقرر کړ او
هغه ته وون چې ده لاسلیک کړی و د «مقوماتی
او تصدیق ته اړ» ټرون په ټیر مشخص کړ.
او همدا رنګه د «تصدیق» په باب ئې هم هغسی
بېړه نه درلوده. پان اسلامی او پان ترکی
تمایلات چې د امان الله د شاو خوا په ځانګړو
دولتی ماموریتو کی ښکاره و انګریزانو نه ددی
الهام ورښښه چې د افغان او شوروی د
نژدېوالی د ښځه توب حساب وکړی.



Ketabton.com

ضمناً امان الله خان ښځې ته څو بېلګې چې تړلاسه شوې خپلواکۍ په خطر کې واچوي کوم ته چې استعمارچیان امیدواره وو. د افغانستان اقتصادي او سیاسي موقف روځ په ورځ پیاوړی کېده او د هغه روابطو پراختیا موندله. د ۱۹۱۹ م کال د اکتوبر په لسمه افغاني هیئت چې محمد ولي خان ئې مشر و مسکو ته سفر کړی و چې د و. ای. لېنين له خوا په ګرمه سره منل شوی و. و. ای. لېنين څرګنده کړې وه چې د روسيې کارګري او بزګري حکومت دد د افغان اولس د افتخار وړ مبارزې د لومړیو ورځو څخه چې د خپلې خپلواکۍ دپاره ئې پیل کړې وه د هغه پوره خپلواکۍ په رسمیت وپېژندله». ده اطمینان څرګند کړ چې د روسيې د شوروي فدراتیف سوسیالیستي جمهوریت نمایندګان چې افغانستان ته تللي هلته به دوستانه تړون لاسلیک کړي. واقعاً هم د ۱۹۲۰ م کال د جنوري په سر کې یا. ز. سوریڅ د خپلو ملګرو سره کابل ته ورسېد او د امیر او محمود طرزي سره ئې په خبرو اترو پیل وکړ.



Ketabton.com

یو څل بیا داسې وښوول چې د شوروي هیواد له خوا هغه محاصره چانه شوه د کومې په وسیله چې انګلستان غوښتل افغانستان د ځوا په شان تر خپل تسلط لاندې راولي او لندن مجبور و چې د حیله بازۍ څخه کار واخلي. که څېرې ځوا به بریطانوي واکمن د مختلفو مسئلو په برخه کې د کابل د غوښتنې په مقابل کې ټینګه خوله پاتې کېده او یا ئې د بې مفهومه ځوابو په ورکولو اکتفاء کوله ولې د روسيې د شوروي فدراتیف سوسیالیستي جمهوریت د هیئت د مسافرت څخه وروسته چې پراخ اختیارات ئې درلودل او د نوي روسيې سره د ټرون تړنبولو اوضاع بڼې بدله کړه. د ۱۹۲۰م کال د مې په ۹ نېټه لارډ چېلمسفورډ امیر ته پیشنهاد وکړ څو چې میسوري (هند) ته د افغان او انګلیس د مناسباتو د څېړنې دپاره یو هیئت واستوي. د بریطانوي هیئت مشري د باندېنیو چارو نوي سکرتر بناغلي هنري دوبس او د افغاني هیئت مشري محمود طرزي په غاړه درلوده.



Ketabton.com

د دوی حضور د میسوري کنفرانس ته خاص درنښت ورکړی وو (د ۱۹۲۰م کال د اپریل ۱۷ - د جون ۲٤). محمود طرزی د افغانستان د پوره خودارادیت په رسمیت پیژندلو او په لندن کې د هغه د سفیر په منلو ټینګار کاوه. هنری دوبس پدې استناد چې د دواړو هیوادونو ترمنځ د دوستۍ تړون موجود نه دی دا امکان تردید کړ. د وزیرستان او نورو خپلواکو افغانی قومو د مسئلې پر سر چې امپریالیستانو د هغوی ځمکی نیولی وې شدیدې مناقشې وشولې، په نوموړو سیمو کې ملی قیام دوام درلود. همدا رنګه د هندی انقلابی مهاجرینو د هند په آزادی غوښتونکې جنبش کې او د دوی د کابل د سازمان رول هم په مناقشو کې شامل وو. د انګریزانو هلو ځلو چې د غولولو، تهدید، د وعدو د ورکولو په وسیله څه ګذشتونه ترلاسه کړی نتیجه ورنه کړه.

د میسوري لیدنې کتنې پداسی حال کې وشولې چې د استعمارچیانو دپاره مناسبه موقع نه وه. د ۱۹۲۰م کال د اپریل په ۲۸ شوروی



Ketabton.com

دولت په آذربایجان کې نهائي بری تر لاسه کړ. د انقلابي پېښو لمن په بخارا کې پراخېدله چیرې چې فیودالي استبداد ولړزېده. په ایران کې د وثوق الدوله ارتجاعي کابینې استعفا ورکړه. د ۱۹۲۰ م کال د مي په ۲۰ ایران د روسیې د شوروي فدراتیف سوسیالیستي جمهوریت سره دیپلوماتیکې اړیکې ټینګې کړې. د پان اسلامي بلاک د جوړولو او په هغه کې د افغانستان د ورګډولو پلانونه د امپریالیستانو د نورو پلانونو په شان د انقلابي طوفانونو د هجوم په اثر سره وبجار شول. انګلیسي واکمنو د فرصت د پیدا کولو په امید چې د «افغانستان مسئله» ځمراسي وساتي. د جون په ۲۴ مه د میسوري په نهائي غونډه کې هنري دوبس محمود طرزي او د ده همکارانو ته یادګاري یادداشت ورکړ چې د افغانستان د خپلواکۍ مسئله یکې د ثانوي جزیاتو لاندې پټه کړې شوې وه. د تړون لاس لیک د نامعلومې مودې دپاره وځنډېده».[1]

محمود طرزي وروسته تر هغه چې کابل ته

---

[1] L. W. Adamec. Afghanistan, 1900-1923, p. 148-156.



ACKU

Ketabton.com

راورسېد د یا. ز. سوریڅ سره ئې خبرې اترې چې د ده د مسافرت له کبله ځنډ شوي وې له سره شروع کړلې. خبرې اترې د پوره حسن تفاهم په فضا کې رواني وې. د ۱۹۲۰ م کال د سپتمبر په دیارلسمه د شوروي او افغان د تړون مسوده ترتیب شوې وه. امان‌الله خان و. ای. لېنن ته د مبارکۍ په ټیلګرام کې څرګنده کړې وه چې «د زموږ تر منځ لاسلیک شوی تړون زموږ د صمیمو مناسباتو بنسټ کېښود. او موږ یې کې هیڅ شک او تردید نه لرو چې دا اساسونه په راتلونکې کې لا پیاوړي شي او د دې عالي اهدافو حصول به د دواړو هېوادونو د آرزوګانو د ترسره کېدلو مصداق شي». محمود طرزي په خپل وار ګ. و. چیچېرین ته داسې لیکلي و «... هغه ډېر مهم علت چې زما حکومت ئې تحریک کړ څو د روسیې د شوروي جمهوریت د حکومت سره د دوستۍ تړون لاسلیک کړي په ټوله نړۍ کې د امپریالیستي استبداد د راپرزولو عمومي سیاسي او په خاصه توګه د ختیځ د ټولو اولسونو (ربېله دې چې ملیت



Ketabton.com

او مذهب ئې په نظر کې ونیول شي) د نړیوالو وینو زبېښونکو د ظلم څخه د خلاصولو سیاست چې ستاسې د جلالتمآب حکومت هغه ته جدي پام اړولی دی».

د ۱۹۲۱ م کال د فبرورۍ په ۲۸ مه دا تړون په مسکو کې د ګ. و. چیچېرین محمد ولي خان او د دواړو هیوادونو د نورو نماینده ګانو له خوا لاسلیک شو. پدې تړون کې د دواړو خواو خپلواکۍ په رسمیت پېژندل شوې وه او دواړو خواو تعهد کړی و چې د نورو دولتونو سره به هغه نظامي او سیاسي موافقو ته نه حاضرېږي چې د دې تړون د ګډون کوونکو په تاوان وي. همدغه رنګه د قونسل مسئلې او افغانستان ته د تجارتي مالونو د ترانزیت مسئلې تنظیم شوې وې. په اومه ماده کې داسې ویل کېږي: «دواړه متعاهدې خواوې د خودارادیت په اساس او د دغو دولتونو د هر دولت د عمومي غوښتنو سره سم د ختیځ د اولسونو د آزادۍ سره موافقه لري». ګ. و. چیچېرین محمود طرزي ته د تصدیقولو په هکله



ACKU

Ketabton.com

خبر ورکړ او ډاډ ئې ورکړ چې «د په راتلونکي کې به هیڅوک هغه احساسات سست نه کړي کوم چې د افغانستان او د روسیې اولسونه ئې یو د بل سره لري او زموږ راتلونکي اړیکې به هغه دوستي نوره هم ټینګه کړي کومه چې د دواړو اولسونو تر منځ موجوده ده».

«د دواړو دولتونو تر منځ تړون به رسمي توګه هغه دوستي او متقابل احترام ټینګ کړ کوم چې د دوو ګلونو په موده کې د افغانستان او روسیې تر منځ پراختیا او ټینګښت موندلی... - د و. ای. لینن په پیغام کې چې امان الله خان ته ئې استولی و ویل کیږي - دواړه دولتونه خپلی خپلواکۍ ته ارزښت قائل دي او غواړي یو بل او د ختیځ اولسونه آزاد او خپلواک ووینی... د افغانستان او روسیې تر منځ کومی داسی مسئلې نشته چې د دواړو هیوادونو تر منځ مخالفت راپیدا کړي او یا د افغان او روسیې دوستي متاثره کړي. یخوانۍ امپریالیستي روسیه د همیش دپاره نابوده



Ketabton.com

شوه او د افغانستان د لوی دولت شمالي گاونډيه
نوی شوروی روسیه ده کومې چې د ختیز ټولو
اولسونو ته او تر ټولو لومړی افغانستان ته د
دوستۍ لاس ور اوږد کړ.

د افغانستان لوی دولت لومړی دولت و
چې د هغه له استازو سره موږ په خوشحالۍ
په مسکو کې وکتل او موږ نیکمرغه یو څکه چې د
دوستۍ لومړی تړون چې افغان اولس لاسلیک
کړ هغه د روسیې سره تړون و.

موږ ایمان لرو چې زموږ د زړه له کومې
هیلې به ژوندۍ پاته شي او روسیه به د همیش
دپاره د دواړو اولسونو د نیکمرغۍ په خاطر د
افغانستان د لوی دولت لومړی دوست واوسي».[1]

د روسیې د شوروی فدراتیف سوسیالیستي
جمهوریت سره د ښه گاونډیتوب تړون د یوه
خپلواک او آزاد هیواد په توگه د افغانستان د
پېژندنې اساس وگرزید. د ۱۹۲۱م کال د مارچ په

---

[1] В.И. Ленин. Полн. собр. соч., т.52, стр. 317–319. (روسي چاپ)



Ketabton.com

لوموړۍ نېټه په مسکو کې د افغانستان او ترکيې تر منځ د دوستۍ تړون لاسليک شو. د ترکيې له استازو سره د تړون تر لاسليک وروسته جنرال محمد ولي خان د شوروي روسيې څخه لويديځ ته لاړ. د اپريل په ۲۸مه نوموړي په پاريس کې د ر. پوانکارې سره تجارتي موافقه او د جون په دريمه ئې د ګراف سپورځا سره تړون لاسليک کړ چې د هغه په اساس د ايټاليا او افغانستان تر منځ د ډيپلوماتيکو مناسباتو برقرارول او د سفارتونو تبادله شامله وه. د ۱۹۲۱م کال د جون په ۲۲مه په تهران کې د افغان - ايران د دوستۍ تړون لاسليک شوی و.

بريطانوي امپراطورۍ چې نسبتاً* لږه موده مخکې افغانستان پوره کنټرول کاوه ناڅاپه د هغه په مناسباتو کې د «دڅلاند ګوبنده توب» په نامطلوبه وضع کې کېوته. ليکن د هغې واکمنو ټولنو هنوز ونه شواى کړاى څو هغه څه چې پېښې شوي درست ارزيابي کړي. د ۱۹۲۱م کال په سر کې د لوئې بريطانيې «د بوه فوق العاده او مختار نماينده» هيئت د افغانستان پايتخت ته



Ketabton.com

سفر وګړ کوم چې د افغان او انګلیس د ګډون د نوی څپرکي په پلمه په هره ممکنه وسیله د شوروی او افغان د دوستۍ د خرابولو د پاره هڅه کوله. کابل ته ډیر امتیازات پیشنهاد د شول لکه د هند له لاری د مالونو بې محصوله ترانزیت، ډیره لویه مالي مرسته، په لندن کې د امیر د استازي پرېښودل، په نامحدوده مقدار وسله او نظامي تجهیزات او همدارنګه د انګلستان سره د سولې «نهائی» تړون.

په مقابل کې امیر باید د هیواد څخه شوروی دیپلوماتان شړلي وای، په عملي توګه ئې د روسیې د شوروی فدراتیف سوسیالیستي جمهوریت سره د دوستۍ تړون لغو کړی وای او له هغې سره ئې تنها تجارتي اړیکې ساتلي وای او هم ئې د سرحدی قومونو په چارو کې مداخله نه وای کړې. پدې ډول دوی امان الله خان ته زیښت ډیر څه پیشنهاد کړی څو چې د هغه په بدل کې افغانستان بېرته

اسارت ته بېرته راوګرځي. د داخلي فیودالي روحاني ارتجاع قواوی او مستقیم بریطانوی



ACKU

Ketabton.com

احتمال لئول په امیر باندې د فشار راوستنې دپاره پکار اچول نشوی و. د دوی په مقابل کې مترقي وطن پالو ځلو قرار درلود. امیر د افغانی عنعنوی رواج څخه ګټه واخیستله او دمهمو مسئلو د حل دپاره ئې لویه جرګه راوبلله. د ۱۹۲۱م کال د اګست له ۷می څخه تر ۱۱می نېټې پورې د جرګې برخه والو د انګلیس په پیشنهادونو او د شوروی روسیې سره د تړون د تصدیق په هکله څېړنه وکړه. وطن پالونکو پوره برې وموند او جرګې د افغانستان د خپلواکۍ هر ډول محدودیت تردید کړ. د اګست په ۱۳مه د شوروی او افغان د دوستئ تړون تصدیق نشو. د هغه زور احترام په اساس چې د امیر حکومت د شوروی هیواد په نسبت ئې ښکاره کړ دوی د افغانستان د خپلواکۍ د ورځې جشن چې د اګست په میاشت کې باید تجلیل شوی وای د ۱۹۲۱م کال د نوامبر اومې نېټې ته راوړ.

اوس نو هغې د برېطانوی امپریالیستانو تر ټولو «دسر تمبه» عناصر (د دوی منشر لارډ کرزون په هغه وخت کې د باندینیو چارو وزیر



Ketabton.com

و ) پېدې وپوهېدل چې په افغانستان کې
بحرانې حالت نه راگرځېدل ناممکن دی. د ۱۹۲۱م
کال د نومبر په ۲۲مه په کابل کې د انگلیس
او افغان د سولې تړون لاسلیک شو
انگلستان د افغانستان پوره خپلواکي په
رسمیت وپېژندله، د هغه په خارجي سیاست
باندې د کنترول څخه ئې صرف نظر وکړ او د
دې هېواد سره ئې نورمال ډیپلوماتیک
مناسبات برقرار کړل. خالي مرسته قطع
شوه لیکن د ۱۸۹۳م کال سرحد تائید شو
(د دیورند کرښه). د ۱۹۲۱م کال د دسمبر
په لومړۍ نېټه امان الله خان د انگرېزي
هیئت په حضور کې د دې تړون د لاسلیک
اعلان وکړ او په خاص ډول ئې دا خبره په
گوته کړه چې دا تړون باید د یوه دوستانه
تړون په توگه نه بلکه صرف د دوو ګاونډیو
تر منځ د موافقې په حیث وبلل شي.
دوه میاشتې وروسته د ۱۹۲۲م کال
په فبرورۍ کې د تصویب شوو سندونو
تبادله دایره شوه. افغان اولس حیله



Ketabton.com

خپلواکی وګټله او په دې ترتیب په باندینۍ دنیا کی د هغه په خپلواکۍ د استعمارچیانو تسلط ببله دی چی بېرته راوګرزی د ابد دپاره ختم شو.

*

*　　　*

د دې حساب چی بریطانوی تجاوزګرو ځو لښکری د افغانستان د اولسونو انکشاف وځنډاوه هیڅ ممکن نوی. د دې هیواد د مادی منابعو نه جبران کېدونکی خساره، د پردیو پراخنیاغوښتونکو پرضد مبارزه کی د هغه د زرهاوو جنګیالو شهادت، د ځرېدو او تاروځو په اثر چی د نظامی فعالیتو سره ارتباط لری د هغوی کورنی تلفات، د باندینۍ نړۍ څخه د هیواد ګوښه کېدل - دا ټوله عوامل د افغانستان د ژوندانه په ټولو اړخونو لکه اقتصاد، داخلی سیاسی اړیکو او اجتماعی مناسباتو او کلتوری پرمختیاوو بی تاثیره نه شوای پاته کېدای.

دا د توجه وړ ده چی د افغانستان د



ACKU

Ketabton.com

د خپلواکۍ تر پېژندلو وروسته هم انګرېزي استعمارچيانو په کلکه د هغه د ترقۍ مخه نيوله. د ۱۹۲۸ – ۱۹۲۹ کلونو د ارتجاعي شورشي اور د دوی په هلوځلو او لاس وهنه بل شو. د هغه په نتيجه کې امان الله خان مجبور شو څو د مترقي ريفورمونو د پروګرام او تخت څخه صرف نظر وکړي. د هېواد د بېرته پاتوالي په ساتلو کې دا د انګرېزي امپرياليستانو بله «ونډه» وه د کومې په وسيله چې دوی د دې اميد درلود څو افغانستان تر خپل تاثير لاندې وساتي. په ۱۹۱۹ م کال کې د افغانستان اولسونو د شوروي روسيې په مرسته وکړای شوای چې خپله خپلواکي وګټي، د نړۍ والي ارتجاع دسيسې د دې سبب شولې چې لا لږه موده پخوا په دې هېواد کې نيمه فيودالي استبدادي رژيم دوام وکړي. د ۱۹۷۸ م کال د اپرېل (ثور) د انقلاب په ضد د بورژوازۍ نړۍ مخښناکه مبارزه د دې کبله ده چې دې انقلاب د افغانستان د اولسو زيارايستونکي قشرونه قدرت ته ورسول د امپرياليستي



ACKU
Ketabton.com

دولتونو، د هغې جملې څخه د لوټې بریطانیې دې هیواد ته د ضد انقلاب د صادرولو همدغه هلې ځلې وې چې د افغانستان حکومت ئې مجبور کړ چې شوروي اتحاد ته د متقابل عمل دپاره مراجعه وکړي.

د ۱۹۷۸ م کال د دسمبر په پنځمه په مسکو کې د شوروي اتحاد او افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت تر منځ د دوستۍ، ښه ګاونډیتوب او متقابلې همکارۍ تړون لاسلیک شو. شوروي اتحاد د ۶۰ کاله پخوا په شان، د ختیځ اولسونو سره په ضد امپریالیستي مبارزه کې د یووالي د لېنني اصل په وفادارۍ د افغانستان سره دیپلوماتیکي، نظامي، سیاسي او اقتصادي مرستې کوي. ل. ای. بریژنف څرګنده کړې چې «... موږ د نوي افغانستان سره د هغه د حکومت په غوښتنه مرسته کوو څو هغه د خارجي وسله والو تیریو په مقابل کې د خپل ملي حاکمیت، آزادۍ او د خپل هیواد د شرف او ناموس دفاع وکړي». د افغانستان اولسونه د خپل انقلاب د ارزښتونو د ټینګولو او



Ketabton.com

پراختیا د حق دپاره مبارزه کوی. پدې لاره کې به نه د امریکا د متحده ایالتو امپریالیستان دا به نړیه د تسلط دعواګوونکی، او نه چیناٸی تفوق غوښتونکی د دوی خنډ کېدای شی. د بریطانیې واکمنی ټولنی به هم د دوی د « خدمت ګذارۍ د تخت لست » او د افغانستان پر ضد د جنایتکارانه تېریو د ډېری زیاتی تجربې سره سره نه شی کولای پدې لاره کې د افغانستان خنډ شی.



ACKU
Ketabton.com

Нафтула Халфин

АНГЛИЯ ПРОТИВ АФГАНИСТАНА.
СТРАНИЦЫ ИСТОРИИ

На языке пушту

Цена 65 коп.

Ketabton.com

گران لوستونکی!

د «نووستی» د مطبوعاتو د آژانس اداره هیله لری چی تاسو دغه فورمه ډکه کړئ او په لاندینی پته ئې راولېږئ:
شوروی اتحاد ۱۰۹۰۲۸ مسکو بالشه یه پېچتوو ایه ۷. د «نووستی» د مطبوعاتی آژانس نشراتی اداره

۱) د نشریې د مضمون په هکله ستاسی نظریه

۲) د نشریې د خېړنی ډول او لهجه ئې ستاسی په نظر څنگه ده

۳) د نشریې د قطع او صحافت په باره کی ستاسی نظریه

۴) له څه وخت راهیسی تاسو د نووستی د مطبوعاتی آژانس د نشراتی ادارې خپرونی او نور چاپی مواد لولئ

ACKU

Ketabton.com

۵) په کوم ځای کې مو دغه کتاب اخیستی دی

۶) د شوروي اتحاد په هکله کومو سوالونو ته تاسي غواړئ چې د «نووستي» د مطبوعاتي آژانس د نشراتي اداري په خپرونو کې ځوابونه پیدا کړي

ستاسي مسلک عمر جنس

دائمي استوګنځی

که نیت لرئ مهرباني وکړئ د خپل فامیل نوم او پته ولیکئ

د دغې فورمې سوالونو ته خپل ځوابونه تاسي په ببل ډیک کې رالیږلی شی خو دا هېر نه کړئ چې د کتاب پوره عنوان هم راونیاست.

ستاسو له پاملرنې نه ډېره مننه کوو!

د «نووستي» د مطبوعاتي آژانس نشراتي اداره

PROPERTY OF ACKU 32336

Нафтула Халфин
АНГЛИЯ ПРОТИВ АФГАНИСТАНА.
СТРАНИЦЫ ИСТОРИИ
На языке пушту

Ketabton.com